# ځانګړنې

د کتاب نوم: شل مېليونران (زما سياسي تخيلات)

ليکوال: عبدالغفور لېوال

ډيزاين: سمسور حبيبي

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ ل

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ټوکه

خپرندوی: ودان افغانستان ګوند فرهنګي څانګه

ځای: پېنځم

{{هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرليکه کړې او يا يې پر ليکه کوي،نور
څوک يې پر ليکه کول اجازه نه لري }}

WWW.SAMSOOR.COM

# زما سیاسي تخیلات

د شلو میلیونرانو واکمني:

افغانستان روان دی چې د شلو مېلیونرو کورنیو تر هرډول واکمنۍ لاندې غاړه کېږدي

( تردې وروسته دا شل مېلیونران یو فرضي شمېر دی کېدای شي دا شمېرتر دې ډېر وي )
شل مېلیونران به دافغانستان حکومت جوړوي ( ټاکي ) همدوی به سیاسي نظام او لوی سیاستونه لوبوي ، همدوی به امنیتي او پوځي واک لري ، همدوی به بهرنۍ اړیکي جوړوي ، همدوی به قوانین ټاکي ، دخلکو استازي به ددوی استازیتوب کوي او نور ټول ( اته ویشت مېلیونه وګړي )به ددوی لپاره کار کوي یوازې اته ویشت مېلیونه وګړي نه ، بلکې داته ویشتو مېلیونو وګړیو ملي مراکز،موسسات او هېواد به هم ددوی له غوښتنو سره سم جوړیږي یا ورانیږي.

دا شل کورنۍ ولې واکمنیږي ؟

دا ځکه چې دوی له تاریخي پېښو څخه، دځان لپاره، ګټه پورته کړې ده، په حوادثو کې پړسېدلي دي او یوازې پیسې نه ، بلکې زور(ټوپک ) ، څوکۍ او اړیکې یې هم موندلي دي، یا هوښیار دي او یا یې هم یو شمېر هوښیاران اجیر کړي دي او په دې توګه یې ځانته یوه بشپړه دستګاه جوړه کړې ده ، یو څو متخصصین یې په کرایه نیولې ، همدوی ورته فکر کوي ، لاره چاره لټوي او بیا مېلیونره کورنۍ دهغو چلونه عملي کوي. لوی نړیوال قدرت (یاقدرتونو ) هم له دوی سره انډیوالي پیل کړې ده او دکار داسانۍ لپاره هڅه روانه ده چې نړیوال قدرت همدوی ته دافغانستان چارې په ټېکه ورکړي.

په خپله لوی نړیوال ځواک هم همدغسې جوړ شوی دی ، ویل کیږي چې یو مهال د پنځوسو(۵۰) لویو مېلیونرانو هېواد ګڼل کېده، او اوس د پینځو سوو(۵۰۰) لویو میلیاردرو کورنیو هېواد دی. همدا پینځه سوه میلیاردره کورنۍ په هغه هېواد (بلکې په نامخامخ توګه په ټوله نړۍ ) راج چلوي ، د نړۍ او زموږ د هېواد ټولې لانجې په حقیقت کې د همدغو کورنیو د ګټو لپاره رواني دي ، خو له بده مرغه زموږ د مېلیونرو کورنیو بنیادي توپیر له هغو کورنیو سره ډیر زیات دی لکه زموږ د هېواد او زموږ د پوهې چې ډیر توپیر ورسره شته دی.

د سترو هېوادونو له میلیاردرانو سره زموږ د شلو کورنیو تو پیرونه :

د نړۍ د سترو قدرتونو میلیاردرې کورنۍ تولید کوي ، فابریکې او کمپنۍ لري ، په میلیونونو خلک ورسره کارکوي ، قوانین لري ، اخلاقي ضوابط لري،دیموکراسي لري ، بشري ارزښتونه یې رامنځته کړي دي، قانون یې په کلکه حاکم کړی دی او پرځان یې هم پلی کوي ، خپلې ګټې یې د قوانینو په مرسته تضمین کړې دي او په ډیرو اړخونو کې یې (له یوبل سره له ډیرو اختلافاتو او سیالیو سره سره ) د خپلو ګډو ګټو او ګډ سیاسي برخلیک لپاره چلونه او لارې چارې په ګډه سره ټاکلې او ټارلې دي. د دوی لوی توپیر زموږ له مېلیونرانو سره د دوی د اقتصادي بنسټ تولیدي ارزښت دی. زموږ شل کورنۍ ـ له بده مرغه ـ په تولیدي بنسټ نه دي را پرسېدلې بلکې د دوی اقتصادي بنسټونه ( تور ) دي ؛ سرې تښتونه ، د مخدره توکیو کاروبار ، د زمکو ( دولتي یا ولسي ) نیول او راخپلول ، د سرکار څوکۍ په زور نیول او خپلو کسانو ته یې سپارل او بیا ورڅخه منظم حق اخیستل ... او بالاخره هغه ډیر شریف اقتصادي کاروبار یې وارداتي سوداګري ده ، د پوکانیو ، پاپړو اوژاولو له سوداګرۍ د رنیسه دلوکسو مرمۍ ضد موټرو تر راواردولو ، له لویو پوځي کمپنیو سره تر وندې شریکولو پورې چې د هېواد خلکو ته هېڅ راز ګټه نه شي درلودای ، زموږ له شلو مېلیونرو کورنیو څخه یوې هم د هلمند سیند او په پربکوا دښتې روانه ړولې چې یو دوه لکه جریبه شاړه زمکه کروړ کړې او ددې هېواد لس زره بزګرې

کورنۍ ورځخه ډوډۍ وخوري ، یوې میلیونرې کورنۍ هم پخپله د حاجیګک د وسپنې کان په رااېستلو ، پروسس ، ویلې کولو او افغان ګاډو ( یا بل څه ) جوړولو کارخانه جوړه نه کړه چې سل زره افغان مزدوران په ایران ، عربو یا پنجاب کې له مزدورۍ راوګرځوي او په کور دننه یې بوخت کړي ، زموږ د شلو مېلیونرانو اقتصادي بنسټ(تولیدي) نه دی ( تور ) دی یا (توریدي) دی. زموږ شلو مېلیونرو کورنیو د بکوا ، ګمبیري یا د آمو پرځنډو پرتو شنډو زمکو د سمسورولو پرځای په لویو ښارونو کې د پارکونو زمکې لاندې کړې ، یا یې ښارونو ته څېرمه پرتې کرنیزې ( زراعتي ) زمکې په زوره ونیولې ، پلاستیکي ښارګوټي یې په کې جوړ کړل او بیا یې په کورونو پسې سترېو افغانانو ته په لوړو بیو ورډالۍ کړل. زموږ شلو مېلیونرو کورنیو په کور دننه اوړه تولید نه کړل ، بلکې له قزاقستان و پاکستانه یې لارۍ رابار کړې ، د روانو اوبو مخه یې ګاونډیو ته خلاصه ورپرېښوده او بربښنا یې له ازبکستان او یا بل ستانه راوغځوله ... احتیاج ملت دوه ځله احتیاج شو په بهر کې پردیو ستانونو ته او په کور دننه د شلو مېلیونرو کورنیو رحم ته.

شلو مېلونرو کورنیو په زور ځانته تقدس وټاکه ، په تاریخ کې د خپلې ټوپکوالې ونډې لپاره یې د ځان په وړاندې د سپکاوي قیمت ډیر لوړ کړ ، له کفر سره یې معادل کړ او هر هغه چا ته یې د مرګ منظرې وروښودې چې د دوی له ګټو سره یې ټکر کولای شو ، په دې توګه یې پر دولتي ځواک منګولې خښې کړې ، په کاذب مشروعیت او نفوذیې د خلکو د استازولۍ یو شمېر( تقنیني ) څوکۍ هم راخپلې کړې ، دولایتونو حکومتونه یې هم خپل کړل ، له بهرنیو پوځي کمپنیو سره یې هم ځانونه شریک کړل او د بیارغوونې یا رغوونې په تش په نامه کمپنیو یې هم پښې وروا ړولې او په دې توګه دوی وپړسېدل ، خو ملت ته یوه روپۍ ګټه هم ونه رسېده ، په ښارونو کې پلاستیکي لوړپوړې ودانۍ هسکې شوې ،خو د خلکو ګېډې لا هم وږې دي ، جګړه هم ورو ورو د همدې شلو مېلیونرانو په ټیکه کې راځي ، سوله به هم د دوی په ټیکه کې وي او له بهرنیو سره اړیکې به هم د دوی د ګټو په خوښه ټینګیږي. همدوی به ځانمرګي او ځوانمرګي دواړه لري ، اسونه به یې د سلګونو کورنیو کیلې او هګۍ

خوري او يوګڼ شمېر سپنديان يا ښيښه پاکوونکي ماشومان به ددوی لوکسو او وروستي ماډل ګاډو ته د دود کولو يا ښيښه پاکولو له خيراته ژوند تيروي.

ددوی له استازيو څخه د څوکيو اخيستل او متخصصو افغانانو ته يې سپارل تور کفر دی ځکه چې مقدساتو ته توهين کيږي ، خو ژر دا ستونزه هم حل کيږي ، ځکه ورو ورو به ددوی خپل اجير متخصصين هم ولري ، چې لويې لويې ډيګرۍ ( تر ماسترۍ او ډاکترۍ ) پورې ولري ، ډيګرۍ به اصلي وي ، له امريکا يا اروپا څخه ، کادرونه به هم متخصص وي ، بيا به ته هېڅ هم نه شې ويلی ځکه تخصص سالاري به وي او کار به اهل کار ته سپارل شوی وي ، خو همدا اهل کار به د شلو جيبونو د ګټو لپاره کارکوي نه دا ته ويشتو مېليونه نهرو ګېډو د مړولو لپاره. په دې توګه به ورو ورو د شلو مېليونرانو د ګټو د خوندي ساتلو نظم ټينګيږي او قوانين به هم يو مهال ددوی ګټې تضمينوي ، دا اوسنۍ ګډوډۍ هم ښايي ددې لپاره وي ، چې ددې شلو واړو ترمنځ تفاهم سم نه دی راغلی او لا هم قانون ددوی د ګټو د تضمين پړاو ته نه دی رسېدلی ( نه دا چې ددوی ګټې قانوني پړاو ته نه دي رسېدلې ) ، قوانين ددوی د ګټو په وړاندې کمزوري دي او د قوانينو د جاري کولو او تطبيق ارګانونو لا هم په دې نه دي پوه شوي چې څنګه ( هرڅه د شلو جيبونو د ګټو ) لپاره تنظيم کړي. ورو ورو به شل ګوندونه ، شل انتخاباتي شعارونه ، شل پارلماني ډلې ، شل مطبوعاتي کمپنۍ ، شل مدني ټولنې ، شل د ښځو د حقونو بنسټونه او شل ... رامنځته شي او د شلو مېليونرانو ډيموکراسي به بشپړه شي ، خو ملت بايد يو څه صبر ولري. په دې منځ کې به روښانفکران (هدف ريښتيني روښانفکران دي نه لوستي او باسواده وګړي) چيرې وي ؟ په دې به وروسته خبرې کوو. دا زما سياسي تخييلات دي ، ضرور نه ده چې هرڅه دې همداسې وي ، ضرور نه ده چې زما تخييلات دې سم وي ، زه يو شاعر يم او په ځينو ټولنو کې شاعران او ليوني معاف ګڼل کيږي، نورو برخو ته يې په تمه اوسئ.

# مارکېټ

د شلو مېليونرانو دو اکمني فکري چوکاټ ( مارکېټ ) او هدف يې ( لا ډېره ګټه ) ده . چلند ، اړيکې او ارزښتونه يې په مارکېټ کې د ښه دريځ خپلولو لپاره د هڅو پر بنسټ ټاکل کېږي او په هره هڅه کې د اسنجول کېږي ، چې څومره ګټه لري. د پينځه سوو ميلياردرانو په هېواد کې هم حالات همداسې دي ، خو هلته داګټه يوازې د ميلياردرانو جيب ته نه ځي هلته يوه برخه ګټه د ټکس په بڼه د سرکار خزانې ته ځي او سرکار د نافذو قوانينو پر بنسټ د غه برخه پانګه د هېواد په خير ښېګڼه ، پياوړتيا او خلکو ته د خدمتونو د ترسره کولو لپاره لګوي ، خو دلته به هسې نه وي ، د مارکېټ لوبغاړي به يوازې او يوازې د خپل ځان په ( لاډېرې ګټې ) پسې وي او چاته به ټکس نه ورکوي ، د ټکس کومه کمزورې لايحه به وي ، خو کوم وزير يا ريس يا هم ميرزا به د دې واک ولري ، چې مېليونر ته يې ورمعاف کړي ، ځکه د غه وزير يا ميرزا به هم د ښاغلي ميليونر په زور ټاکل شوی وي او يا به هم ورځخه يوڅه ترلاسه کوي. په دې توګه شل مېليونران دولت ته څه نه ورکوي، بلکې د ځواک په وسيله د دولت په يرغمل کولو سره له هغه څخه ګټه کوي ،دلته ګورو چې شل مېليونران حکومت ته ټکس نه ورکوي ، بلکې لاهم د حکومت د وچو هډوکو په ښپيلولو سره ځان چاغوي ، د او سمهالي پراخ فساد ريښې هم په همد غه ځای کې دی ، شل مېليونران ، چې سياسي او ان ايډيولوژيک واکمنان هم دي هيڅکله ( آن د خپلې واکمنۍ د دوام لپاره هم ) د حکومت د پياوړتيا هڅه نه کوي ، دوی حکومت يرغمل کړی دی او زبيښي يې ، هغه کسان، چې د دوی په ونډه ( سهميه ) کې پر څوکيو ناست دي ،د همدې شلو مېليونرانو لپاره په مارکيټېنګ بوخت دي او ټوله هڅه يې د همدوی د ( لاډېرې ګټې لپاره ) ده ، ځکه خو يرغمل شوی نظام فاسد او ولس سرګردانه دی . د داسې وضعيت په پايله کې به حکومت د دې وس ونه لري چې خلکو ته خدمات وړاندې کړي ، نو خلک به د يوه کمزوري حکومت پر ځای د شلو مېليونرانو لپاره کارغوره ګڼي او په دې توګه به هرڅوک د خپل توان

، استعداد ، تخصص او اړیکو په اندازه له دې مارکیټ څخه برخه اخلي او دلاډیرې ګټې په معادله کې به دخپلې ونډې په اندازه ډوډۍ ترلاسه کوي. حکومت چې دشلو مېلیونرانو یرغمل شو په مارکیټ باندې خپل کنټرول له لاسه ورکوي او په دې توګه په مارکیټ کې هم دشلو مېلیونرانو راج چلیږي ،هرڅه یې چې په هرڅومره وپلورل زړه یې او هرڅوک یې چې هرډول استثمار کړل خوښه یې. شل مېلونران به وژونکې ډلې ، بدماشان او پټ جوړښتونه هم لري ، چې دمارکیټ او لاډیرې ګټې ساتنه وکړي ، حکومت تر تلپاتې ګواښ لاندې وساتي او هیڅ مخالف ځواک سر پورته کولو ته پرې نه ږدي. دلویو پانګو الو په هېوادونو کې دمارکیټ شعور دومره وده کړې ده چې یو شمېر ملي ارزښتونه یې رامنځته کړي ، هلته لوی پانګوال په دې پوهیږي چې هېواد مهم دی ، ځکه که هېواد نه وي ددوی ګټه به نه وي ، په دې پوهیږي چې یو منظم دولت ته اړتیا شته ځکه دولت هغه کارغالی دی ، چې ټولنیزنظم ،دپانګې دډیریدو بهیر ( پروسه ) ، دګټو او مارکیټ امنیت، او بالاخره له بل زورور څخه ددوی شتمني ساتي ، اړیکي یې تنظیموي او هغه کادرونه ، وسایل ، امکانات ، سیاستونه ، بهرنۍ اړیکي او پوهه رامنځته کوي چې ددوی (لاډیرې ګټې ) ته په کاریږي ، دلته په افغانستان کې پانګوال ، مارکیټ او ډیرې ګټې ترلاسه کولو جنون شته ، خو دمارکیټ شعور نه دی رامنځته شوی ، دمارکیټ رواني او فزیکي امنیت نشته ، پانګې لا افغاني شوي نه دي، ډیرو پانګو تاداو ( بنسټ ) په دوبۍ کې دی دچا کارخانه په کراچۍ او دچا ګودام په کارخانو ( پېښور ) کې دی ، څوک لاهم په اماراتو کې اوسي بل یې په اروپا یا کوم ګاونډي هېواد کې ، په دې توګه پانګه دلته اقتصادي دوران نه لري او ګټه یې هېواد او ولس ته نه رسیږي ، بس لکه دواورې توپ دلته راشي کولې راکولې شي، نوره واوره له ځانه سره ټوله کړي او غټ شي بیا نوبېرته ووځي ، په دې توګه نه پانګه افغاني شوه نه یې شعور ، نه داهېوادچا خپل وګاڼه او نه یې ملي ارزښتونه وساتلی شول. دشلو مېلیونرانو پانګه دلته ډیریږي ، خو سود یې ددوبۍ او نورو هېوادونو بانکونه اخلي ، د ولس له وینو څخه دغه خړوبه شوې پانګه دنورو دامنیت ، ملي ګټو او پرمختګ لپاره کارول کیږي. دشلو مېلیونرانو نازولي بل چېرته لوییږي ځکه خو ملي ارزښتونه نه شي پیژندلی، دوی نه شي پوهیدلای چې افغانستان او افغانان مهم دي ، ځکه که هغوی نه وي

نو ددوی ګټې به وچې شي. په دې توګه دشلو مېليونرانو په دې ډول واکمنۍ کې ورو ورو ملي شعور کمزوری کيږي ، ملي ارزښتونه له پامه لوېږي او دافغانستان او افغان انسان لپاره دخدماتو ځای مارکيټ او لاډيره ګټه نيسي.

دمارکيټ او ډيرې ګټې په غوغا کې ،که دملي ارزښتونو او ملي ګټو مفاهيم ورک شول ،نو څه به پيښ شي ؟

شل مېليونران دبېلابېلو قومونو ، مذهبونو، ژبو ، سيمو او سياسي ډلو ډلګيو ټيکه داران او دمشرۍ دعوادار هم دي ، داهغه زميني دي چې دوی يې دخپل کاذب نفوذ لپاره کاروي او يو شمېر خلک پر ځان راټولوي. دملي محور ، ارزښتونو او ځواک په کمزوري کېدلو سره دا سيمه ييزې، قومي ،مذهبي او ژبنۍ جاذبې پياوړې کيږي ، خلک چې ديوځواکمن ملي حاکميت ځای تش ويني نو دخپل ژوند ، شتمنيو او کورنيو دساتلو لپاره ديو مېليونر رعيت ګرځي ، هغه په خپله پاچاهي مني او په دې توګه خلک دسيمې ، مذهب ، ژبې ، قوم او سياسي تړون پر بنسټ ډله ډله دهغوی دربار ته پناه وړي ، ورو ورو شل مېليونران په کوشنيو ارباب الانواعو او اميرانو بدليږي ، دځان په ګټه دپروپاګندې پياوړې هډې ( ټلويزيونونه ، رسنۍ او تبليغياتي ډلې ) جوړوي ، خپلې ګټې په مقدساتو کې شماري او دخپل مارکيټينګ لپاره هره هڅه لوی ثواب او اجر ګڼي. هر يو له ځان سره دخپل رعيت دساتلو لپاره سياسي اکټونه هم کوي ، کله دهغوی دحقونو په نامه اعتصابونه کوي، کله به خيمې دروي ، کله به دنورو قومونو په وړاندې ټوپک رااخلي ، کله به دکوم مذهب يا قوم دسپکاوي په بهانه حکومت ګواښي او کله به دافغانستان دکومې برخې د جلاکولو هڅه کوي. کله به دفدريشن خبرې کوي کله هم دکانفدريشن...

دمارکيټ او ډيرې ګټې بې قانونه او بې نظمه کړۍ همداسې بشپړيږي ، دملي حاکميت له کمزوري کېدو سره به شل مېليونران پياوړي کيږي ، دملي ارزښتونو او لويو هېوادنيو ګټو له هېرېدو سره به دوی ته پام ډيريږي او ددوی دګټو او مارکيټينګ ګراف به لوړيږي.

نوی نسل به هم د شلو مېلیونرانو له ګټو سره روږدي رالويیږي ، دوی به د مارکیټ په اخلاقو ځان پسولي او د شخصیت معیار به په مارکیټ کې د چلېدو په ترازو تلل کیږي.
درالوییدونکي نسل قهرمانان به شل مېلیونران وي او په دې توګه به هرماشوم هڅه کوي چې په راتلونکي کې په همدا سې یوه مېلیونر یا دهغه په ترټولو ښه خدمتګار بدل شي.

په بې نظمه ، بې قانونه ، بې اخلاقه ، بې عاطفې او بې عقیدې مارکیټ او دډېرې ګټې په سیاسي منطق کې د شلو مېلیونرانو له واکمنۍ او ځواک سره دملي حاکمیت شتون او پیاوړتیا معکوس متناسب دی ، یا به داوي یاهغه ، له لويیو پانګوالو هېوادونو سره دکمزوري افغانستان توپیر په همدې کې دی چې هلته ملي ګټې دمېلیاردرانو له ګټو سره موازي او غبرګې دي ، خو دلته یو دبل په وړاندې ، یو دبل له منځه وړونکې او یو له بل سره په ټکر کې. داچې دا اړیکه څنګه سمبدای شي ؟ په نورو برخو کې به یې سره ګورو.

# میم زرما ټوله زما

په وطن کې دا علمي اصل مخ په هېرېدو دی چې: ترهغو چې چاپېریال او ټولنه هوسا نه شي ، دوګړي ( فرد ) نیکمرغي او هوساینه شونې نه ده.

شل مېلیونران یوازې د ځان ،خپلې کورنۍ او تالي څټونکیو دهوساینې لپاره هڅه کوي ، په دې توګه دوی پړسیږي ، خو دژوند چاپېریال یې ببوزلی پاتې کیږي ، دوی به خوشاله وي خو نور به یې چارچاپېره ورځ په ورځ پریوځي او ژوند به یې توریږي.

دعامه خدمتونو منطق همدا اسې کمزوری کیږي ، دټولو لپاره سړک جوړول سخت دي ، خو ددې لپاره چې مېلیونر په تکلیف نه شي ، نو په جاپان کې به ددا سې یوه موټر فرمایش ورکړي ،چې په خرابو سړکونو کې هم دروان تخت په څېر هوسا وي ، مېلیونر خو هسې هم په جرمني یالړ تر لږه په هندوستان کې خپل روغتیایي چک اپ کوي ، منځنی پوړ هم ځان تر پېښبوره رسولای شي ، نو دلته په ولایتونو او ولسوالیو کې روغتون ته اړتیا نشته ، هغه څوک چې بهر نه شي تلای ، هغه دژوند حق هم نه لري ، په دې توګه ګورو چې دعامه خدمتونو اړتیا کمیږي او دخدمتونو درسولو کړۍ یوازې دشلو مېلیونرانو تر خپل خپلوانو را کوشنۍ کیږي.

زموږ د مېلیونرانو بدمرغي همدا ده چې دوی دلویو میلیاردړانو دهېواد دپانګوالو په څېر دلرې راتلونکې په اړه فکر نه شي کولای او دغه لاندینۍ پېښې نه شي سنجولای:

دعامه خدمتونو کمزوري د حکومت او ولس ترمنځ واټن ډېروي ، دا واټن دمدني نافرمانۍ اوبیا وروسته تاوتریخوالي ، مزاحمت ، دجرمونو او جنایتونو دډېرېدو ، دټولنیزې ګډوډۍ ، دقانون دکمزورۍ او په پایله کې د دولت دکمزورۍ لامل ګرځي ، کله چې دولت کمزوری شو ، مخامخ دمېلیونر ګټې زیان وینې ، ځکه فزیکي او رواني امنیت له منځه ځي

، د پانګې دوران کمیږي ، بشري ځواک کمزوری کیږي او د مېلیونرانو توره او توریدي ګټه هم له منځه ځي. دلویو پانګوالو په هېواد کې دلاډیرې ګټې ترڅنګ دګټې استمرار او دوام هم په پام کې نیول کیږي ، هلته لویې کمپنۍ او میلیارډران هڅه کوي چې ټولنیز نظم وساتي ، دوی دخپلې پانګې یوه برخه دعامه خدمتونو دزیاتولو لپاره لګوي ، همدوی له حکومت سره مرسته کوي چې قانو نمنده نظم وساتلای شي. همدوی ټولیز بنسټونه ( انفرسترکچر ) پیاوړی کوي ، لویې لارې ، دا ینرژي زیرمې ، کرنه ، عامه روغتیا ، چاپیریال ساتنه او نورې زیربناوې پیاوړې کوي ، ځکه دوی باور لري چې د ټولنې په ښېګڼه کې ددوی ګټه استمرار مومي او لاپسې زیاتیږي. یوه باثباته ، پرمختللې او مصرفي ټولنه ددوی دګټو ضمانت کوي. همدوی حکومت جوړوي ، همدوی یې پیاوړی ساتي او همدوی یې کنټرولوي ، د پانګوالې دیموکراسۍ ځانګړنه همدا ده چې دواک په پروسه کې دولس استازیتوب پانګوال پر غاړه اخلي. خو زموږ مېلیونران وارخطا دي ، پر خپله ټولنه ، حکومت ، او هېواد باور نلري ، دوی فکر کوي چې هره شیبه د حکومت دله منځه تللو ویره شته ، هېواد تر بل تاړاک لاندې راتلای شي او په دې توګه ددوی پانګه هم تر ګواښ لاندې راتلای شي ، همدا ویره به وي چې دوی نه په زیربنا کې مرسته کوي ، نه د حکومت په ځواکمنتیا کې ، نه دقانونواکۍ په پیاوړي کولو کې ، نه هم دولس دژوند دښه والي لپاره ، حکومت او قانون ددوی لپاره کوم ځانګړی ارزښت نه لري ، په دې توګه هماغه حکومت چې دوی جوړ کړی دی پخپله یې کمزوری کوي. یوه بله ستونزه دا ده چې زموږ د مېلیونرانو بهرني اړیکې ډیر ضدونقیض او یو له بل سره په ټکر کې دي ، دا چاره پخپله دوی دې ته نه پرېږدي چې دیو کاري ټیم بریالی حکومت رامنځته کړي.

دشلو مېلیونرانو حاکمیت نوی دی او تجربه نه لري ، په دې نه پوهیږي چې وګړنیزه ( فردي ) نیکمرغي له ټولیزې هغې پرته نه شي راتلای ، که سړکونه خراب وي نو تل به دښاغلي مېلیونر وروستی ماډل ګاډی سپېره وي او دده نازولې پوزې ته به دکثافاتو بد بوی مزاحمت کوي.

زموږ مېلیونران دې ته خوشاله دي چې له ټکس ورکولو څخه په بریالیتوب وتښتي ، خو په هغه تاوان نه دي خبر چې د ټکس نه ورکول یې ببرته د همدوی ګټو ته وررسوي. زموږ مېلیونران په دې نه شي پوهیدای چې که دوی یو پیاوړی او یولاسی حکومت جوړ کړي ، دا ببرته د دوی په ګټه ده ، ځکه پیاوړی حاکمیت به خلکو ته خدمتونه ورسولای شي او د خلکو رضایت به د دوی د پانګې غوړیدو او وړیریدو ته لاره هواره کړي. زموږ بد مرغي همدا ده چې دلته نه کمونیزم په خپل شکل کې راغی او نه هم پانګوالي ، نه موډیموکراسي بریالۍ کړای شوه ، نه هم دیکتاتوري ، هرڅه په وران او سرچپه توګه رانوځي ، اوس د پانګوالي ( د شلو میلیونرانو دواکمنۍ کومیډي ) د ډیموکراسۍ له لیونتوب سره یوځای په تش میدان پاتې دي ، د دواړو لپاره لازم بستر ( قانون او حاکمیت ) نشته.

ددې ستونزې یو لامل هم دادی چې زموږ د مېلیونرانو ( ګټه ) افغاني سرچینه نه لري ، افغاني ټولنه یوازې لګښتي ده اوبس ، یوازې په هغو پاړو شخوندوهي چې مېلیونر ورته له کوم ګاونډي هېواده راوړي دي.

په دې توګه موږ د دغه ګډوډ حالت د پای ته رسولو لپاره لاندینیو لارو چارو ته اړتیا لرو:

- شل مېلیونران ښایي دیو پیاوړي حاکمیت او قانومنده نظام په ګټو پوه شي او د هغو په جوړولو کې ونډه واخلي ، یوه لاره یې د منظم ټکس ورکولو ژمنه ده.
- شل مېلیونران ښایي له کاوبايي پېر څخه ووځي او د ډلو ، ډلګیو او قوم بازیو له انحصار څخه ځان خلاص کړي او د یوه هېواد په ساتلو کې ونډه واخلي ( کاوبايي پېر: په امریکا کې د کاوبایانو وسله والې ډلې ورو ورو پر پراخو ځمکو حاکمې شوې ، او د خپلو ګټو د ساتلو لپاره یې د حاکمیت په پیاوړي کولو کې خپله ونډه وپېژندله. )
- د شلو میلونرانو د ګټو سرچینې ښايي افغاني شي ، مانا دا چې د دوی د ګټې برخلیک ښايي د هېواد او ملي حاکمیت په برخلیک پورې وتړل شي. ( خاطره: یوه ورځ دیو ډیر زورور مېلیونر له کوم انډیوال سره په خبرو بوخت وم ، ما ویره ښوده چې

دا میلیونر به دبلې ګډوډۍ په مهال بیا ټوپک راواخلي او بیا به نو..... دمېلیونر اندېیوال ډاډ راکړ ؛چې نه ، هېڅکله به داسې ونه شي ، ځکه مېلیونر په ښار کې ډیرې ودانۍ او جایدادونه لري او که جګړه پېښه شوه نو دا هرڅه به زیان وویني...

دې خبرې ماته درس راکړ ، چې که دمېلیونرانو ګټه او تاوان له ولس سره موازي او منطبق شول ، بیا به همدوی د کړکېچ مخه نیسي او له جګړې څخه به ځان ساتي . )

- توره ، مافیایي ، توریدي او په بهر کې زیرمه شوې پانګه ښایي په تولیدي ، مشروع ، ملي ،او دمصرفوونکي ( مستهلک ) په ګټه سیالۍ لرونکې پانګه واوړي. دا هغه وخت شونې ده چې حکومت په اقتصادي سیالۍ کې ور ننوځي ، له مېلیونرانو سره دحکومت متعادله اقتصادي سیالي څوګټې لري ؛ یوخو دمېلیونرانو دسیاسي استبداد مخه نیولی شي ، بله دا چې دتولیدي دوران او اقتصادي فعالیت ګټه مستهلک ته رسیږي ، مارکیټ ثبات مومي او توریدي اقتصاد په تولیدي هغه بدلیږي ، دا هېڅکله دخصوصي سکتور دودې په وړاندې دخنډ رامنځته کولو په مانا نه ده ،بلکې خلکو ته دګټې رسولو لپاره دسراسري اقتصادي سیستم میتود دی.
- داټول هغه وخت شوني دي چې موږ دا ټولنیز منطق پیاوړی کړو چې له ټولیزې (دټولو ) له هوساینې او رفاه پرته وګړنیزه ( دیوه فرد ) هوساینه او رفاه ممکنه نه ده. یوازې دودانو او پرمختللیو هېوادونو اوسېدونکي ارامه ژوند درلودلای شي.
- له عقیدوي ، اخلاقي ، دودیز ، عاطفي او تاریخي پلوه زموږ په سپېڅلیو دیني احکامو ، اخلاقي اصولو ، افغاني دود دستور او بشري احساساتو کې دنورو د هوساینې او نیکمرغي لپاره هڅه کول هم لوی اجر لري او هم دروان او ضمیر ارامي او سکون ،مانا دا چې له رواني او معنوي پلوه هم زورور او پانګوال هغه وخت دارامۍ احساس درلودلای شي چې دژوند چاپیریال یې هوسا او هېوادوال یې دانساني ژوند له ښو شرایطو څخه برخمن وي. ځکه خو دپورتني منطق دپیاوړتیا په هڅه کې دیني علما ، رسنۍ ، ښوونکي ، مخور او سپین روږي خپله ونډه ترسره کولای شي.

پلار او مور لومړني مربيان دي چې خپل ماشومان د پورتني اصل پر منطق سنبال روزلی شي.

اوس نو پایله اخلو چې ؛ د شلو مېلیونرانو خپله اړتیا او د ګټو دوام د دې غوښتنه کوي چې د وی د خپل ژوند او اقتصادي فعالیت د چاپیریال او شاوخوا انساني ټولنې د نیکمرغۍ او رفاه لپاره فکر او عمل وکړي ، دا برخه تخیلات په دې پایلونې پای ته رسوو ، چې محروم ، وږی ، وزګاره ، بې پوهنې او بې قانونه چاپیریال او ولس د شلو مېلیونرانو ګټو او مارکیټ ته تر ټولو لوی ګواښ پېښولای شي. نور نود ،میم زرما ټوله زما ، حرص بې مانا دی.

# روښانفکران

په ټولنه کې دزورورو مېلیونرانو داستبداد او انارشۍ تر ټولو لوی مخالفین ریښتیني روښانفکران وي ، هغه روښانفکران چې دعدالت او اصلاحاتو لپاره مبارزه دخپل ژوند اصلي هدف ټاکي او په دې لاره کې ګډېږي او همغږې هڅې کوي.

نامتو اګزستنسیالیست فیلسوف ژان پل سارتر ویلي و : " روښانفکر هغه دی ، چې دهرې ټولنیزې بېعدالتۍ پروړاندې (نه ) وواییي ، همدا یوه شرافتمندانه ( نه ) له هغو سلو ( هو ) ګانو څخه غوره ده چې دبېعدالتۍ په شتون کې یې وایو. "

اوس نو سوال پیدا کیږي چې موږ څومره داسې روښانفکران لرو؟ ښایي ډیر کم او یاهم ښایي هېڅ ؟!

په دې برخه کې غواړم ترهمدې مقولې لاندې دافغان روښانفکرانو په لټون پسې ووځم او بیا یې زموږ دشلو مېلیونرانو په واکمنۍ کې پرونده تم شم.

دروښانفکرانو دویښتیایي ، روښانتیایي او بدلون راوستونکې ونډې او مسئولیت له مخې پایلې ته رسیدلای شو ،چې موږ روښانفکران نه، بلکې لوستي ( تحصیل کړي ) خلک لرو ،چې نه شي کولای دمثبت بدلون لپاره سره منسجم او هماهنګه عمل وکړي.

زموږ هېواد دناخوالو ټاټوبی دی او که دشلو مېلیونرانو بېقانونه واکمني په کې لانوره هم ټینګه شوه نو دا به دناخوالو ، کړکېچونو او بدمرغیو تر څنګه دبېعدالتۍ ټاټوبی هم شي. دسارتر له وینا څخه ښکاري چې دی دروښانفکرانو پر اعتراضي ونډه حساب کوي ، خو دا اعتراض (پروټسټ) نه ښایي یوازې دشکایت تر بریده راکوشنی وګڼو ، بلکې روښانفکري اعتراض هغه دی ، چې دسوله ییزو ، مدني منظمو فکري خوځښتونو په مرسته دعملي پرمختګ او مثبت بدلون لپاره لاره هواره کړي. همدا اوس زموږ ښاغلي تحصیل کړي یوازې دشکایت تر بریده اعتراض کوي ، خو دیوه روښانفکره ملي نهضت

ځای لاهم تش دی چې پر علمي بنسټونو ولاړه مبارزه وکړي ، شته حالاتو ته ( نه ) ووايي او ټولنه له دغو ناخوالو څخه دوتلو او مثبت بدلون په لوري رهبري کړای شي. شل مېليونران له پخوا څخه له پوځي جګړې سره بلد دي ، دوی له ټوپکو او وسلو څخه ډير نه ويريږي ، خو له همداسې يوه روښانفکره نهضت څخه ډيره ويره لري ، چې د دوی د بې سرحده ، بې نظمه ، بې قانونه او بې عاطفې ګټې مخه د قانونمندې ګټې خواته ورګرځولای شي.

زموږ يو شمېر تحصيل کړي چې غواړي د معترضو روښانفکرو پېښې ( اکټ ) وکړي ،نو په يوازې سراو فردي عمل کوي ،دوی لاهم په ګډ ، منسجم ، منظم ، ګوندي او همغږي خوځښت باور نه لري ، بله ستونزه دا ده چې زموږ د معترضو تحصيل کړيو اعتراض علمي بنسټ نه لري ، ديوې تدوين شوې کړنلارې پر بنسټ عمل نه کوي او د بدلون راوستلو لپاره طرحې نه شي وړاندې کولای. شلو مېليونرانو د همداسې روښانفکرانو په تشه کې ميدان شغالي ليدلی او ډګټو په دې تش ميدان کې خپل وحشي اسونه هرې خواته چې زړه يې وي ځغلوي او هرڅوک يې چې ترپښو لاندې کړل پروا يې نه لري.

زموږ تحصيل کړی تر هغو معترض وي ، چې کوم مېليونر يې په تقرر ،تطميع ، څه ورښلو يا موقف ورکولو راضي کړي او يا يې ووېروي ، د سيسټې ورته جوړې کړي ، بدنامه يې کړي ، په عامه ذهنيتونو کې يې وټکوي او يا هم عامه ذهنيت داسې جوړ کړي چې تحصيل کړي معترضان بې ارزښته ، ناتوانه او بې اغيزې وښيي. زموږ تحصيل کړي يا ماړه شي ، يا وويريږي ، يا ناهيلي او ستومانه شي او په دې توګه خپل فردي اعتراض پريږدي. حال دا چې ريښتينی روښانفکر تر هغو خپلې ګډې مبارزې ته دوام ورکوي ،چې خپلې انساني موخې ته ورسيږي.

زه په ملي شورا کې يوښاغلی پېژنم ، په بهر کې يې تر ډکتورا پورې درس لوستی او هرې ببعدالۍ ته يې د ( نه ) ويلو شعار پرسر نيولی ، پخپله هم ککړ نه ښکاري او پرخلکو هم ګران دی ، خو لويه ستونزه يې دا ده چې يوازې دی ، ( فرد ) دی او دچا سترګه نه ترې سوزي ، څوک يې ليونی بولي ، څوک يې پر ځان مين او څوک هم هسې د تصنع او تکلف پر بنسټ

ولاړ سیاستوال ، زه دلته د دغه ښاغلي تحصیل کړي په اړه دارزونې هڅه نه کوم ، خو دومره هرومرو وایم چې دغه ښاغلی ډیر شکاک دی او په هیڅا باور نه شي کولای ځکه نو خپلې هڅې له ( بل ) سره نه شریکوي او په دې توګه ، د خپلې ټولې مبارزې په اوږدو کې یې هېڅ بدلون ته لاره هواره نه کړه او کومه اصلاح یې رامنځته نه شوه کړای.

دزوررو مېلیونرانو هم اوس حیانه ترې کیږي او په عامه ذهنیت کې یې ځپلی دی. دا ترټولو لوی درس دی چې دیوه روښانفکره ملي نهضت درامنځته کولو لپاره یې ښایي واخلو. که دیاد ښاغلي اغېز ، هوډ او پوهه په زرو کې ضرب شوې وای نو کولای یې شول چې په مېلیونونو وګړیو کې نفوذ و کړي او دیوه منظم ویښتیایي ، روښانتیایي بهیر په تېرولو سره بدلون ته لاره هواره کړي.

## زما خیالي روښانفکران ،

شلو مېلیونرانو حکومت یرغمل کړی دی ، خلک ورځ تربلې دبدمرغۍ لور ته ورنږدې کیږي ، دحکومت دکمزورۍ له امله بهرنۍ لاسوهنې روانې دي ، په کور دننه کمزورتیا بهرنیو یرغلونوته لاره هواره کړې ده. په دې کړکیچ کې موږ څو اړخونه پېژنو( یرغمل شوی حاکمیت، شل مېلیونران، خلک او بهرني عوامل )

که په افغانستان کې روښانفکران وای ، سره همغږې ، هدفمنده او علمي مبارزه یې کولای نو پوهیږئ چې حالات به څنګه وو؟ راځئ چې ویې ګورو :

ترهرڅه مخکې به خلکو دهغوی په شتون کې دیوې ملي او روښانفکرې مشرۍ ادرس پیژانده ،چې په هر ه سخته کې پرې راټول شي. همدې روښانفکرې کړۍ به له حکومت سره مرسته کړې وای چې ځان د شلو مېلیونرانو له یرغمل څخه خلاص کړي. ان چې همدې روښانفکروځواکونو کولای شوای دملي بدمرغۍ له اصلي عواملو ( شلو مېلیونرانو ) سره

هم مرسته وکړي ، چې دیوې قانونمنده حاکمیت په دننه کې له خپلو پانګو څخه دخلکو په ګټه روا او مشروع کار واخیستلای شي او په دې توګه دیوه پیاوړي او ملي حاکمیت په مرسته دبهرنیانو دلاسوهنو مخه هم ونیولای شي.

عجیبه داده چې زموږ ملي بدمرغي څو اړخیزه ده:

له یوې خوا تېرو پینځه دیرش کلنو پېښو دشلو بېرحمو ، بې عاطفې ، بې قانونه او بې عقیدې مېلیونرانو ترحم ته کینولي یو . له بل لوري یې دداسې لیونیو ګاونډیو لیوانو په منځ کې راایسار کړي یو چې سر پورته کولو ته مو نه پرېږدي. بله خوا دپنځوسوو میلیارډرانو دهېوادونو تر وسپنیزو موزو لاندې داسې پریوتي یو چې هغوی موټولې چارې په لوی لاس همدغو شلو مېلیونرانو ته داسې په ټیکه ورکړې دي چې دهغوی په مرسته هرکله او به خړې او کبان ونیولی شي... خو له دې ټولو بدمرغیو ستره بدمرغي مو دا ده چې لاهم وطن دداسې ریښتینو ، ژمنو او سره متفقو روښانفکرانو له وجود څخه تش دی چې وکړای شي په تدبیر او پوهه دولس استازیتوب وکړي او له دې بدمرغیو څخه مو رابهر کړي.

په دغسې یو اشفته بازار کې څنګه کولای شو ( افغان تحصیل کړي ) د (افغان روښانفکرانو ) دریځ ته ورپورته کړو ؟

هغه ورک روښانفکران چې موږ له دې بدمرغۍ څخه ایستلای شي څنګه بیا موندلای شو ؟ همدا زموږ یوه ملي پوښتنه ده ، دې ته به دتخیلاتو په نورو برخو کې دځواب موندلو هڅه وکړو ، خو که تاسو قدرمنو لوستونکیو ته دریښتینو روښانفکرانو پته معلومه وي ، یا یې پېژنئ ، راځئ له موږ سره یې شریک کړئ ، په دې اړه ستاسو دغبرګون په هیله.

# معنویات

که څه هم ما په تیرو برخو کې پردې لږ و ډیرې خبرې کړې ، چې د شلو مېلیونرانو په واکمنۍ کې ناروا مادي ګټې او پخپله د( ګټې ) تلوسه دمعنوي ارزښتونو ځای نیسي ، خو داچې معنویات څه دي ، څومره ارزښت لري او موږ له کومو ستونزو سره مخامخ یو ؟ یوه ځانګړې بحث ته اړتیا لري ، چې دادی دلته به پرې خبرې وکړو.

معنویات دانساني ژوند دهغو ارزښتونو ټولګه ده ، چې په باورونو، عواطفو ، احساساتو ، غریزو ، افکارو ، پوهه او شعوري زیرمو کې ریښې لري او دانسان دشخصیت جوړیدنې پر بهیر مخامخ اغیز ښندي. داپېژندنه فردي وه ، مانا داچې په فرد ( وګړي ) کې یې دمعنویاتو سرچینه ښوول، همدا چې په ټولنه کې دانسانانو داړیکو پر بنسټ دهغوی دګډ ژوند خبره راځي ، نو دفردي معنویاتو پربنسټ یو شمېر ټولنیز قراردادونه رامنځته کیږي او دهغو په پایله کې دګډو معنویاتو ، ټولیزو معنویاتو او بشري معنویاتو مفاهیم پیژنو ، ټولنیز معنویات دفردي معنویاتو هغه پراخه ټولګه ده چې داړتیا او ورتیا پربنسټ انسانان سره تړي. اخلاق ، عقاید او عواطف مخامخ له همدې معنویاتو سره اړیکي لري.

موږ پردې پخواهم بحث کړی دی ، چې ټولنیز نظم څلور څواکونه ساتي:

۱- عواطف

۲- عقاید

۳- اخلاق

۴- قوانین

په دې ځواکونو کې يې درې ( عواطف ، عقايد او اخلاق ) بشپړ په معنوياتو پورې اړه لري او دقوانينو ددرناوي يوه لويه برخه هم دانسانانو په معنوي پياوړتيا کې نغښتې ده. چې داسې ده نو ګورو چې که معنويات نه وي نو ټولنيز نظم نه شي رامنځته کيدای. پانګوالي ، توليد او اقتصادي فعاليت چې دانسانانو دژوند مادي اړخ پوره کوي که ديوه نظم او توازن په چوکاټ کې تنظيم شي نه يوازې دا چې معنويات له منځه نه وړي ، بلکې اقتصادي وده دټولنيز نظم او معنوي ارزښتونو په پياوړتيا کې مرسته کوي.

زموږ ستونزه د همدې توازن په نشتوالي کې ده ، دشلو مېليونرانو واکمني او پانګه داسې بې چوکاټه رامنځته شوه ، چې ټولنيز معنويات يې له بنسټه ولړزول او په چټکۍ سره يې دنړولو پرلوري روان دي.

شلومېليونرانو دخپلو اعمالو په وسيله ښوولې ده چې اخلاقو ، عواطفو او عقايدو ته يې شا کړې ده او دقوانينو دپلي کوونکيو بنسټونو دکمزورۍ له امله ، دهغو چندان پروا نه لري ، په دې توګه وينو چې شل مېليونران له معنويت څخه لرې شوي دي او ددوی لپاره معنويت ( هغه هم دداسې ګټې وټې ،زور، مارکيټ ، نړيوالتوب ، بزنس او سياسي واکمنۍ په عصر کې ) دکمزوريو ايډياليستو ، اوهامپرستانو او يا هم ارماني خلکو خبرې ښکاري ، ددوی لپاره نورنو دمعنوياتو عصر تېر دی او حب الوطن مانا نه لري ، ددوی په نظر کمزوري او بېپانګې انسانان دژوند کولو حق نه لري او په سياست کې اخلاق و عاطفه ځای نه لري ، ددوی لپاره قوانين هغه څه دي چې زورور يې فرمايي ، ان دا چې عقيدوي احکام هم ددوی له غوښتنو سره بدليدای شي ، يوه بېلګه: شل مېليونران که هرڅه دظاهر ساتنې لپاره دمسلمانۍ دعوه کوي ، خو دخپلو ګټو لپاره په ډېره اسانۍ ( انسانان ) وژني ، زموږ شل مېليونران تر پرونه په سنګرونو کې پراته وو ، اوس هم سنګرونه او وسله وال لري او هرڅوک چې ددوی دګټو ، غرور او واک په وړاندې خنډ وي نو وژني يې ، ان تردې چې بېګناه او بېضرره خلک هم وژني او دخپلې بدمعاشۍ او ويرې اچوونې لپاره دچاوژل او لوټول ورته داوبو غوړپ ښکاري ، داسلام دسپېڅلي دين داحکامو پربنسټ انسانوژنه

ترټولو لويه ګناه ده ، پوښتنه داده چې ايا دزورورو لپاره دعقيدې دا حکم دمنلو وړدی ؟ که نه، نو يوه شه چې دوی عقيده نه لري او که هو ، نوولې عملا هره ورځ انسانان وژني ؟

شل مېليونران دهغې برخې اداري فساد ، بيروکراسۍ او بېعدالتۍ اصلي ګنهګاران دي ، چې په افغاني اړخ کې شته ، همدوی پر خپلو هغو ټاکليو چارواکيو -چې ددوی په سهميه کې مقرر دي- ټينګار کوي چې له هرې لارې پيسې وګټي او دوی ته په کې برخه ورکړي ، فساد او ورانکاري له همدې ځايه پيلېږي. همدوی دخپلو ګټو لپاره جګړه روانه ساتي او همدوی دريښتينې ولسواکۍ او قانونواکۍ مخه نيسي او خپل ځواک ساتي ، له دې امله هره ورځ ميليونونه وګړي له ولږې څخه کړېږي ،مري او هېواد دسقوط پرخوا روان دی دا ټولې چارې دعقيدې ، اخلاقو ، انساني عاطفې او قوانينو پرخلاف کار ونه دي خو شل مېليونران ، ددوی پلويان او هغه سيستم چې دوی يې په سر کې دي لګيادي دا ټول جرمونه کوي اوس نو دا زباتيږي چې شلو ميليونرانو له معنويت سره بشپړه خدای په اماني کړې ده. ويره يوازې دانه ده چې زموږ اصلي واکمنان ( شل مېليونران ) له معنويته تش دي ، بلکې ويره دا ده چې ددوی د دوامداري واکساتنې او هغې ناسمې ټولنيزې-اخلاقي فضا له امله- چې ددوی په واکمنۍ کې رامنځته شوې ده-دراروانو نسلونو معنويت ته تاوان رسيږي ، په راتلونکي کې ځوان نسل له ځانه سره فکر کوي چې څنګه يوازې ګټې ، زور او ځواک ته ځان ورسوي او په دې لاره کې معنويت او معنوي ارزښتونو ته ځای نه پاتې کيږي. ددوی واکمنۍ دمعنوي رهبرانو درامنځته کېدو مخه نيسي او چې ملي-معنوي مشرتوب نه وي ټولنه سقوط کوي. تاريخ ښيي چې لويې بشري ټولنې هغو مشرانو ژغورلي چې په خلکو کې يې ريښتينی معنوي نفوذ درلوده ، له پيامبرانو(ع)يې راونيسه تر لويو شخصيتونو پورې ،هېڅ يويې دګټو او وژنو اتلان نه وو . په همدې اوسمهالو مشرانو کې پاچاخان ، ګاندي ، غازي امان الله شاه او دوی ته ورته کسانو ټولو پر معنوياتو تکيه کړې وه .

همدا اوس زموږ دنسل يوه برخه ځوانان دهېواددمينې پر منطق ډير نه پوهيږي ، ګڼ شمېر يې په دې هڅه کې دي چې له هېواده ووځي او ځان لويديځ ته ورسوي ، يا دخپلو هېوادوالو دوژلو لپاره په ځان پورې بمونه تړي ، يا ټوپک اخلي او دخپل هېواد پرپېغلو

تیرې کوي یا هم ځان د کوم مېلیونر په لمن کې وراچوي او له هېواد پالنې او انساندوستۍ سره خدای په اماني کوي ، دا ولې ؟

دا ځکه چې موږ د شلو مېلیونرانو په واکمنۍ کې خپل معنویات له لاسه ورکوو. هره ورځ په سلګونو بېوزلي ، بېګناه افغانان وژل کیږي ، له ماشومانو څخه سرونه پرې کیږي او ښوونځي یې سیزل کیږي... که معنویت شته نو ولې ټول چوپ دي ؟ ولې هیڅوک څه نه وایي ؟ ولې یو معقول ، سنجول شوی او مدني خوځښت نه راپورته کیږي ، چې د میلیونونو خلکو په راخوځولو سره ددې ټولو جنایتونو مخه ونیسي ؟ دا ددې لپاره چې معنویات مړه دي ، معنویات یې رانه غلا کړي دي ، شلو مېلیونرانو رانه ټول ارزښتونه تښتولي دي.

څه وکړو ؟

باید د معنویاتو سرچینې وڅغورو ، بلکې د پیاوړتیا لپاره یې راپاڅیږو . دا سرچینې هماغه عقیدوي باورونه او احکام ، اخلاقي بنسټونه ، انساني عواطف او قوانین دي چې ښایي له مثبت اقتصادي پرمختګ ، ودې او تولید سره یوځای پرمختګ ولري. دا څلور سرچینې باید د شلو مېلیونرانو له یرغمل څخه وژغورو او د مارکیټ له ښکېلاک څخه یې خلاص کړو.

په دې کې د منورو دیني علماوو ، ویښو ، روښانفکره ، ژمنو او هېوادپالو مدني جوړښتونو ، پوهانو ، فرهنګیانو او مبلغانو ونډه د پام وړ ده ، چې د جنایاتو او وژنو مخه ونیسي ، خلکو ته په ښکاره ووایي چې انسانوژنه ( چې له بده مرغه تر هرڅه یې موږ ډېره کوو ) لوی ګناه ، جنایت ، غیر اخلاقي او له انساني عاطفې لرې کار دی. دلته د انسانیت د ژغورلو لپاره ښایي انساني معنویت وژغورو . له شلو مېلیونرانو سره د اغیزمنې مدني مبارزې اصلي لاره همدا ده چې معنویات راژوندي کړو ؛ عقیدوي باورنه ، عواطف ، اخلاق او قوانین پیاوړي کړو او حب الملک والمال په حب الوطن بدل کړو.

# مافیا

هره هغه ډله ییزه هڅه چې د ناقانونې ګټې لپاره ککړ او ناولي اوزار ( وسایل ) کاروي او د یو شمېر کسانو یا ډلو د ګټو لپاره ټولیزو یا ملي ګټو ته زیان رسوي ورته مافیایي هڅې ویلی شو ، مافیا یي ډ لې ډ یر ځله پټ فعالیت کوي. ویل کیږي چې یو مهال د ایټالیې په سیسلي ټاپو کې د یوې کورنۍ غړیو یو مافیایي باند جوړ کړ بیا یې ټولې ایټالیې ، اروپا او امریکا ته جال وغوړیده ، دغو ډلو د سیاسي ځواکونو په زړه کې ریښې وکړې او پر سوداګریزو ، مالي او صنعتي برخو کې یې نفوذ وکړ ، د مافیا ډلو به دلا ډیرو پیسو ، ملکیتونو او ځواک تر لاسه کولو لپاره پر سیاسیونو اغیز کاوه او څوک به یې چې په وړاندې ودریدل نو یا یې ویراوه ، یا یې په چل او بډو د ځان ملګری کاوه ، یا یې په ټولنه کې داسې بدنامي وراړوله چې نور به یې ددوی په وړاندې هیڅ هم له وسه نه و پوره او که په دې لارو یې چاره نه وای شوې، نو بیا به یې له منځه وړ. مافیایي ډلې په تښتونو ،وژنو ، قاچاق، مخدراتو ، ناولیو سیاستلوبو ، باج اخیستنو او نورو جنایتونو کې ښکېل وي ، خو له وړو جنایتکارو ډلو سره یې توپیر داوي چې د سیاست او حکومت په کړیو کې خپل وګړي لري او د پټو ، منظمو او خورا فعالو شبکو په مرسته عمل کوي ، داسې هم شوي چې مافیایي ډلو بشپړ حکومتونه ، پولیسي سیستمونه او یا هم سیاسي لوري تر کنټرول لاندې راوستي وي او په ګڼو هېوادونو کې یې خپلې شبکې فعالې کړې وي. دلوید یځوالو د هر بل سیستم په څېر د هغوی مافیا هم پرمختللې او منظمه ده ، له وړو موخو سره کار نه لري او عام وګړي ورڅخه مخامخ لږ اغیزویني ، خو په وروسته پاتې ټولنو کې مافیایي ډلې هم خورا بېنظمه ، بېرحمه او خلکو ته زیان پېښوونکې دي.

مافیاګانې تل دهنري فلم جوړوونکیو او پولیسي داستان لیکونکیو دپام وړ وي او ددوی په اړه یې له مبالغې او افسانوي تخیلاتو ډکې سناریو ګانې پنځولي دي ، چې دې پخپله دمافیا لپاره په نړیواله سطحه دتبلیغاتي کمپاین کار کړی دی.

دفلم جوړونکیو او داستان لیکونکیو په څېر دا ځل ماهم تخیل کړی دی چې په افغانستان کې د شلو مېلیونرانو په واکمنۍ کې دا ښکارنده ( پدیده ) څنګه ده ؟

شل مېلیونران چې له قانوني پلوه خپل پاینښت له ګوابښ سره مخامخ ویني نو تل پر مافیایي ډلو ، ګټو او ځواک باندې تکیه کوي ، همدلته ده چې د شلو میلیونرانو دواکمنې لومړی سوغات دمافیایي ډلو رامنځته کېدل ، پیاوړي کېدل او دوه اړخیز ملاتړ دی. افغانستان له څو پلوه د مافیایي جوړښتونو لپاره دپام وړ هېواددی ، دمخدره موادو دتر ټولو لوی تولیدوونکي په توګه ،دوسله والو ډلو دارزانه استخدام ، د قاچاقو لپاره دترانزیتي ارزښت، دکمزوري قانونواکۍ او دسیاستلوبو د سیالیو د مرکز په توګه ددغو ډلو ددروبڼ او لوبولپاره تر ټولو ښه میدان دی. په تیره بیا چې قانون او حکومت په کې دشلو میلیونرانو له خوا یرغمل شوی وي. شل میلیونران دخپلو ګټو لپاره ډېر ژر دمافیا پنجو ته لویږي او یو مهال چې ګوري په خپله دمافیایي جوړښتونو یوه برخه ګرځېدلي وي ، مافیا ښکر او لکۍ نه لري ، ناقانونه وسله وال لري ، خلک ویرولای شي ، په سیاسي ځواک کې ریښې لري ، دناقانونه ګټو دتر لاسه کولو لپاره لاره هواروي ، خلک تښتوي یا یې ویروي ، له پانګوالو څخه په زوره باج اخلي ، پر عامه شتمنیو خیټه اچوي ، دفساد بازار ګرم ساتي ، او دنړیوالو قاچاقچیانو لپاره زمکه هواروي ، بس همدا ... اوس نو ګورو چې په افغانستان کې دشلو میلیونرانو له برکته دا هرڅه کیږي ، مانا دا چې همدوی پخپله ددې ډلو رامنځته کوونکي، پالونکي او چاغوونکي دي.

شل میلیونران چې د زور او ګوابښ په مرسته په سیاسي واک کې خپله ونډه ساتي په پوره هوښیارۍ سره ګټه ورڅخه اخلي مافیایي جوړښتونه دمیلیونرانو یو لاس او په سیاسي-حکومتي جوړښت کې یې ونډه بل لاس دی او په دې توګه دډېرې ګټې دترلاسه کولو په کار

کې همدا یو لاس له بله سره مرسته کوي ، مافیا د سیاسي نفوذ په وسیله خپل کار کوي او بیرته له میلیونر سره مالي او حمایوي مرسته کوي چې په سیاست کې خپله ونډه وساتي ، دا هم د مارکیټ تعامل دی؛ یو څه راکړه او یو څه واخله ! او بالاخره همدا راکړه ورکړه د لا ډیرې ګټې لپاره دوام کوي. د شلو مېلیونرانو او مافیایي ډلو د ملګرتوب یو اصل انحصار دی: پر سیاست ، پر څوکیو ، پر مارکیټ ،پر ګټو ، پر فرهنګ ،پر خدماتي سکتور، پر رسنیو، پر افکارو ، پر باورونو ... پر هر څه انحصار د همدوی له خوا ټینګیږي او نور خلک څنډې ته ټېل وهل کیږي. شل مېلیونران پر حکومتي څوکیو خپل انحصار د لا ډیرو ګټو ترلاسه کولو لپاره ساتي ، د دوی ګومارلي کسان له واکه نه ګوښه کیږي یوازې له یوې څوکۍ بلې ته ځي او له یو بل سره په تفاهم کې د ځواک ګدۍ ساتي .

اوس نو راځئ پر اصلي ستونزه خبرې وکړو:

مافیا د ځواک او سیاسي واکمنۍ لپاره ، سیاسي واکمني او ځواک د لا ډیرې ګټې لپاره، د ګټې یوه برخه او سیاسي ځواک د مافیا یي هڅو د پرمخ بیولو لپاره ... بس همدغه کړۍ پر افغانستان راڅرخي او ستونزه دا ده چې دا کړۍ ،دوخت په تیریدو سره ،داسې ریښې ځغلوي چې ماتول یې ورو ورو ناشوني کیږي. راروان نسلونه به په دې باور وي چې له مافیا پرته واک او ګټه نشته او ددې مانا داده چې له مافیا ، سیاسي ځواک او ګټې پرته ژوند نشته. مافیایي هڅې په یو ټولنیز عادت بدلیږي او دا عادت ملي فرهنګ تر خپل تورسیوري لاندې راوستلی شي او د ټولیزې ارواپوهنې له مخې ډله ییز اخلاق فاسدوي. د شلو مېلیونرانو دغه کړۍ په ریښتینو پانګوالو ، سوداګرو ، کاریګرو او کسبګرو کې د ګټې تولید توان ، جرئت او نوښت وژني او د مافیا د انحصاري مارکیټ په لوبه کې د هغوی حضور له منځه ځي ، د مثبت اقتصادي فعالیت ( تولیدي او خدماتي ) امکانات له منځه ځي او ملي پرمختګ په ټپه دریږي. قانون خپل ارزښت له لاسه ورکوي او حکومت د مافیایي کړۍ پرغمل کیږي. خلک د روزي تر لاسه کولو لپاره پر انحصاري مافیایي کړیو ورماتیږي او په دې توګه د هېواد راتلونکي پرمافیا معتادیږي.

مافیا په ډیر مهارت خپلې ریښې لاپسې غځوي او د شلو میلیونرانو بچیان د نوی نسل په توګه پر خپل ملګرتوب روږدی کوي. د مافیا په مرسته د شلو میلیونرانو مورثي سلطنت دوام کوي او پخپله مېلیونران هم د ځان او کورنۍ د سر له ویرې ترپایه ورسره ملګرتوب کوي ، دویرې او اندیښنې ژورتیا په دې کې ده چې یو یا دوه نسله وروسته به اصلي ځواک د نالیدونکې ( نامرئی ) مافیا په لاس کې وي او د نورو نسلونو پنځوس مېلیونرې کورنۍ ( همدا شل مېلیونرې کورنۍ بل نسل ته پنځوس کیږي. ) به یوازې د مافیا سیاسي-اقتصادي او ان فرهنګي سناریو پر ستیج لوبوي.

له دې اندېښنې څخه د خلاصون لاره دا ده چې پورته یاده شوې کړۍ ماته شي ، مېلیونران مثبت تولیدي-اقتصادي فعالیت ته وهڅول شي او د قانونوا کې په مرسته د مافیا دودې او چاغېدو مخه ونیول شي.

په حکومت کې د مېلیونرانو انحصاري سهم راکم شي او د اسې متخصصو ټیمونو ته واک ورکړل شي ، چې لوستي ، پر اداره پوه ، ژمن او له مافیایي کړیو څخه لرې او بېزاره وي.

دا کار هغه وخت شونی دی ، چې روښانفکران ( او که په افغانستان کې روښانفکران نه وي ، تحصیل کړي وګړي د هغوی رول لوبولی شي. ) یو د اسې سیاسي ځواک رامنځته کړي ، چې له یوې خوا خلک د مافیا او مېلیونرانو له ګواښه خبر کړای شي ، راویښ او روښانه یې کړي او له بلې خوا په هغو کې د مثبت سیاسي بدلون راوستلو او څه کولو اراده راوپنځوي ، او په بل پړاو کې د همدې راویښو او روښانه شویو ولسونو په مرسته د سیاسي ځواک ډګر ونیسي ، چې په پایله کې د مافیا انحصاري سیاسي ځواک پای ته ورسولای شي او په نوي قانونمنده چاپیریال کې شل مېلیونران، د خپل پاینبت لپاره ، په مثبتو تولیدي-اقتصادي فعالیتونو وروا ړوي.

# د تولید ویره

د سیاسي مېلیونرانو دوا کمنۍ لویه ستونزه دا ده چې دوی د پانګې د اقتصادي دوران حوصله نه لري. راځئ وګورو چې د پانګې اقتصادي دوران څه دی ؟ ولې یې دوی حوصله نه لري ؟ او ددې زیان څه دی ؟

په ساده ژبه؛ د پانګې اقتصادي دوران د یوې تولیدي یا خدماتي پروسې بشپړولو ته وایي چې په کې لومړنۍ پانګه ، د تولید یا خدماتو مادي توکي او بشري ځواک وکاریږي او له لومړني حالت څخه دوهم ،دریېم یا څلورم ... حالت ته تغیر رامنځته شي ، ګټه ولري او د فردي ګټې ترڅنګه یې ټولیز اغیز هم مثبت وي.

بېلګه : شپون رمه پیایي ، په قصابي کې د پسونو غوښه ، کولمې ، هډوکي او څرمنې پروسس کیږي ، ترانسپورټ دغه توکي تر کارځایونو پورې وړي ، کارځایونه ( فابریکې ) ورڅخه بوټونه ، غوړي ، یا ساسچ جوړوي. په دې کې فابریکې تولیدي او ترانسپورټ خدماتي کار کوي ، یوشمېر خلک ( بشري ځواک ) له شپانه نیولې تر بوټ پلورونکي پورې بوختیږي او له همدې لارې څخه ډوډۍ خوري او پایله یې دا ده چې ددې هېواد اوسیدونکي په خپل هېواد کې تولید شوي بوټونه پښو کوي او په دې توګه مثبت بدلون رامنځته کیږي. د حالتونو تغیر دا دی چې ژوندی پسه په غوښه ،پوټکي او نورو مادي توکیو بدلیږي او بیا پوټکی په څرمن ، څرمن په بوټ او ... همداسې یې دروا خله نور. د کارځای خاوند په دې پروسه کې خپلې پیسې لګوي ، او بیا له بوټ اخیستونکي څخه ګټه کوي خو دا ګټه یوازې د کارځای خاوند نه ،بلکې شپون ، قصاب ، کارګر ، موټرچلوونکي ، د بوټونو هټیوال اونورو ته هم رسیږي ، بله ګټه یې دا ده چې د هېواد خلک د بهرنیو هېوادونو د بوټانو له احتیاج څخه خلاصیږي. دغه پروسه وخت ، کار ، زیار ، فکر ،تدبیر، زغم او حوصلې ته اړتیا لري ، خو په بدل کې یې دنیوي او اخروي اجر ، ګټه او نیکنامي رامنځته کوي.

ماونه غوښتل په علمي بڼه دغه اقتصادي پروسه تعریف کړم ،یوازې مې دخپلې ادعا دروښانولو لپاره دغه ډیره ساده پېژندنه له ښېلګې سره یاده کړه ، اوس راځم ددې لیکنې منځټکي ته: زموږ شل سیاسي مېلیونران له خپلې پانګې ، سیاسي نفوذ ، توان او زور څخه په دغسې یوه مثبت پرمختګ او نیکنامه پروسه کې ګټه نه اخلي ، داسې نه ده چې دوی په دې نه پوهیږي ،بلکې دوی ددې ډول پروسې زغم نه لري ، دوی په بېړنۍ او ډیره ګټه روږدي شوي دي. غمیزه خودا ده چې شل مېلیونران د تولیدي اقتصاد خنډ کیږي ، دتولید مخه نیسي او داقتصادي پرمختګ پر لاره ډبرې غورځوي ، داچې ولې ؟ راځئ لاملونه یې وشمېرو:

- شل مېلیونران په حقیقت کې پوځیان یا تش په نامه سیاسي څیرې دي او ځکه خو له رواني پلوه داوږدمهالي اقتصادي فعالیت حوصله او ماغزه نه لري.
- دافغانستان اقتصاد وارداتي او مصرفي اقتصاد دی ، په دې اقتصادکې شل مېلیونران یوازې دځان لپاره ډیره ګټه کوي ، داسې چې له بېلابېلو لاروڅخه دبهرنیو کمپنیو استازي بڼې ورکوي او دې ته یې هڅوي چې په کوردننه دتولید مخه ونیسي ، بهرنۍ کمپني او تولیدي هېوادونه له سیاسي او مالي پلوه دوی یرغمل کوي او دپېسو یو سیروم ورته چالانوي چې دوی یې په مرسته ژوندي وپایي او سیاسي واک ولري ، ددې سیروم شرط دادی چې په کوردننه به تولیدنه پریږدي او واردات به همداسې چالانه وي. په دې ډول بډو او رشوت کې ګاونډي هېوادونه او نور سیمه ییز استخبارات ډیر لاس لري او اهداف یې هم دري دي یو: خپلو تولیداتو ته بازارموندنه ،دوه: دافغانستان کمزورتیا او درې: ددې هېواد په سیاست او حاکمیت کې دخپلو ګوډاګیو واکمن ساتل.
- که په کوردننه تولیدي او خدماتي اقتصاد وده وکړي نو ددغو مثبتو اقتصادي فعالیتونو ملي سوداګر او فعالین به دځواک او پیسو خاوندان شي او په دې توګه به سبا له شلو سیاسي- پوځي میلونرانو سره سیالي ته راپاڅیږي ، شل مېلیونران له

دې څخه ډیر ویریږي او نه غواړي چې په کور دننه اقتصادي مثبت فعالیت ترسره شي.

- دمثبت تولیدي اقتصاد له ودې سره سم ، ملي بنسټونه پیاوړي کیږي ،حکومت نظم مومي او قانون ورو ورو پیاوړی کیږي ، ملي شعور ځواک مومي ، خلک راویښیږي ، روښانه کیږي او بدلون ته لاره هواریږي ، داټول دشلو مېلیونرانو دمرګ زنګونه کړنګوي ، په داسې حالت کې شل مېلیونران خپل سیاسي- پوځي او منفي اقتصادي واک او ځواک له ګواښ سره مخامخ ویني ، ځکه خو شل مېلیونران په ټول زور سره ددې بهیر مخه نیسي.
- تولیدي یا خدماتي مثبت اقتصادي فعالیت وخت ، کار ، زغم او پرلپسې هڅو ته اړتیا لري ، چې شل میلیونران دا حوصله نه لري ، دوی په نغده ،بېړنۍ او ډیره ګټه پسې ګرځي ، نور وخت په سیاسي سیالیو ، عیاشیو او مزوچړچو تیروي ، مثبت اقتصادي فعالیت ددوی د ساتیرۍ او مزو وخت وروژني ، ځکه خو ښایي ددې مخه ډب شي.
- شل میلیونران چې په همدې حالت کې یې ځانونه په عقیدوي ، سیاسي او تش په نامه نظریاتي مشرتوب کې پیچلي ، عامو خلکو ته داسې ښیي چې موږ خو یاستاسو مذهبي مرشدین یو ، یاستاسو قومي ټېکه داران ،یاستاسو دسیمې مخور ، یاهم ستاسو دسیاسي غوښتنو دعواداران ، نو موږ خو له تجارت وکارو بار سره کوم کار نه لرو ایله ستاسو له غمه مړه یو ، ایله ستاسو استازیتوب کوو ، کله چې تاسو له ستونزې سره مخامخ شئ نو موږ داعتصاب په توګه خیمه وهو ، یا لارې بندوو ، یا دټوپک رااخیستو ګواښ کوو ، ستاسو په استازیتوب خپل خلک پرځوکیو ټاکو او ټوله ورځ په دې بوخت یو چې ستاسو له حقونو( ! ) څخه دفاع وکړو ، نوموږ خو ایله همدا کوو... که دوی ددې پر ځای په مثبت اقتصادي فعالیت بوخت شي بیا خو به خلک وایي چې: داخوبس تجارت کوي ! ځکه هم دوی یوازې تورې ګټې ته ناست وي او مشروع اقتصادي فعالیت ته زړه نه ښه کوي.

- واردات ګمرکونه پیاوړي کوي او ګمرکي ګټه مخامخ د مېلیونرانو جیبونه ته ځي ، په کور دننه تولید دغو ګټو ته هم زیان اړولای شي.

داسي به نور لاملونه هم وي ، خو دلته يې د شمارلو ځای نشته ، دې ټولو له شلو مېلیونرانو سره د تولید ، خدماتي اقتصادي فعالیت او ملي ودې په وړاندې ويره رامنځته کړې ده ، ځکه خو دوی د ملي اقتصاد د پیاوړتیا مخه نیسي او هر څه په خپل انحصار کې ساتي.

وړاندیز:

د شلو مېلیونرانو د دغې ستري جفا د مخنیوي لپاره ښايي په دوو لیدلوریو ( استقامتونو ) کې هڅې وشي:

۱- د ملي سوداګرو ، پانګوالو او تولیدي څواکونو د پیاوړتیا لپاره هراړخیزې هڅې ، له ویښتیا او روښانتیا نیولې د هغو فشارونو تر رامنځته کولو پورې چې حکومت مجبورولای شي او خلک اقدام ته هڅولی شي. په دې برخه کې د تولیدي او خدماتي سرچینو ، امکاناتو او لاروچارو پېژندنه او د ګټو لپاره عامه پوهونه مرسته کولای شي ، خو تر ټولو اغیزمنه لاره يې داده چې داسې سیاسي څواک ( ګوند ) رامنځته شي چې د دغې چارې لپاره پر علمي- عملي بنسټ ولاړه کړنلار ولري او هغه میکانیزمونه معرفي او عملي کړي چې د هغو په مرسته ملي تولید او مثبت اقتصادي فعالیت وده کولای شي. ځکه د اچاره سیاسي او اداري څواک غواړي او د دې څواک د ترلاسه کولو لپاره باید سیاسي مبارزه وشي.

۲- دوهمه لاره داده چې همدا شل مېلیونران اصلاح کړای شي ، مانا دا چې وپوهول شي ،چې د دوی پانګه ، سیاسي څواک ، پېژندنه ، امکانات او وسایل په مثبته لاره هم کارول کېدای شي ، که په همدوی کې هم د ملي تولید او اقتصادي فعالیت زغم او حوصله رامنځته شي ، ګټه به يې درې اړخیزه وي ، لویه ګټه به يې پخپله مېلیونرانو ته ورسیږي چې بدنامه پېژاند ( هویت ) به يې په یوه مثبت ، مشروع او ملي هغه واوړي او خلکو او هېواد ته به يې ګټه داوي چې د تولیدي اقتصاد د ګراف په لوړېدو به د توري- مافیایي ګټې ګراف راټیټ شي.

# لګښتي سيالي

له ډاکتر درمل سره يوه واده ته تللی وم ، دواده پر لګښتونو او هوټلونو غږيدو ، ډاکتر يار مې ويل چې ټولنه په بېځايه لګښتونو روږدې شوې ده او ددې يو لامل هم دشلو مېليونرانو بادراوړې پانګه ده . هغه ريښتيا ويل ، ما فکر وکړ چې دا وړه ستونزه نه ده . شل مېليونران ، دهغوی ددوهم او دريم کتار ملګري ،چې پانګه يې له اسمانه راوريدلې ده او دټوپک له شپيلۍ ، قاچاقو ، مافيايي فعاليتونو ، غلا او فساد څخه يې له خوارۍ پرته لاس ته راوړې ده ، دلګښتي سيالۍ لوبه ګرمه کړې ده .

راځئ وګورو چې لګښتي سيالي څه ده ؟ د لوکس ژوند لپاره په هره مشروع يا نامشروع لاره دپيسو ګټل او له زورورو سره ځان په يوه کتار کې درولو ته لګښتي سيالي ويلی شو ، چې په افغاني دوديزه ټولنه کې دسرې داور په څېر پراخيږي . شلو مېليونرانو دنړۍ تر ټولو لوکس موټر ، جامې ،کورونه ، باډيګاردان او نور امکانات راخپل کړي دي ، يومهال شلو مېليونرانو داسې ګاډي ګرځول چې شاته به يې دتيلو ټيم او ټاير ښښتي وو ، وروسته به دباډيګاردانو يو پېکاپ هم ورپسې روان و ، په اوسنيو کلونو کې ګولۍ ضد ( زرې ) ګاډي موډ شوي دي ، توپير دادی چې پخوا به خلکو دا يوازې دوسله والو کار ګاڼه خو اوس ورو ورو دهغو کورنيو شمېر ډيريږي چې دلوکسو موټو ، لوکسو کورونو ، لوکسو جامو ، لوکسو مېلمستيا ګانو ، ودونو ، لويو تالارونو او زرګونو مېلمنو دلرلو سيالي کوي او په دې توګه يې داهرڅه په يوه داسې ټولنه کې چې دلسو افغانيو توليد نه لري خو دمېليونونو ډالرو لګښت کوي په يوه ملي ستونزه بدله کړې ده . دستونزې ژورتيا په دې کې ده چې دمثبت توليدي اقتصاد سيالي نه ، بلکې له نامشروع لارو څخه په لاسته راغليو پيسو دزرق وبرق، ښکلتې او ان ناولې سيالۍ رامنځته شوې ده . دسپيو له جنګولو ، دهلکانو او ښځو ترګډولو ، فحشا ، په دوبۍ کې دمعشوقو ساتل او نورې پټې لوبې خو يې پرځای پر يږده ، شلو مېليونرانو دناروا ګټو له لارې د يوې لګښتي سيالۍ سرطاني ټولنيز عادت رامنځته کړی دی. په ( شمسي )ديارلس سوه پنځوسمه لسيزه کې چې افغانستان توليدي

اقتصاد درلوده ، کرنې دومره وده کړې وه چې ورو ورو يې دا هېواد دخوړو له واردولو بېنيازه کاوه . دنساجيو ، سمنټو ، پنبې ، لبلبو ، چيني جوړولو او داسې نورو سلګونه صنعتي فعاليتونو کارځايونه مو درلودل ، ګاونډي هېوادونه مو له حکومتي او پوځي زوره ويريدل ، مګر هغه مهال نه دومره لوکس موټر و ، نه د ودونو دومره ډېر هوټلونه ، نه ګولۍ ضد ګاډي چا پېژندل او نه هم دپيسو په زور دومره اخلاقي فسادروان و ، نه څوک دکور په اړتياوو پسې دوبۍ ته تلل او نه هم چا دعياشۍ لپاره په کوم ګاونډي هېواد کې هوټل په کرايه نيوه ، خو اوس څه پېښ شوي دي ؟ چې نه کرنه لرو ، نه صنعت ، نه جنګلک شته ، نه دشاکر چيني جوړونه ، نه دکندز سپين زر ، نه دننګرهار زيتون او سيتروس ، نه دهلمند ستره کرنيزه پروژه او نه هم دکندهار دميوې فابريکه ، نه دجبل السراج او ګلبهار نساجي... خو لا په جاپان کې زرې موټر نه وي جوړ چې موږ يې دلته وخته فرمايش ورکړی وي. لا په فرانسه کې دجامو نوی موډ نه وي راوتلی چې دلته يې په قصر عروس تالار کې زموږ مېرمنو داغوستلو شوق کړی وي. دارجمندي دسنتۍ لپاره په قصر پاريس کې درې زره کسان رامېلمانه کوو او بيا هغوی ته اوولس ډوله پولاوونه ورکوو ، حال دا چې دهمدې هوټل تر څنګ دښاروالي دسرسبزۍ درياست جارو کښان دغرمې ډوډۍ په خيرات کې غواړي او دارجمندي ګلپوښ شوي موټر ته لسګونه سپندي ماشومان دپينځو افغانيو خواست لپاره راټول وي.

څه پېښ شول چې هرڅه سرچپه شول ؟ دانقلاب يوه لغوي مانا سر چپه کېدل دي ، موږ په انقلابونو کې بله ګټه نه ده کړې ، يوازې مو دشلو مېليونرانو کورنۍ واک ته رسولې دي چې اوس همدا شل مېليونران د اته ويشتو مېليونو افغانانو وينې زبېښي او خپلو دغو جناياتو ته يې د مذهب ، قوم ، دتيرو قربانيو په وړاندې دازلي امتياز او څه وڅه نوم ورکړی دی.

يو لوی جنايت همدا دی چې وړې کورنۍ يې هم په لګښتي سياليو رااړولې دي ، هيڅوک په دې پسې نه ګرځي چې هېواد ، ولس او کورنۍ يې څومره ګټه لري ؟ ژوند يې څنګه دی ؟ او ټولنه په څه ډول اقتصادي وضعيت کې ده؟ خو ددې لپاره چې دکوم مېليونر يا

دمېليونر دکوم جيره خور له لګښت سره سيالي وشي ښايي په واده ، کوژده ، مړي او خيرات کې خپل ټول هست وبود خاورې کړو ، دټول عمر ګټلې پيسې برباد کړو او ځان په خاور وغورځوو ، بس چې دزورورو سيالي وشي.

ددې ليکنې يوه انديښنه داده چې لګښتي سيالي هم د شلو مېليونرانو په ګټه تماميږي او هغه داسې چې دداسې بېګټې او بېځايه لګښتونو پر مهال وړې وړې نغدي پانګې له منځنيو او وړو کورنيو څخه تښتي او په مخامخ يا نامخامخ بڼه د شلو مېليونرانو جيبونو ته لويږي. موږ پر دې مسئله پخوا هم بحث کړی وچې په افغانستان کې دپانګې ددوران اصل له منځه تللی دی او اقتصادي تعاملات داسې رامنځته شوي دي چې له ناقانونه لارو څخه دپانګې په هرخوځښت کې يوه لويه برخه يې ديوه پوځي- سياسي مېلونر جيب ته ځي. دلوستونکيو به په ياد وي چې شلو مېليونرانو په وارداتي ، تورو او ناروا ګټو خپل انحصار ټينګ کړی دی او حکومتي زور هم ورسره دی، نو دلګښتي سياليو ټول توکي ددوی په ګټه راواردېږي او په دې توګه يې ګټه د شلو مېليونرانو جيبونو ته لويږي. لوکس موټر ، دلويو ودونو خواړه ، دوروستي موډ جامې ، سره زر ، ګاڼې ، دلويو ماڼيو ودانيز توکي او نور ټول له بهره راځي او په دې سوداګرۍ کې شل مېليونران لاس لري ، په دې توګه ګورو چې د لګښتي سيالۍ هم مادي ګټه شلو مېليونرانو ته رسيږي او هم ددې سيالۍ داتلانو په توګه دخلکو په اذهانو کې لا پسې لوييږي. دلګښتي سيالۍ يوه لويه غميزه دا ده چې اخلاقي ايډيالونه او ټولنيز معيارونه فاسدوي ، د ځوان نسل لپاره لوی خلک هماغه دي چې ګټه ، توليد او کاروبار يې معلوم نه وي خو تر ټولو ډير لګښت کوي او ترټولو لوکس ژوند توکي لري. دا په يوه ناوړه کولتوري عادت بدل شوی دی ،چې که څوک خپل لګښتونه له خپلو ګټو سره سم کړي نو کنجوس او سوکټ ورته ويل کيږي او په دې توګه هر وګړی ددې لپاره چې سوکټ ، سخت او کنجوس ونه ګڼل شي بايد پيسې وشيندي پرته له دې چې په دې پسې وګرځي چې داپيسې له کومه راځي ؟

حللاره:

له شلو مېليونرانو سره دمبارزي تر ټولو ښه لاره دا ده چې لګښتي سيالي ته ( نه ! ) وواېو او خپل لګښتونه له خپلو روا او مشروع ګټو سره برابر کړو. فيشن پرستي پرېږدو او دځانښوونې غريزه تر پښو لاندې کړو ، په ناروا سياليو کې کله کله پرېږدو چې خلک راپورې وخاندي ، کنجوس راته وواېي ، بېچاره مو وګڼي ، هيڅ پروانه کوي ، څوکسانو که دخپل ژوند چارې ساده کړې او دلګښت پر ځاى يې دروا ګټې دلوړولو هڅه وکړه اصلاح رامنځته کيږي او که موږ ځانونه د لګښتي سيالۍ له کړښو وويستل ،نو په حقيقت کې مو دشلو مېليونرانو درانړولو شريفه هڅه پيل کړې ده چې دا پخپله يوه ملي مبارزه ده.

دفيشني سيالۍ دترسره کولو لپاره پور غوښتل او يا هم له اړينو ژوند توکيو څخه تيريدل جرم دى ، که موږ ددې لپاره دسرو زرو ګاڼې اخلو چې موډ دى او بايد سيالي مو برابره شي خو دخپل بچي ښوونځي ته قلم او کتابچه نه اخلو ، په حقيقت کې دخپل بچي ، هېواد او راتلونکې په وړاندې موجرم کړى دى.

ددې چارې لپاره يوه فرهنګي او سياسي مبارزه په کار ده ، دامبارزه له کورنۍ او چاپيريال څخه پيل کيږي. روښانفکره ، پر علمي او عملي کړنلارو او تګلارو ولاړ ګوندونه ښايي دلګښتي سيالۍ ټولنيز زهر خلکو ته وروپيژني او پخپله هم خپله مبارزه داسې پرمخ بوځي چې لګښت يې تر ټولو کم وي ، ځکه يوه لويه ستونزه چې لګښتي سيالۍ رامنځته کړې ده همدا ده چې دشلو مېليونرانو ناولى موډل يې دټولو تر مخ اېښى ، خلک ګومان کوي ،چې بې له ډيروپيسو ، مافيايي جوړښتونو ، بهرني استخباراتي ملاتړ يا غصب او انحصاره سياست نه کيږي ، ګوند نه چليږي او اصلاحات نه رامنځته کيږي ، دا هغه رواني زهر دي چې همدې شلو مېليونرانو په خلکو کې شيندلي دي او په دې توګه يې په سياسي ډګر کې خپل انحصار ساتلى ،ځکه ددوى په نظر دسياست کولو وسايل ( پيسې ، وسلې ، مافيايي ډلې ، څوکۍ ، او يرغمل شوى حکومتي ځواک ) خو يوازې او يوازې له دوى سره دى. ددوى په اند ؛ هغه روښانفکري ، ولسي خوځښتونه او ګوندونه چې له دوى سره په

لګښتي سیالۍ کې برابري نه شي کولای ، پایيدلی هم نه شي. بې لګښته ، خپلخوښې ( دواطلبه ) سیاسي-فرهنګي منظمه، متشکله او منسجمه مبارزه له لګښتي سیالۍ او دشلو مېلیونرانو له انحصار سره دمبارزې لومړنی پړاو دی ، ټولو پوهو او باشعوره افغانانو ته ددې پړاو دپیل کولو بلنه ورکوم.

## بهرنیان او مېلیونران

شل مېلیونران هم خپل مجبوریتونه لري ، دوی په ډېره بده بڼه دبهرنیانو په لاس یرغمل شوي دي ، دابهرنیان افراد نه دي ، هېوادونه ،ان لاچې حکومتونه هم نه دي ،بلکې دائځانګړې کړې دي چې کار یې همدا دنورو هېوادونو په چارو کې لاسوهنه او هلته دخپلو اغیزو زیاتول دي. دوی یو شمېر وګړي په لومه کې اچوي ، له یوې خوا امکانات ، ځواک ، پیسې او مشري ورکوي ، خو له بلې خوا یې په داسې لانجو ککړوي چې هېڅکله ددوی ( بهرنیانو ) له لومو څخه سر ونه نه شي ایستلای. دوی دغه ځانګړي وګړي دبېلګې په توګه په لاندینیو دامونو کې ښکېلوي او بیا یې تر مرګه یرغمل ساتي:

- ترهرڅه وړاندې یې په ډېرو پیسو ، وسلو ، ترلاس لاندې فرمانبردارو ، جاه وجلال ، ښو کورونو او خوړو ، کاذب نفوذ او نورو امتیازاتو خوله ورخوږه کړي ، یوه کاذب لیډر شپ ته یې ورسوي او په دې توګه یې له

نازو نعمت سره داسې عادت کړي ، چې له رواني پلوه ددې نعمتونو دجاري ساتلو لپاره دبهرنيو په وړاندې هر امرو خدمت ته ( که هغه دخپلو خلکو په تاوان هم وي ) حاضر او اماده وي.

- وروسته يې په دوښمنيو واړوي ، ځينې خلک پرې ووژني ، ځينې پرې لوټ کړي ، دقومونو له تضاد او دوښمنۍ سره يې مخامخ کړي ، له نورو مېليونرانو سره يې په سيالۍ ، رقابت او ان دوښمني ککړ کړي او بيا نو ورته وايي: غم يې مه کوه زه درسره يم.
- له شخصي پلوه ورته ځانګړي اسناد ، بدناموونکي تصويرونه او دوسيې جوړوي ، چې که هر کله يې بغاوت ته زړه وشو نو ورته راباسي يې.
- ددوی په هکله لړ وډيري اوازې او شايعات ( تقلبي ياريښتيني ) رامنځته کوي او دخلکو له شکونو او مخالفتونو سره يې مخامخ کوي ، په دې توګه مېليونران تر پايه سرکوزې ، فرمانبردارۍ او انقياد ته چمتو شي.
- په داسې ايډيولوژيکو ، قومي ، ژبنيو او سياسي شعارونو يې مشهوروي چې له هغو څخه راګرځېدل هم دبشپړ سقوط او بدنامۍ لامل ګرځي ، يومهال چې مېليونر ګوري ترشا يې تږلې بېړۍ سيزلي دي ، نو مجبوره دی همداسې پر مخ ولاړ شي.

دادبهرنيانو په لوموکې دښکېليدو يو څو بېلګې وې ، کيداى شي تر دې پېچلې او پټې شيوې او لارې چارې هم وي ، خو موږ يې يوازې دلته بيلګه يې يادونه وکړه، په دې توګه اېل شوي ، ښکېل شوي او يرغمل شوي مېليونران دخپلو خلکو او هېواد په ګټه دځان خوځولو امکانات له لاسه ورکوي او لکه خوړين رعيت دبهرنيانو انډيوالۍ ته دوام ورکوي. بهرنۍ کړۍ دوه اړخيزه لوبه کوي ، هماغومره چې مېليونران ځانته مجبوروي ، په خلکوکې يې دکاذب شهرت او نفوذ لارې چارې رامنځته کوي او له دوی سره مرسته کوي چې حاکميت تر لاسه کړي. بهرنيان ددې لوبو په مرسته څو ډوله موخې تر لاسه کوي:

په یوه ځانګړي هېواد کې دخپلو ګټو دساتلو ، نفوذ او لاسوهنې ریزرفونه پیاوړي کوي او ژوندي یې ساتې ، نړۍ او عامه ذهنیتونو ته داسې ښیي چې دوی خو دچا په چارو کې لاسوهنه نه کوي ،بلکې دا دځانګړي هېواد خپل مشران او خلک دي چې هرڅه کوي ؛خپله یې خوښه ، نړیوالو ته داهم ښیي چې په ځانګړي هېواد کې دسم مشرتوب ، ملي رهبرۍ او سمې ټاکنې ظرفیت نه شته ، داخلک ډیر وروسته پاتې دي او تل باید له بهره مرسته ورسره وشي ... بله ګټه یې داده چې دځانګړي هېواد خلک او ځوان نسل په دې پوه کړي چې خپلواک سیاست او په خپلو امکاناتو خپلې ملي چارې ترسره کول ناشوني دي ، همدااوس په افغانستان کې یوعجیب باور رامنځته شوی دی ، هرچاته چې ووایې راځئ دهېواد دڅغورلو لپاره یوڅه وکړو ! نو درته وایي: وروره دیوه ځواکمن بهرني هېواد له اندېوالۍ پرته هېڅ هم نه شې کولای... ترڅو چې پیسې ، وسلې او زور ونه لرې دسیاست شوق مه کوه... له چا سره دې تارجنګولی ؟ چې دسیاست شوق کوې ؟ خلک بیچاره ګان څوک دي چې ته دهغوی په مرسته سیاست کوې ؟ورشه له کوم بهرني هېواد سره اړیکه ونیسه... داټول زهر ، بېباوري ، دسیاسي ارادې کمزورتیا او پرپردیو تکیه همدې بهرنیانو رامنځته کړې ده. دشلو مېلیونرانو موډلونه یې ځواک ته رسولي دي ،نو که ځوان او ژمن نسل وغواړي په خپلو امکاناتو ، پوهه ، اراده او ملي تعهد سیاست ته مخه کړي همدا مېلیونران ورپورې خاندي ، چې بچیه ! خولې نه دې دشیدو بوی ځي ... ستا یې په سیاست څه ؟ددې ټولو په پایله کې ددري ژبې دامتل دخلکوسترګو ته دریږي چې: ( مربې داري مربا بخور ! ) داسې وضعیت دې ته لاره هواروي چې دمعقولو ، علمي- عملي طرحو خاوند ، پرخپلو پښو ولاړ ، دملي ارادې خاوند بهیرونه او شخصیتونه ( چې مربې نه لري ) له ډګر څخه ووځي او دیرغمل شویو مېلیونرانو انحصاري واک وځواک دوام وکړي ، په دې توګه د شلو مېلیونرانو دحاکمیت ، دبهرنیو دګټو او نفوذ ددوام او بهرنیانو ته دمېلیونرانو داړتیااو احتیاج ډاډ ترلاسه کیږي.

په خلکو کې ورو ورو دغه زهرجن باورونه ریښه مومي:

- سیاست دبهرنیانو له ګوډاګیتوبه پرته نه کیږي.
- ملي اراده او معقول سیاست به ښه وي، خو ممکن نه دی !

- دشلو مېليونرانو حاکميت له بهره تضمين شوی دی او ورسره مبارزه کمعقلي ده.
- هر څوک چې غواړي سياست ته راشي، اول بايد دکوم پردي دروازه وټکوي، مربي پيدا کړي او بيا نو مربا ته کاشوغه له جيبه راوباسي...

حللاره:

پرملي اراده، خپلو امکاناتو، علمي-عملي او معقولو طرحو ولاړ ګوند (ياګوندونه) رامنځته کول چې مربي يې يوازې او يوازې دافغانستان خلک وي او بس.

داګوند (ياګوندونه) دې پر روڼ ډاګ کيني، پيسې دې نه لګوي او دځواک پر ځای دې خلکو ته ورمخه کړي، که خلک ورسره ملګري شول بيا دې دځواک په اړه پريکړه وکړي.

داګوند دې ټوله هڅه پر دې متمرکزه کړي چې ځوان نسل وپوهولای شي چې د بهرنيو له غلامۍ پرته هم سياست کېدای شي، خو په پيل کې يو څه زيار، ستوماني او کار غواړي.

دبهرنيانو لومې او په هغو کې دشلو مېليونرانو ښکېلتياوې ښايي وپېژندل شي او خلک پرې خبر شي.

هوښيار او ژمن تحصيل کړي ښايي د(روښانفکرانو) ونډه ترسره کړي، چې دشلو مېليونرانو دانحصار ځايناستی ځواک رامنځته کړای شي.

دبهرنيو کړيو په اړه دا تصويرنه ښايي ددې لامل شي چې خلک له نړيوالو سره کينه او عقده واخلي، بلکې رسمي، پرخپلو ملي ګټو ولاړ اړيکي چې دملي حکومتونو له خوا ټينګيږي ډير مهم دي، مګر له شخصيتونو او ډلو سره پټ اړيکي او دنورو دګټو لپاره دمېليونرانو پړسول او يرغمل کول ناروا کاردی، چې ښايي دادواړه سره بېل شي او خلک يې پر حقيقت وپوهول شي.

دويښتيا او روښانتيا يو ملي نهضت کولای شي دا حقايق روښانه کړي او خلک دشلو مېليونرانو له انحصاري واکمنۍ څخه وژغوري.

# قرباني . توانمندي

په پر مختلليو ټولنو کې دواک ته رسېدلو معيار د( څه کولو ) توانمندي وي ، په ځينو نوروکې چې انقلابي شرايط لري هلته دواک ته رسېدو معيار قرباني وي او دهغو انقلابي ډلو يا افرادو دقربانيو په بدل کې واک ديوه امتياز په توګه ورکول کيږي ،چې ديوه ملي ارمان دترلاسه کولو لپاره يې ځان تېريدنه کړې وي. که څه هم داحساساتي او عاطفي قضاوت له مخې واک ددوی حق ګڼل کيږي ، او خلک ځکه واک دوی ته سپاري چې ټولنه معقولې سياسي زمانې ته ورسوي ، په معقوله سياسي زمانه کې دواک معيار بيا هم د ټولنې دوګړيو دانساني ژوند دښه والي لپاره د( څه کولو ) توانمندي شي او هغه دقربانۍ نسل په اتلانو بدليږي. زموږ په هېوادکې يوبشپړ استثنايي معيار رامنځته شوی دی ، چې لا به چا نه وي اوريدلی. دلته واک ته درسېدو معيار دقربانيو اخيستل دي ، هرچا چې ډير خلک قرباني کړي وي هغه ډير ځواک لري ،مانا داچې هغه خلک لويو څوکيو ته رسيږي چې دخپل واک لپاره له خلکو څخه دقربانۍ اخيستلو ښه استعداد او ظرفيت ولري. شل مېليونران هغه خلک دي ، چې نه دخلکو دانساني ژوند دښه کولو لپاره د( څه کولو ) وړتيا لري او نه يې هم په تيرو دريو لسيزو کې قرباني ورکړې دي ، يوازې يې په تېرو دريو لسيزو کې ددې وطن خلک په دې او هغه نامه قرباني کړي دي. راځئ لږ ځير شو؛ په تېرو دريو لسيزو کې خلکو دخپلې عقيدې ، هېواد ، خپلواکۍ ، ملي ارزښتونو او دانساني ښېګڼو لپاره ډيرې قربانۍ ورکړې دي ، ددې ولس هرې کورنۍ يوڅوک يا څه له لاسه ورکړي دي ، خو واک ته هيڅکله دوی ونه رسېدل او نه هم داسې لايقه او دمديريت خاوند خلک واک ته ورسول شول چې همدغو بېچاره او مستحقو خلکو ته دهغوی دډيرو قربانيو په بدل کې دهغوی دانساني ژوند دشرايطو دښه والي لپاره هڅې وکړي ، داسې چا ته واک ورنه کړل شو چې دشهيدانو پاتې شويو بچو ته دډوډۍ موندلو لارې چارې ومومي يا کونډو او وراروته دکور غم وکړي ، اويا هم دنوموړکيو اتلانو دبچو دښوونځيو چاره

وکړي... بلکې تل واک له هغو کسانو یا ډلو سره و ، چې دهېواد تر ټولو زیات قربانیان ددوی په لاس خاورته تللي دي ، یا هم داسې خلک واک ته ورسېدل چې دقربانیو پاتې شوې کورنۍ یې هم له خپلو کورنو وشړلې ، تیري یې پرې وکړل او یا یې هم لوټ کړل. عجیبه دا ده چې مېلیونران دخپل واک او ځواک ، پیسو او کیسو استحقاق دقربانیانو له کورنیو څخه په زوره اخلي او ددې لپاره دلیل هم دا راوړي چې دوی ، ګواکې په تېرو دیرشو کلونو کې دا یا هغه څه کړي دي او په دې یاهغه پیل یې توره ورننه ایستې ده.

دشلو مېلیونرانو په واک کې څه ویل لویه ګناه ده ، ځکه دوی په تیرو دیرشو یا پینځه دیرشو کلونو کې دخلکو ډیر زامن شهیدان کړي دي ، نو اوس یې واک بیخي لکه دمور شیدې داسې حق دی. ستونزه دا ده چې له ولس څخه لاره ورکه ده او په دې نه پوهیږي چې دواک ته رسولو معیار څه دی؟ که دمعقولو ټولنو په څېر دپرمختګ او دخلکو دژوند دشرایطو دلا ښه والي لپاره توانمندي د واک معیار وي ، خو دا په شلو مېلیونرانو کې نشته ځکه دشلو مېلیونرانو له پرېسېدلو سره همهاله دخلکو په بدنونو کې وینه وچیږي او دهر یتیم د درې څلورو وختو ډوډۍ په یوه وخت د یوه مېلیونر جنګي سپي ته اچول کیږي. که معیار دا وي چې واک ددرې لسیزو په اوږدو کې دقربانیانو دسرښندنو په بدل کې هغوی یا یې وارثانو ته ورکول کیږي نو چیرې دي؟ قربانیان خو مړه شول او کورنۍ یې یا ګدایي کوي ، یا هم دسبا او بیګا په وچه ډوډۍ پسې وتلي دي ، دنړۍ یو دود معیار هم نشته چې ددوی لپاره له واک څخه ګټه واخلي.

یومهال مې کوم ځای لوستلي وو ، چې دلویو اهدافو لپاره اتلولي او قرباني هغه پاک ارزښت دی چې ښایي دواکغوښتنې په مردارۍ ونه لړل شي او که نه بیا ورته څوک دقربانۍ او اتلولۍ په سترګه نه ګوري. په نړۍ کې هغه مشران ډیر یادیږي چې قرباني یې ورکړې وي خو امتیاز یې نه وي غوښتی ، مودې وروسته خلک ورته په خپلو زړونو او ذهنونو کې امتیاز ورکوي. نېلسن ماندېلا نیم عمرپه زندان کې و ، له یوه ځل ولسمشرۍ پرته ،دخلکو له ډیر ټینګار سره سره ،له واکه لاس په سر شو او ځانته یې دخلکو په زړونو کې واکمني جوړه کړه ، پاچا خان هېڅکله دپاچایي دعوه ونه کړه ، خو افغانان یې اوس هم پاچاخان

ګڼي. اعلیحضرت امان الله شاه غازي د خپل واک د ساتلو لپاره د یوه افغان وینه هم په تویولو ونه لوروله او له پاچاهۍ څخه تېر شو ...خو زموږ د تېرو درېیو لسیزو په تاریخ کې څه وشول ؟ هم قرباني او هم توانمندي دواړه تر پښنو لاندې شول او پر ځای یې د ډېرو وژنو پهلوانان په شلو مېلیونرانو بدل شول او واک یې ولوټه.

او س مو ستونزه و پېژندله ؛ په هېواد کې د واک ته رسېدلو معیار ورک دی ، دلته د واک ته رسېدلو او یا رسولو ارزونه نه په عقل کیږي او نه هم په عواطفو ، بلکې زور ، زر او ډیر وژل د واک معیار دي ، عجیبه داده چې دلته ګوابښ پېښوونکي کسان او ډلې (ښه ) او (غوره ) ګڼل کیږي ، د همدې لپاره بهرنیان هم د دې خلکو د ټولیزې اروا پوهنې پر بنسټ ټوله معامله او راکړه ورکړه له همدې ګوابښ پېښوونکو سره کوي ، ځکه دوی د خلکو د مراجعې ادرسونه همدوی ګڼي او فکر کوي چې د اولس همدوی ته خوشاله دی نو زموږ یې پرې څه چې په سالمو او پرمختګ راوستونکیو جوړښتونو پسې ګرځو ، زموږ هم ستراتیژیکې ګټې په همدې شلو مېلیونرانو کې خوندي دي.

حللاره:

د واک ته رسېدلو معیار باید معلوم شي ، که عاطفي وي نو باید د هغو قربانیانو له کورنیو سره خبرې وشي چې یو څوک نه یو څوک یې په تیرو پېښنو کې له لاسه ورکړي دي ، زه باور لرم چې د غه شریف قربانیان له تاسو څخه څوکۍ ، وزارتونه او سیاسي پوزیشنونه نه غواړي ، دوی به داوښکو او موسکا ترمنځه درته ووایي: داسې څوک واک ته راولئ ، چې موږ ته کار ، کور ، ښوونځی او د انساني ژوند ښه شرایط برابر کړي او بس ! موږ خپل حق ته رسېدلي یو. مانا دا چې په عاطفي چاپیریال کې پخپله واک معقول حالت ته ورلېږدي او ښایي هغه چا ته وسپارل شي چې د( څه کولو ) توانمندي ولري او ټولنه له دې تباهۍ څخه را وایستلی شي. د څه کولو توانمندي هغه وخت څرګندیږي چې غوره او کارپوه (

نخبه ) افغانان په یوه علمي او عملي سیاسي چوکاټ کې سره راغونډ شي ، دخلکو دژوند دشرایطو دښه والي لپاره خپلې طرحې ، افکار او اعمال خلکو ته وروپېژني او په یوڅه ازاده چاپیریال کې دخپلو طرحو په بدل کې له خلکو څخه رایه وغواړي او په دې توګه خلک هغوی واک ته ورسولای شي ، همدادی د دیموکراسۍ سیاسي منطق.

تر دې وروسته باید دقرباني ورکولو یا قربانۍ اخیستلو دعوې قربانیانو ته دڅه کولو په دعوو بدلې شي او همدا واک ته درسېدلو یا رسولو محک او ارزونه شي ،چې څوک دهغو ـخلکو لپاره چې قربانۍ یې ورکړي دي ـ ګټه رسولی شي او داګټه باید معقوله وي ، دوامداره وي ، عامه وي او ټولیز پرمختګ هم تضمین کړي ، چې یوځل بیا قربانۍ ورکولو یا اخیستلو ته اړتیا پیدا نه شي ، بلکې خلک په پوره هوښیارۍ او ویښتیا خپلو هغو خدمتګارانو ته واک وسپارلای شي چې ددوی له پرونه نن او له ننه سبا او بل سبا لاپسې روښانه ، ودانه او پرمختللې کړي.

# موسسه يي سياست

په انګريزي کې ورته (Institutionalized) وايي ، که مخامخ او بدرنګه يې راوژباړو ، نو(موسسه يي) ورته ويلی شو ، زموږ سياستونه لا موسسه يي شوي نه دي، او تر ډيره د فردي سليقو پر بنسټ رامنځته کيږي او له منځه ځي. د سياستونو موسسه يي کېدل څه دي؟

د اساسي قوانينو ، ملي ګټو ، زماني اړتياوو او علمي تيوريو پربنسټ د يوې ټولنې د غړيو د انساني ژوند د شرايطو د ښه والي لپاره د ستراتيژيو او تاکتيکونو هغه قانونمند کړنلارې ، پلان جوړوونې ، عمل او ارزونې ته ويل کيږي چې نظامونه يې د ملي سياست د کړښو په توګه رامنځته کوي. او د ګومارل شويو چارواکيو او مامورينو له خوا عملي کيږي.

بېلګې:

- د يوه هېواد د پوځي-امنيتي توانمندۍ ، ملي ګټو ، له دې هېواد سره د نورو د چلند د څرنګوالي او نړيوالو-سيمه ييزو شرايطو پر بنسټ د دې هېواد بهرنی سياست ټاکل کيږي ؛ په دې کې د نړيوالو حقونو ، سياسي علومو ، تاريخي اړيکو او بشرپېژندنې لارښوونې په پام کې نيول کيږي او ولس ته يې لويې کرښې اعلانيږي ، او د مقننه څواک تر منښت او هوکړې وروسته عملي کيږي ، د بهرنيو چارو هر وزير يا بل ډيپلومات د همدغو ټاکل شويو اصولو ، پاليسيو او ستراتيژيو تابع دی او بايد د همدغو اصولو پر بنسټ عمل وکړي ، دا که احمد وي که محمود له الف ډلې څخه وي يا له بې ګوند څخه. د سياسي سيالۍ معيار هم داوي چې څوک د غه اصول او کرښې لا پسې پياوړې کولای او لا ښې عملي کولای شي.

- دیوه هېواد داقتصادي سرچینو ، بشري ځواک ، استعدادونو ، انکشافي ظرفیتونو ، ملي او نړیوالو اړتیاوو او ظرفیتونو په نظر کې نیولو سره داقتصاد دعلم پر بنسټ ملي اقتصادي کړنلاره جوړېږي او بیا دهر وزیر او مامور ( کرنې ، بیارغونې ، فواید عامې ، اقتصاد ، سوداګرۍ ، کانو او صنایعو ، ترانسپورت ،اوبو او برېښنا ..... ) له خوا په ګډه هماهنګۍ او پرلپسې توګه عملي کیږي او له یوه کاله بل ، بلکې له یوې ورځې بلې ته په اقتصادي وضعیت کې ښه والی راولي.

فرهنګي ، تعلیمي ، خدماتي او نورسیاستونه یې همداسې درواخله.

## خو اوس زمونږ ستونزه :

اساسي قانون لرو ، پوهان لرو ، ملي ګټې هم باید ولرو خو موسسه یي سیاستونه نه لرو . داولې ؟ ځکه له شلو مېلیونرانو سره ـ چې سرکار یې پرغمل کړی دی ـ دداسې سیاستونو درامنځته کولو اراده نه شته. ولې ؟ ځکه موسسه یي سیاستونه ددوی ګټو ته زیان رسوي ، بلکې بیخي یې له منځه وړي.

## خاطره :

یو مهال مې په دې اړه ، یوې غونډې ته وینا کوله ، له حاضرو دوستانو څخه چا وپوښتلم: کیدای شي شل مېلیونران دا سیاسي شعور ونه لري چې دموسسه یي سیاست اړتیا وپیژني ، ایجاد او عملي یې کړي ؟ خو زما نظر دا و ، چې نه ، دوی په هرڅه ډیر ښه پوهیږي، دا دګټو مسئله ده ، نه دناپوهۍ.

زموږ په هېواد کې هر وزير يا بل چارواکی چې واک ته ورسيږي د نورو طرحې او سياستونه په صفر کې ضرب کړي ، کاري ټيم بدل کړي ، خپل خپلوان يا د باور وړ مشاورين راټول کړي او چې خبريالان ترې وپوښتي: په څه بوخت يې؟ نو ورته وايي: پاليسي جوړوو. کلونه او دادی لسيزه کيږي چې پاليسی نه جوړيږي ، ځکه هريو د خپل واک ته رسوونکي مېليونر د ګټو لپاره په بل ډول او بېل طراز پاليسی جوړوي ، ځکه نو ټول سياستونه فردي- سليقوي دي او د دغو فردي - سليقوي سياستونو معيار هم نه علم يا عمل، بلکې د مارکيټ د غوښتني پر بنسټ لاډيره ګټه ده چې لويه برخه يې هم ديوه پوځي- سياسي مېليونو جېب ته لويږي. فردي- سليقوي سياستونه د نوي چارواکي په توانمندی او پوهې پورې هم اړه لري ، که دا ښاغلی متخصص نه وي او له ځان سره راوړی ټيم يې هم يوازې د دې چارې تخصص ولري چې څنګه د چارواکي او د هغه له لارې د واک ته رسوونکي مېليونر لپاره لاډيره ګټه وکړي ،نو دانا روغي د اداري اجرايوي باډی ته هم پراخيږي ، يوه بشپړه بېتفاوتي او ځانځاني پيل کيږي او پايله هغه ده چې نن يې په خپلو سترګو وينو .

د ( الف ) دوزارت پرمهال مو يوډول د بهرنيو سياستونو چارچلند درلوده او د( ب ) د واک پرمهال بل ډول خو د موسسه يي شوي ملي بهرني سياست کوم څرک لاهم نشته. هيڅ افغان لاهم نه پوهيږي چې له دومره ډيرو دوښمنانو سره مو رسمي- ملي دوښمن څوک دی او دوست مو کوم يو ؟ د اقتصادي سياست په اړه خو دومره ګډوډي ده چې سر يې ان د ټوکې په توګه عامو خلکو ته وتلی دی ، وايي له کوم چارواکي يې وپوښتل چې ستاسو له نظره بايد افغانستان يو زراعتي هېواد وي که صنعتي ؟ ښاغلي په حق به جانبه لهجه وويل: افغانستان ته ښايي چې د بې طرفی سياست خپل کړي ، موږ يو بې طرفه هېواد يو ،نه دا غواړو نه هغه.

تر هغو چې شل مېليونران د واک ته رسولو اصلي سرچينې وي ، د موسسه يي سياستونو رامنځته کول ناشوني دي. يو چارواکی به پر يوه ټوټه زمکه سړک جوړوي ، بل به پرې ښارګوټی ، دريم به پرې هوايي ډګر ... او چې کله دوی سره پايلې ته و نه رسيږي نو له شلو

مېلیونرانو څخه به یو رامخته شي او وبه وایي دا زمکه زما په کار ده ، تاسو نه پرې جوړیږئ ...

## وړاندیځ :

ولس ښایي دخپلې سیاسي ارادې د کارولو له هرې وسیلې څخه کار واخلي ، چې چارواکي دملي موسسه يي سیاستونو رامنځته کولو او عملي کولو ته اړ باسي. ملي شورا ، رسنۍ او دټولیزې پوهې ( جمعي شعور ) دروښانه کولو له هرې لارې چارې باید ددې اړتیا دارزښت او پېژندنې لپاره هڅه وشي.

بیا هم؛ داسې ګوند (ګوندونو ) ته اړتیا شته چې دمبارزې اساس او بنسټ یې دموسسه یي -ملي سیاستونو طرح او عملي کول وي. داګوند باید خلک په دې وپوهولای شي چې دداسې سیاستونو نشت څومره لویه ستونزه ده او څومره یې هېواد وروسته ساتلای دی ؟

ګوندونه ، هغه لوستي افغانان چې باید دروښانفکرانو تشه ډکه کړي ، رسنۍ او پېژندل شوي افغانان باید تر هرڅه وړاندې هغه سیاسي- ټولنیزه اړیکه سمه کړي چې دموسسه یي سیاستونو درامنځته کولو او عملي کولو لپاره اړینه ده. دا اړیکه دلاښو ، عملي او علمي طرحو لپاره دخلکو درایې ورکولو شعور او دیوې ټولنې دوګړیو دانساني ژوند دښه والي لپاره دهڅو د سیالۍ پر بنسټ دهر افغان دسیاسي ارادې کارول دي. دا هڅه او بیا دموسسه یي سیاستونو پېژندنه د شلو مېلیونرانو دچل ول او ټګۍ په پېژندنه کې مرسته کوي ، چې په پایله کې به یې واک هغو جوړښتونو ته ورسیږي چې دموسسه یي پالیسیو ، ستراتیژیو او عملي میکانیزمونو پررامنځته کولو او عملي کولو باور لري.

# ذهنيتي اختلال

شل مېليونران خپلې خپلې رسنۍ لري او تمامه ورځ په کې لرو بر کيږي ، دا رسنۍ څو دندې لري:

- مېليونر ته (کاريزما ) ياکېش شخصيت جوړول ؛ هغه هم په ډېره نامسلکي بڼه او يوازې د شعارونو او خندوونکيو تصويرونو د ښوولو ياليکلو تر بريده . که د مېليونر رسنۍ ته غوږ شې يا يې ولولې ، نو فکر به کوې چې ، دا يې د همدې لپاره جوړه کړې چې د خپل خاوند لپاره (الذم بما يشبه المدح ) وکړي.
- د خلکو پر افکارو او عامه ذهنيت کې د خپلو شعارونو کرل او يا هم له حقايقو څخه د هغوی بېلاري کول
- د ذهنيتي اختلال راپارول (ذهنيتي اختلال د شايعو ، اوازو ، تعبيرونو ، تفسيرونو ، ګومانونو هغه ګډوډي ده چې حقايق يې ترشا پټ شي او په همدې ګډوډي کې د اختلال اچوونکيو ځانګړې سياسي اجندا پرمخ يووړل شي ).
- ټولنيزې بېباورۍ ته لمن وهل ، ځکه يوازې په بشپړه بېباورۍ کې د مېليونرانو ګټې خوندي پاتې کيدای شي.
- د ملي- ريښتينو نهضتونو او رسنيو لپاره د خنډ او ځنډ رامنځته کول.
- او د ککړې سابقې د پاکولو ، هېرولو ، بدلولو او له منځه وړلو هڅه ( مېلونرانو په خپله پوځي سابقه کې ډېرو بچي وژلي ، ډېر يې لوټلي او د هېواد پر ګټو يې سوداګري کړې ده ، دا ټول لا په عامه ذهنيت کې د خاطرو په توګه شته ، د مېليونرانو رسنۍ غواړي په عامه اذهانو کې د غه خاطرې له منځه يوسي . )
- مېليونران په خپلو رسنيو کې د پيسو په وړاندې يو شمېر تحصيل کړي کادرونه استخداموي ( د هغوی له اقتصادي احتياجه په ګټه اخيستو يې زبېښي ، استثماروي يې ) او په دې توګه پر يوه سالم ملي محور د هغوی د راټوليدو مخه نيسي.

د ذهنیتي اختلال زهر :

راځئ وګورو چې د ذهنیتي اختلال ټولنیز تاوانونه څه دي:

- تر هرڅه وړاندې عامه بېباوري خپروي ؛ خلک فکر کوي چې هېواد له لاسه تللی دی او که همدا مېلیونران نه وي نو هیڅ کار نه کیږي ، پر ځان باور هم زیان ویني ، وګړي فکر کوي چې د دوی په شخصیت کې نسبت مېلیونر ته ډېرې نیمګړتیاوې دي او دی نه شي کولای د وضعیت د بنه کېدو لپاره خپله سیاسي اراده وکاروي.
- د جنایت ، جرم او عامه زیان رسوونې په وړاندې معافیت را منځته کوي ، خلک ـ په تیره بیا ځوان نسل ـ فکر کوي چې هیڅ ډول مجازات یا مکافات نشته او هره توره سابقه سپینیدای شي.
- د رسنیو پر رسالت او ملي مسئولیت د خلکو باور له منځه ځي.
- د بیان د ازادۍ اصل زیان ویني او د بیان له ازادۍ څخه د مطلقې انارشۍ تعبیر عاموي.
- د ریښتینو رهبرانو ، علمي ـ عملي نهضتونو او رسنیو د رامنځته کیدو مخه نیسي.
- د شلو مېلیونرانو د تور انحصار له ټینګېدو سره مرسته کوي.
- ژېړ ژورنالیزم ته وده ورکوي.

د مخنیوي لارې چارې :

موږ پخوا ویلي وو چې د شلو مېلیونرانو تشکیلاتي جوړښتونه مافیایي دي او موږ نه شو کولای له دې جوړښتونو سره وجنګیږو . د وهمه خبره داده چې ډېره لږه برخه ویښ او روښانه تحصیل کړي، چې د مېلیونرانو له زېښناکه بهر پاتې دي ، نه ښایي په یوه توره

جګړه کې بوخت شي. او دربېمه خبره دا ده چې مېلیونران هسې هم په وژلو ، ویرولو او زیان رسولو کې له موره یو دي ، نو نه ښایي کمزوریو سالمو کادرونو ته یې دتورې څوکه وروا ړوو ، ښه لاره یې دا ده چې پر علمي-عملي طرحو ولاړ نهضت(ګوند یاګوندونه) رامنځته شي او دنورو کارونو تر څنګ دذهنیتي اختلال مخه هم ونیسي ، دا جوړښت ښایي عامه ذهنیت ته حقایق ورسوي او له هغو رسنیو سره په ګډه کار وکړي چې د مېلیونرانو له سیوري څخه لرې دي ، ولو که هغوی پخپله هم خپلواکې نه وي ، خو لږ تر لږه مخامخ دمېلیونرانو تر کنټرول لاندې خو به نه وي.

دغه نهضت ښایي مخکې تر دې چې تربیون ته ولاړ شي ، لومړی دې خپل افکار ، نظریات ، غوښتنې ، مشورې ، علمي طرحې او سنجول شوي میکانیزمونه ښه منظم او تدوین کړي او بیا دې دهغوی داریېې لارې چارې وپلټي. له مېلیونرانو سره دتقابل او مخامختیا پرځای دځان پیاوړي کولو چارې ته ښایي لومړیتوب ورکړل شي.

خو دڅه ویلو او څنګه ویلو په چاره کې ښایي دغه لومړیتوبونه په پام کې وي:

- دخلکو دسیاسي ارادې راپارول ، خلک باید پر دې باورمند شي چې ددوی اراده او پریکړه ټول کارونه ښه کولای شي.
- دیو پر بل باور روحیه پیاوړې کول ؛ خلک سره هیڅ توپیر نه لري ، که دمېلیونرانو دقومي ، مذهبي ، سیمه ییز ، ژبني او نورو سکتاریستي شعارونو زمینه دخلکو په اذهانو کې له منځه ولاړه شي ، ددوی درانېدلو پیل رالنډوي.
- له ګڼو تربیونونو څخه دحقایقو ویل او تکرار دذهنیتي اختلال مخه نیسي.
- که بحران هم وي ، دخلکو له یوې مخې ناهیلي کول نه دي پکار ، دستونزو پېژندنه تر هماغه بریده ښه ده چې خلک یې مخه ونیولای شي ، دومره شکایت او ناهیلي

خپرول نه دي پکار چې خلک د بدلون راوستلو له هڅې څخه لاس واخلي او لاس و پښې تړلي د مېلیونرانو ترحم ته کېنول شي.

- ځوان نسل ته د دې حقیقت تلقین په کار دی چې: هېڅ میلونر ترقیامته رهبر نه شي پاتې کیدای، او هېڅ رهبر له موره رهبر نه زیږي، بلکې دوی هر یو کولای شي د رهبر کېدو هڅه وکړي.
- ځوان نسل ته د دې ویل په کار دي، چې تاریخ یوازې دزد کړې او تجربې اخیستلو لپاره ښه دی او بس، نور په تیر شوي تاریخ کې جنګېدل، د تورو سپینول یا د سپینو تورول داسې دي لکه په تللیو اوبو پسې بېل را اخیستل، نن او سبا مهمه ده او ښایي په خپل لاس یې جوړه کړو.
- په مېلیونرانو پورې د تړلو رسنیو په وړاندې د ریښتینو خپلواکو رسنیو ملاتړ، او د ترڅولو ښه ملاتړ یې هم دا دی چې د خپراوي لپاره حقایق ور کړل شي.

# اداري پړسوب

شلو مېليونرانو او دهغوی بهرنيو ملګرو ټوله پاملرنه اداري ګنې ګوڼې ته واړوله او دخدماتو پر ځای يې اداري جوړښتونه بېځايه وپړسول ، داداري پړسوب يو لامل داو ،چې دمېليونرانو نږدې کسانو ته څوکۍ لږ وې ، دولتي چارواکي اړ شول چې دزورورو مېليونرانو نازوليو ته لوړې څوکۍ پيدا کړي ، لوړې څوکۍ بې له دفتر او پرسونله نه چليدې نو دلوړو څوکيو لپاره اضافي اداري جوړې شوې او ياهم د شته ادارو څانګې وغځول شوې ، حال دا چې نه بودجه شته او نه هم کار. په سلګونو مشاورين رامنځته شول او ياهم نوې څانګې رامنځته شوې خو اغيز يې داداري له ودانيو څخه باندې احساس نه شو ،بله ستونزه دبې ګټو ناستو ( جلسو ) ميټينګونو ، خبرې او خوراک ( چټينګ اند ايټينګ ) ، سيمينارونو ، ورکشاپونو بېحده او بېضرورته ډيريدل دي. دخلکو په پټيو او کروندو کې بدلون رانه غی ، دخلکو په ويالو کې اوبه پيدا نه شوې ، زمکه تر کر لاندې رانه غله ، کانونه ونه وتل او پروسس نه شول ، دبرېښنا بندونه جوړ نه شول او توليدي فابريکې پيدا نه شوې. دشلو مېليونرانو نازولي په لوکس ، ايرکنډيشن لرونکي دفتر کې پر کمپيوټري لوبو بوخت دي ، نه چاته مشوره ورکولای شي او نه هم خدمات وړاندې کولای شي ، خو په دې ښه پوهيږي ، چې څنګه له اداري څخه په يوه بڼه دمېليونر جيب ته ګټه وکړي. موږ لاهم برېښنا له بهر راواردوو ، حال دا چې موږ يوازې خپل هېواد ته نه ، بلکې ټولې سيمې ته دبرېښنا ورکولو توان لرو ، دمېليونرانو نازوليو مشاورينو هيڅ چارواکي ته مشوره ورنه کړای شوه چې څنګه اوبه مهار کړي ، يو څه پر توربين ورتويې کړي چې برېښنا ترې جوړه شي او نورې پر هغو شاړو زمکو وروا ړوي چې ورېيو افغانانو ته غنم پرې شنه شي. هرڅومره چې دمېليونرانو د باوري ګټياليو لپاره دڅوکيو او ادارو شمېر ډيريږي ، هماغومره دخدماتو سطحه راټيټيږي. دبهرنيو مرستندويانو په اوړو کې هم شګه وه ، که تاسو په سرينا هوټل کې ددې لپاره سيمينار جوړوئ ، چې داداري په اړه ادم سميت څه ويلي ؟ دې ته پيسې درکوي ، خو که دهګيو دتوليد لپاره ديوه کورني فارم جوړولو ته

پیسې وغواړي ، ددې لپاره نته کوي چې د مېلیونر پښه په کې شامله نه ده. داډول اداري چلند ددې لامل شوی دی چې ټوله اداره دلویو ښارونو په ودانیو کې راګیر شوې ده او په ادارو کې هم یوازې کتنې ، خبرې ، سیاسي ډیالوګونه او .... روان دي.

په ساحه کې ؛ دخلکو تر منځ او دهغوی دانساني ژوند دشرایطو دښه والي هڅې نه شته ، بله ستونزه داده چې دمیلیونرانو استازي چارواکي په دې دلیل چې په یو پوځي مېلیونر پورې تړاو لري په خپل امنیت ډیر ویریږي ځکه یې نو له خپلې اداري ښې ډیرې ډبرې ، اغزن سیمان او وسله وال ساتونکي راټول کړي دي ، چې دا ټپخپله له ادارو څخه عام خلک لرې ساتي ، ځکه نو دمېلیونرانو دګټیالیو دشتون له برکته اداري له خلکو بېلې شوې دي.

## ددې تخیل اصلي پوښتنه:

سرکاري اداري ددې لپاره دي ،چې خلکو ته خدمات وړاندې کړي ؟

که:

سرکاري اداري ددې لپاره دي ، چې کوم مېلیونر یا دمېلیونر اړوند ګټیالي ته څوکۍ ورسیږي ؟

دا هغې پوښتنې ته ورته ده چې: پول ددې لپاره دی چې خلک پرې تیر شي ؟که پول ددې لپاره دی چې اوبه ورلاندې تیرې شي ؟

د پوښتنې دوهم ځواب هم سم دی ، خو ګټور نه دی ، مانا داچې تر پول لاندې خو رېښتیا هم اوبه تیریږي ، خو د پول جوړولو غایه ، موخه یا غرض دا نه دی چې اوبه دې ورلاندې تیرې شي ، بلکې له پله جوړولو موخه دهغه ګټه ده ، چې خلک پرې له اوبو څخه تیر شي ، اداري هم همداسې درواخله ، ددې لپاره به ښې وي چې دمېلیونرانو له شره ځان پرې خلاص کړو ،

خو دادارو موخه دا نه ده ، بلکې دادارو جوړېدل ددې لپاره وي چې خلکو ته خدمات وړاندې کړي ، نه داچې د مېليونر ګټيالي هغه خپلو بادارانو ( مېليونرانو ) ته دګټې کولو په سنګر بدلې کړي .

اداري پخپله هدف نه دي ، بلکې خلکو ته دخدماتو درسولو وسيلې دي ، زموږ په هېواد کې له بده مرغه اداري او دهغو څوکيو ته رسېدل پخپله په هدف بدل شوي دي.

## له دې ستونزې څخه څنګه ووځو ؟

راځئ دادارو درامنځته کېدو منطق بيرته راپه ياد کړو ، څکه له ادارو او څوکيو څخه دمېليونرانو انحصاري ګټې اخيستنې دادارو وجودي منطق له موږ څخه هېر کړی دی.

د اداري سيستم اصلي موخه خلکو ته دخدماتو رسول دي او دهېواد داوسيدونکيو دانساني ژوند دشرايطو دښه والي لپاره کارول کيږي. مانا داچې خدمات او دخلکو دانساني ژوند دشرايطو ښه کول اصلي هدف دی او اداري جوړښت وسيله ده.

دوهمه خبره داده چې دا وسيله بايد دچا په لاس کې وي؟ هره کاري وسيله ښايي له هغه چا سره وي چې ښه يې کارولای شي او ګټه ورڅخه اخيستلای شي. موږ سرچپه لګيا يو ؛ د تش لاسو لپاره دوسيلو په زياتولو پسې ګرځو ، ولو که يې يوازې يې دځان په ګټه او دنورو په زيان هم وکاروي.

درېيمه خبره دا ده چې دا وسيله څنګه وکاروو ؟ ښکاره ده چې:دټولو په ګټه.

دوسيلې ښه کارونه سپما ده ، دامکاناتو له لږ لګښت څخه ډيره ګټه اخيستنه داداري يو اصل دی ، نو اداري څومره چې وړې ، تخصصي او ګټورې وي ښې دي ، لويول يې نه دي په کار.

دادارو دارزونې معيارونه هم ښايي له سره وکتل شي ، دامهمه نه ده چې اداره څومره ښکلې ودانۍ لري ، څومره لوکس موبل او فرنيچر په کې شته ، په چاروا کي پسې يې څومره ګولۍ ضد ګاډي او ساتونکي ځغلي ، څومره يې امنيت ټينګ دی ؟څومره مشاورين لري ؟ په څومره غونډو او ناستو کې ګډون شوی دی او څومره ورقې په کې تورې شوې دي؟

دادارو دګټورتيا دارزونې معيارونه بايد داوي چې:

په هغه برخه کې چې کار کوي ، څومره يې دخلکو دانساني ژوند دښه والي لپاره ګټه رسولې ده ؟ څومره يې په لږو امکاناتو او لګښت ډير خدمات وړاندې کړي دي ، څومره ورته دعادي خلکو لاسرسی اسانه دی اوڅومره دهېواد په ټولنيز ژوند کې له نن څخه سبا ته ښېګڼه راوستلای شي ؟

دکرنې ادارې ښايي په کروندو کې بوختې شي نه دا چې په ډبرو کې راګيرو ښاري سنګرونو کې دکمپيوټرونو تر شا سنګر ونيسي او دټولګټو ادارو کارکوونکي په سړکونو او داوبو بندونوکې په کار دي نه دښار په لوکسو هوټلونو کې دخبرو اترو په مجالسو کې ، همدا راز دامنيتي ادارو ګڼه ګونه په سرحدي پولو کې په کار ده نه له رينجر ګاډو سره دپوهنتون ددروازو تر شا دنجونو لپاره د دوړو او مزاحمت کولو په ډګر کې....

دا ټول هغه وخت شونې دي ، چې ادارې دشلو مېليونرانو او دهغوی د ګټياليو له انحصاره خلاصې شي.

# دسیاسي صداقت تشه

دسیاست اوصداقت ترمنځ اړیکه یوه تل پاتې شخړه بریښي. ترهغو چې فردي ، ډله ییزې او پټې ګټې دسیاستونو منځپانګې وي ، په سیاست کې دصداقت رامنځته کېدل ناشونی دی او ترهغو چې سیاستونه په ریښتینولۍ استواره نه وي اوسنی وضعیت نه شي بدلېدای. راځئ وګورو چې په سیاست کې صداقت څه دی ؟

هره هغه سیاسي کړنه چې دیوې سنجول شوې عقلي ـ منظمې پروسې په پایله کې بشپړه شي او ګټه یې خلکو ته ورسیږي ، په حقیقت کې دصداقت پر بنسټ دسیاست یوه برخه ده. داډول سیاست نه یوازې پر تشو احساساتو ، توهماتو ، تخیلاتو ، هیلو او نا سنجول شویو ګومانونو تکیه نه کوي ، بلکې له پیله تر پایه یې بېلا بېل پړاونه یو دبل بشپړوونکي وي ، پر عقلانیت او صداقت ولاړ سیاستونه ستونزمن وي خو اوږدمهالي ګټې لري ، پایله یې ارزول کیږي او دبریالیتوب محاسبه او وړاندوینه یې وار له مخه کېدای شي.

دافغانستان په اړه د ریښتینو او ناریښتینو سیاستونو بېلګې:

سیاسي ځواک په مشروعیت کې ریښه لري ، مشروعیت په خدماتو او دواک په هغو هڅو پورې تړلی دی چې دټولنې داوسېدونکیو دانساني ژوند دښه والي لپاره یې ترسره کوي، خدمات او دانساني ژوند دښه والي هڅې په معلوماتو پورې اړه لري ، معلومات دادي:

ساده بېلګه: افغانستان څومره روانې اوبه لري ، داروانې اوبه دبریښنا دتولید څومره توان ( پوتنسیل ) لري ، اراضي چیرته مساعده ده، له راګرځول شویو اوبو څخه په نورو کومو چاروکې ګټه اخیستلای شو ؟ ددې لپاره څومره پانګه په کار ده ؟ دبهرنۍ مرستې څومره برخه په کې لګیدای شي ؟ که بریښنا په کوردننه تولید شي ،څومره ملي ګټه رسوي ، دذهنیتونو په روښانه کولو کې څومره ونډه لري ، تولیدي چارې څومره لوړولای شي ؟ ددې پوښتنو دقیق او علمي ځوابونه معلومات دي ، دریښتیني سیاست بله برخه ددې

معلوماتو عمل ته راوستل دی ، بشري ځواک څومره او چیرته دی ، کوم بنسټونه ددې کارلپاره مسئول دي ؟زیانونه او ګواښونه یې کوم دي ، ددې کار ممکنه خنډونه څه کیدای شي ؟سیاستوال لوری دا هم سنجوي چې که له خپلو اوبو څخه بریښنا جوړه کړم او خلکو ته یې ورسوم ، نو دهغوی دانساني ژوند په شرایطو کې کوم ښه بدلونونه راتلای شي او بیا له دغو ښو بدلونونو څخه څنګه په واک کې دپاتې کیدو او بیا ځله ټاکل کیدو ګټه پورته کولای شو .

دناریښتیني سیاست بېلګه:

ځان څنګه یوې څوکۍ ته ورسوو ، له څوکۍ څخه څنګه دځان اویا خپلې ډلې لپاره ګټه پورته کړو ، له بهرنیانو سره په قراردادونو کې ګټه ډیره ده ، نوراځه چې بریښنا له بهره راوارده کړو ،ګټې یې دادي: یو خوبه ژر ترژره خلک تېر ایستل شي ، بله دا چې هسې هم دقرارداد پیسې بهرني مرستندویان راکوي په دې کې دوه اړخیزه ګټه شته: دمرستې په اخیستو کې یوځل او بیا له بهرنیانو سره د بریښنا په پېرودلو کې بیا ګټه شته. له هغه هېواد سره به پټې اړیکې ټینګې شي چې بریښنا ترې اخیستل کیږي ، پرزمکو باندې به اوبه نه سپریږي او کرنیز تولید به وده ونه کړي او په دې توګه به کورنی تولید هم نه وي چې داهم دمېلیونرانو ګټه لوړوي ، په دې توګه د مېلیونرانو واکمني پراخیږي. دا ډول سیاست به لنډ مهاله ګټې ولري ، خو عقلي او ریښتینی ځکه نه دی چې په عادي شرایطو کې خپل سیاسي لوري ته دبیا ټاکل کیدو امکان له منځه وړي ، دسیاستوال اړیکه له خلکو سره پرې کوي او استبداد ته لاره هواروي.

له صداقت څخه لرې سیاستوال هڅه کوي ،چې دخپلو سیاسي کړنو دتوجیه کولو لپاره د (صداقت ) بدیل ځواک پیدا کړي ، نو دثبات دله منځه وړلو ګواښ کوي ، خلک ویروي ، دپوځي جوړښتونو دبیا راژوندي کولو ننداره وړاندې کوي ، خرافات ترویجوي ، دخلکو له قومي ، عقیدوي ، ژبنیو او نورو احساساتو څخه دناسمې ګټې اخیستنې هڅه کوي.

د سیاسي صداقت لپاره یوه فرضیه:

فکر وکړئ په افغانستان کې داسې یوه کابینه جوړه شوه چې ټول غړي یې یوازې او یوازې د پښه یې قوم غړي دي او ټول یې هم دیوې ژبې ( پښه یې ) ویونکي دي ، ټول کیدای شي دیوې سیمې هم وي ، خو ټول یې تکړه مدیران دي ، په خپلو کاري څانګو کې لوړې زده کړې لري ، ټول ژمن او پاک افغانان هم دي ، غلا هم نه کوي او یو له بل سره هیڅ مخالفت هم نه لري ،بلکې دیوه ټیم په توګه کار کوي دا ټیم هم بادغیس ته بریښنا رسوي او هم په بدخشان کې روغتون جوړوي ، هم په کندهار کې دمیوې د تولید کارخانه فعالوي او هم دهلمند سیند پر شاړو دښتو وررویشي ، په ننګرهار کې دزیتونو د تولید کارځای جوړوي او په غور کې دکانونو د پروسس او ګټې اخیستنې کار کوي ، له بلخه ګاز پکتیا ته رسوي او د کندز پنبه په بامیان کې په رخت بدلوي او دکوچیانو له وړیو څخه د آقچې دغالیو صنعت ته وده ورکوي ، یو یې په دې هڅه کې دی چې هیڅ افغان بېکوره پاتې نه شي ، بل یې دځوانانو لپاره دکار په هڅه کې دی او دریم یې د دې لپاره پینځه کلن پلان جوړوي چې نور نو افغانستان له بهره جوس راوارد نه کړي ، بلکې دمیدان وردکو له مڼو څخه یې په غزني کې تولید کړي... دا ټول دیوه قوم وزیران شپه او ورځ کار کوي او دخلکو په ژوند کې هره ورځ مثبت بدلون راځي. خو ستونزه داده چې په کابینه کې نه دپښتون استازیتوب شته نه د تاجیک یا ازبک. هزاره افغان دبامیانو له یخ ژمي څخه ژغورل شوی دی ، په کور کې تودې اوبه او جامې لري ، تولید شوي کچالو یې په بازار کې پلورل کیږي او سړکونه یې پاخه دي ، خو په کابینه کې یې استازی نه شته ، ټول حکومت د پښه یې افغانانو په لاس کې دی ، خو شپه او ورځ کار کوي ، ستومانه دي ، دمه یې نه شته څکه هېواد ډیر وروسته پاتې دی او باید کار ورته وشي. ددغو وزیرانو لپاره یوازې یو کور ، یوه ښه اندازه ـ دکفایت تر اندازې ـ معاش او تقاعد په پام کې دی، یو موټر او ډریور هم لري او بس. ټول کارونه دیوې عقلي پروسې په بهیر کې پر مخ ځي. که یو وزیر سم کار ونه کړي خلک کولای شي هغه لرې کړي ، خو بیا هم ددې قوم یا هغه وسله وال جوړښت یا کوم بل مېلیونر ګټیالی په حکومت کې حضور نه لري ، نو تاسو راته ووایاست په دې صورت کې به څه پېښ شي ؟ زما

دا فرضیه پر عقلانیت ولاړه نده ؟ کیدای شي ، خو هغه څه چې دغه ټیم یې کوي عقلاني کارونه دي ، نو ولې دا فرضیه عقلاني نه ده ؟ مهمه دا ده چې په واک کې ټول شامل وي که مهمه دا ده چې په واک کې هغه څوک وي چې له نن څخه سبا او له سبا څخه بل سبا ته په خپله برخه کې بهتري راولي او کار یې د منلو وړ وي ، خلک له هغو ستونزو څخه خلاص شي چې اوس یې لري.

یوې پایلې ته رسیږو :

په دې پسې مه ګرځئ چې څوک دی ، داوګورئ چې څه کوي !

موږ په دې پسې ګرځو چې څوک چیرته مقرر دی ، د کوم پوځي جوړښت ( میلیونر ) استازیتوب کوي ، په کوم قوم پورې اړه لري ؟ او د کوم مذهب توازن برابروي ، بس چې دا د مېلیونرانو دونډې ډېزاین سم و ، بیا نو بلا ورپسې هرڅه چې کوي که یې نه کوي ، (تناسب) او ( توازن) خو جوړ دی.

دا فرضیه او د کړنو ارزونه موږ ته راښیي چې عقلي سیاستونه نه لرو او په سیاستونو کې مو صداقت نه شته.

عقلانیت حکم کوي چې محاسبه زده کړو او پریکړه د معلوماتو پر بنسټ وکړو ، له یوې عملي پروسې څخه پایله تر لاسه کړو ، پایله وارزوو ، او بیا هغه تیروتنې تکرار نه کړو چې تیر ځل موکړې دي.

زما دیوه کوشني لږه کي پر حکومتي موډل فکروکړئ او دې ته ځیر شئ چې خپله سیاسي رایه د ( څوک دی ) پرځای ( څه کوي ) ته ورکړلای شئ.

# دودانۍ ټیم

په تېره برخه کې مو په یوه فرضي ټیم خبرې وکړې ، ماویل کیدای شي داخدمتګذاره ټیم دکارکولو له قومه وي ، دخدمت رسولو په ژبه خبرې وکړي ، افغانستان اوددغه هېواد دانسان د ژوند دشرایطو پربښه کولو ژمن او باورمن وي، په دې پسې به نه ګرځو چې دکوم ځای دی او دکوم قوم استازیتوب کوي، داټیم به خدمات ټول افغانستان ، ټولو قومونو ،سیمواو ژبو ته رسوي ، موخه به یې دټول افغانستان ودانې وي ، نو که داسې یوټیم دودانۍ ټیم وبولو زموږ کاربه اسانه کړي. دودانۍ ټیم د شلو مېلیونرانو په مخامخ قطب کې ودرېږي او دنورو لپاره کارکول دځان لپاره کار ګڼي ، ځکه داټیم باور لري چې ترڅو ټول نېکمرغه نه شي، ( دی ) نه شي نېکمرغه کیدای . دودانۍ ټیم یوازې ژمنه او خواخوږي نه لري ، بلکې دوی باید دپیاوړي مدیریت ، پوهې ، تقوا ، پاکلمنۍ او پاکو لاسونو خاوندان هم وي ، چې دخپلو همغږیو هڅو لپاره سنجول شوي میکانیزمونه ولري او دهغو علمي طرحو پر بنسټ به کارکوي ، چې دافغانستان له شرایطو ، سرچینو او ارزښتونو سره سم عملي هم وي. دودانۍ ټیم خپل مشروعیت دخلکو له سیاسي ارادې څخه اخلي ،چې د (څوک دی ؟ ) پرځای به ( څه کوي ؟ ) ته رایه ورکوي ، په دې توګه وینو چې د ودانۍ ټیم پرډېر زاره چاودي ، پرله پسې ، هوښیار او منظم کار محکوم دی چې دغه ځای ته ځان او خلک ورسولای شي. دودانۍ دټیم لپاره لوی خنډونه دشلو مېلیونرانو ګټې ،د هغوی استبدادي ، مافیایي او انحصاري واک وځواک دی.

دودانۍ ټیم باید خلک په هغو ستونزو خبر کړي ، چې دشلو مېلیونرانو د دا ډول واک وځواک ددوام له امله ورسره مخ دي ، دهمدې لپاره دملي ویښتیا ، روښانتیا او بدلون پراوونه باید ووهي.

دوداني ټيم نه ښايي له مېليونرانو سره په جګړه کې ښکېل شي ، تصادم او تقابل ښه لاره نه ده ، دمېليونرانو اصلاح او سمې لارې ته ورسيخول په کار دي ، دمېليونرانو پانګه او شتمني له منځه وړل نه دي په کار ، بلکې ددغې پانګې مشروعيت ، سمې ګټې اخيستنې او توليدي کول په کار دي. ددې لپاره ښايي هلې ځلې وشي ، چې سياسي-پوځي مېليونران په سالمو پانګوالو واړول شي او ددوی تور او توريدي اقتصاد په سپين او توليدي اقتصاد بدل شي ، دوداني ټيم کسات نه اخلي ، بلکې اصلاحات راولي او مرسته کوي.

ددې لړۍ په نورو برخو کې به د وداني دټيم د طرحو ، افکارو او کړنو په اړه خبرې وکړو ، خو لومړی به وګورو چې دوداني ټيم څوک دي او څه ځانګړنې لري.

- دوداني ټيم دافغانستان دهغو ويښو او او روښانه افغانانو يو متشکل ، فکر محوره او کاري ټولګه ده چې دافغانستان دهر اوسيدونکي دانساني ژوند دشرايطو دښه والي لپاره فکر او کار کوي.
- ددې ټيم غړي بايد دخپل اوسمهالي کار پر مهال په هېڅ هغه سياسي جوړښت کې نه وي شامل ، چې په تيرو ديرش کلنو ناورينونو کې په لاس لرلو تورن دي.
- ټيم له تاريخ څخه يوازې زده کړه کوي ، تجربه ترې اخلي ، خو دهغه لپاره جګړه نه کوي ، بلکې ټوله هڅه او کار يې دنن او سبا دجوړولو او لاښه کولو لپاره دی، داپه دې مانا چې دتيرو دوښمنيو او دوستيو په بندونو کې بند نه دي.
- دوداني دټيم غړي بايد داسې څوک نه وي چې په تيرو ديرشو کلونو کې دچا په وژلو ، لوټلو ، هېوادپلورنې ، افغان او افغانستان ته په زيان رسولو محکوم يا حتی تورن وي.
- دوداني ټيم دقومونو ،ژبو ، سيمو ، مذهبونو او نورو ويشونو راټول شوی نمايشي کلېکسيون نه دی ، بلکې دمديريت ، مهارت ، ريښتينولۍ ، خدمت رسولو او کارکولو دځنګه والي او څومره والي پر بنسټ داسې کاري جوړښت دی ، چې يوله بل سره کار کولای شي او په اسانۍ سره يو دبل ممد او متمم کيدای شي.

- دوداني ټیم دځان لپاره هغه څه غواړي ، چې دټولو لپاره یې غواړي په حقیقت کې دټولو لپاره دانساني ژوند دشرایطو دښه والي له لارې غواړي دخپل ژوند شرایط هم ښه کړي ، خو دده په ژوندکې ښه والی به هماغومره وي ، چې دیوه ابتدایه ښوونځي دښوونکي په ژوند کې راځي.

کیدای شي دده دهڅو له برکته دابتدایه ښوونځي د ښوونکي ژوند د یوه سویسي یا بډای عربي هېواد دیوه اوسیدونکي دژوندتر بریده ښه شي ، بیا نو دده ژوند هم همدومره ښه کیدای شي.

- دوداني ټیم پر ټاکلي فکر راټولیږي ، دکیش شخصیت ګرځیدلو ، دمشرۍ یاکشرۍ معیارونه به دا وي چې دوداني او ښه خدمت لپاره څومره کار کولای شي.
- دټیم غړي به دهېواد دملي ګټو او قوانینو تر څنګ هغو اصولو ته هم ژمن وي چې ددې فکر محوره ټیم دسم چلند او ډیر کار لپاره یې په خپلو منځونو کې ټاکي.
- دوداني ټیم هېڅ غړی به له بهرنیو هېوادونو او کړیو سره پټ او یا ښکاره فردي اړیکي او راکړه ورکړه نه لري ، هر ډول بهرنۍ اړیکي به دهېواد او کاري ټیم د قوانینو او اصولو پربنسټ جوړوي

زما قدرمن لوستونکي به خامخا فکر کوي ، چې زه ورته دکومې ( مدینه فاضله ) ارماني ښار انځوروم او زما دغه خبرې به ورته ډیرې خیالي او ارماني ښکاري ، خو داسې نه ده.

دشلو مېلیونرانو له انحصاره دخلاصون یوازینۍ لاره همداسې یوه کاري ټیم ته دواک وځواک ورلیږدول دي ، خو دالیږد باید شعوري ، بنیادي او معقول وي. په دې مانا چې ولس باید دالیږد دخپلې سیاسي ارادې پر بنسټ ترسره کړي ، نه کومه ډله یا کوم وګړی دلته دکوم بل وسله وال انقلاب یا کودتاه ځای نشته او نه هم ددې لیږد لپاره دکومې

بلې جګړې حوصله پاتې ده ، نو پوښتنه به رامنځته شي چې دا ټیم به له کومه شي او خلک په دې کې څه ډول ونډه اخیستلای شي ؟

ځواب دادی ، چې دا ټیم باید دهغو لوستیو افغانانو له خوا جوړ شي چې دروښانفکرانو ونډه لوبولای شي ، همدغه لوستي افغانان که سم کار وکړي او خپل وینتیایي- روښانتیایي نهضت بریالی کړای شي ،نوکولای شي ورو- ورو په تاریخ کې دلومړنیو افغاني روښانفکرانو یوه هسته رامنځته کړي او همدوی له لوستیو افغانانو څخه په لومړنیو افغاني روښانفکرانو بدل شي. دوی باید مخامخ واک ته درسېدو پرځای لومړی دخلکو منځ ته ورشي او دهغوی پراخ ملاتړ ترلاسه کړي ، بیا نو دهمدې ملاتړ په مرسته خپل فکري.عملي خوځښت بریالی کړي ، لومړی باید خلک دشلو مېلیونرانو له ګواښ څخه خبر شي او بیا دغه شعور عام کړای شي ، چې دخلکو سیاسي اراده مهمه ده او د ا اراده ښایي د ( څوک دی ؟ ) پرځای ( څه کوي ؟ ) ته رایه ورکړي او بالاخره له دې لارې ولس په شعوري توګه او دخپلې سیاسي ارادې پرمټ د شلو مېلیونرانو انحصاري واک وځواک دودانۍ همدغه ټیم ته وسپاري ا و په کلکه یې دکړنو څارنه او نظارت هم وکړای شي چې خدای مکړه دا ټیم پخپله دککړتیا او استبداد لوري ته ورکوږ نه شي.

# دودانۍ دټیم ستونزې

دودانۍ ټیم به دخپل کار په پیل کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ شي ، خو داپه دې مانا نه ده چې هڅه او زیار یې بې ګټې دی او ګواکې موخې ته به ونه رسیږي. راځئ دودانۍ دټیم په مخکې پرتې ستونزې وشمارو او بیا یې حللارې هم یادې کړو.

- دشلو مېلیونرانو انحصاري ګټې او واک وځواک تر ټولو لوی خنډ دی ، ځکه دوی دخپل سیاسي ځواک ، پوځي ډلو او اقتصادي (تورو او توریدي ) ګټو ددوامداره او میراثي ساتنې لپاره دیوه روښانه ، ویښ او بدلون راوستونکي فکري او سیاسي خوځښت مخه له بېلابېلو لارو نیسي. او که دوی داکار ارادي ونه کړي هم، هغه انحصار چې دوی دیوه اغزن سیم په توګه له هرڅه څخه راچاپیرکړی دی ، دیوه لوی خنډ په توګه پیژندل کیږي ، ددې خنډ وځنډ څرنګوالی ددې لړۍ په لومړیو کړیو کې لوستلای شئ.
- عامه بېباوري ، په تیرو دیرشو کلونو کې سیاستلوبو او له ګوندي ، سازماني او آن مدني خوځښتونو څخه ناوړه ګټې اخیستنې او دبهرنیانو پرلپسې لاسوهنو د هر ډول متشکل جوړښت په وړاندې دخلکو باورونو ته کلک زیان رسولی دی او داچاره یې یوه څه ستونزمنه کړې ده چې خلک دې په بشپړ جرئت پر یوه افغاني ټیم را غونډ شي او دهېواد ودانۍ ته دې ملا وتړي.
- تر دیرشو کلونو ډیر وخت وشو ، چې دافغانستان په اړه دلویو سیاستونو پریکړې په بهر کې او یا دبهرنیانو په ملاتړ تر سره کیږي ، دې ستونزې خلک دې باور ته رسولي دي چې ترڅو بهرنیان پریکړه ونه کړي ، هیڅ افغان خوځښت سمون او بدلون راوستلای نه شي. حال داچې دودانۍ ټیم به یو بشپړ افغاني خوځښت وي.

- دوداني ټيم به دخپلي مبارزې په پيل کې دتش جيب او تشو لاسونو له ستونزې سره مخامخ وي ، په تيره بيا په داسې ټولنه کې چې د مېليونرانو سياستلوبو او کمپاينونو ( په سياست کې دپيسو دبادولو عادت ) په يوه سياسي فرهنګ بدل کړى دى او يوځل بيا يې دا باور له خلکو سره پياوړى کړى ، چې سياست بې له پريمانه پيسو نه شي کيدلاى . حال دا چې دوداني ټيم نه له بهرنيانو څخه پيسې اخيستلاى شي ، نه غلا او فساد کولاى شي او نه هم له تورو لارو پيسې ګټلاى شي. د وداني ټيم يوازې د خپلو ګډونوالو ( حق العضويتونو ) او يا هم دخپلو خپروونو دپلورلو او بې شرطه بسپنو په مرسته کارکوي.
- دوداني ټيم به په لومړي سر کې دکادرونو له کمښت سره هم مخامخ وي ، ځکه کادرونه د مارکيټ تر ټولو قيمتي کالي دي ، چې همدا اوس د شلو مېليونرانو په منګولو کې ښکېل دي او په مخامخ يا نا مخامخ بڼه يې زبيښي.

خو له دې ټولو ستونزو سره سره دوداني ټيم بايد رامنځته شي او دخلکو تر منځ خپل ځان ته ځاى وګوري.

راځئ لږ په دې تم شو ، چې دوداني ټيم څنګه کولاى شي د پورته خنډونو په وړاندې خپلې هڅې وقايه کړي ؟

تر هرڅه وړاندې د ويښتيا په پړاو کې بايد خلکو ته هغه ګواښونه ورو پيژندل شي ، چې د اوسنيو ناخوالو دوام يې ورته پېښولاى شي. دروښانتيا په پړاو کې ( چې دمبارزې دوهم پړاو دى ) بايد له دې ګواښونو او ستونزو څخه د ځان ژغورنې دعملي لارو چارو ورپېژندنه وشي او هغه ميکانيزمونه يې تر مخې کېښودل شي ،چې پر علمي بنسټ ولاړ وي او دافغانستان له شرايطو سره سم عملي هم وي. او په دريم ګام کې دهغه بدلون دبهير لارښوونه وکړاى شي ، چې خلک يې ترسره کول غواړي.

دا ټول د یوه متشکل ، منظم ، دسپلین لرونکي او دیموکرات سیاسي خوځښت په جوړېدو سره تر سره کېدای شي.

همدا جوړښت دودانۍ ټیم دی ، چې هم به په خلکو کې دبې باورۍ فضا له منځه وړي ، هم به د شلو مېلیونرانو دانحصار ګواښ ورپېژني ، هم به دافغانمحوره سیاست اړتیا او وړتیا معرفي کوي او هم به پخپله دمبارزې په ډګر کې خپل وخت ، امکانات او اینرژي لګوي.

دودانۍ ټیم تر هغو چې دخپلو هڅو او موخو پر حقانیت باور ونه لري ، مبارزه نه شي کولای ، دهر ډول بېباورۍ علاج دادی چې تاسو خپله پر هغې لارې باور وکړئ چې پرې روان یاست.

دودانۍ ټیم ښایي خپله منظمه مبارزه په یوه ایډیولوګ بدله کړي او هڅه وکړي دخپلو طرحو دپراخولو په بهیر کې نور هم پرې وپوهولای شي ، البته دتړلیو طرحو دمبلغانو پر خلاف، تل ښایي دخپلې طرحې په وړاندې کره کتنې ومني او دهرې شیبې تکمیل او اصلاح لپاره یې چمتو اوسي.

دودانۍ ټیم ښایي فکر محوره وي ،نه شخصیت محوره ، دا سمه ده چې شخصیتونه مهم دي او دا شخصیتونه دي چې افکار رامنځته کوي ، خو دودانۍ ټیم ددې پرځای چې د خپلو ملګرو اینرژي ، وخت او نفوذ دکوم شخصیت دپېسولو یا ورانولو پرچاره ولګوي ، ښه به دا وي چې دخپلې فکري طرحې پر پخولو یې ولګوي. فکر محوره جوړښتونه د مشرۍ یا کشرۍ په ستونزه کې نه پرېوځي او هر هغه څوک چې دټاکلي فکر او طرحې دبریالیتوب لپاره ډېر کار کولای شي هماغه دبهیر مشرۍ ته ورپورته کېږي. په حقیقت کې د ودانۍ ټیم د ( څوک دی ، ) پر ځای ( څه کوي ؟ ) ته رایه له خپل منځه پیل کوي.

دودانۍ ټیم دخپلې مبارزې په اوږدو کې ښایي دخپلې مبارزې له بېوزلۍ څخه ونه وېرېږي ، او هېڅکله په زرق وبرق او فیشن پسې ونه ګرځي ، خلک با لاخره پر بېوزله او فقیرو ،خو پاکو او پر خپلو پښو ولاړو جوړښتونو باور کوي او دغه باور به ډېر پوخ او تلپاتې وي.

لیدل شوي دي چې ډیر معقول سیاسي خوځښتونه د پردیو د مرستو ( ! ) یا پیسو ورکولو له امله ناکام شوي دي ، همدا راز پر شتمنیو یې داخلي سیالۍ پیل کړي دي او د مادي امتیازاتو په خاطر سره پاشل شوي دی.

او بالاخره دوه دانۍ ټیم باید په پیل کې پر تنویري ، تشکیلاتي او دخپلو سیاسي طرحو د پیاوړتیا پر هڅو ډیر زور واچوي ، چې هغه عامه باور ته ځان ورسولای شي ، چې ورته د مبارزې لپاره په کار دی. له شخصیتي پلوه دوه دانۍ د ټیم غړي ښایي د تقوا ، ښو اخلاقو ، پوهې او پیاوړې ارادې ښښې وګڼل شي ، د اټولې ځانګړتیاوې کولای شي دوه دانۍ ټیم هغه لوی ارمان ته ورسوي ، چې د یوه ملت د ژغورنې لپاره یې لري.

# دوښمن

موږ بايد يو لوی ملي دوښمن ولرو . موږ ګڼ دوښمنان لرو ، خو ټول ورته دګډ دوښمن په سترګه نه ګورو ، زموږ دټولنيزو ، ملي او هيوادنيو اختلافاتو او مخامختياوو يو لوی لامل همدا دی چې ګډ دوښمن نه لرو ؟ هغه ګاونډی چې په افغانستان کې لاسوهنه کوي او هرڅه يې له لاسه وران دي، موږ ټولو ته ګډ دوښمن نه ښکاري ، ځکه هرګاونډی دګڼو دوښمنانو ترڅنګ يوشمېر دوستان هم لري او که دوی داسې دوستان ونه لري نو نه شي کولای په افغانستان کې خپلې لاسوهنې تر سره کړي. هغه هېواد چې موږ ورڅخه ځوريږو ځينې افغانانو ته دوښمن ښکاري او ځينو ته دوست. ويل کيږي چې په يوشمېر هېوادونو کې حکومتونه ، ګوندونه او يا هم استخباراتي کړی ددې لپاره چې ټول خلک سره يو موټی کړي او يووالي ته يې راوبولي نو له يوه لوی ، ګواښمن او پياوړي دوښمن څخه يې ويروي. مثلا دپاکستان پوځ او سرکار ددې لپاره چې په خپلو خلکو کې خپلو سياستونو او پياوړي حضور ته لاره هواره کړي نو دهندوستان په څېر يو ځواکمن دوښمن يې د هغوی مخې ته درولی دی او ټول پاکستانيان يې دهند ددوښمنۍ پر محور راټول کړي دي. همداراز ويل کيږي ، چې دساړه جنګ پرمهال به شوروي او امريکا دواړو يو دبل په اړه افسانوي او له مبالغې ډک تبليغات کول او په دې توګه به يې خپل خلک له دې څخه ويرول چې که له حکومتونو سره مرسته ونه کړي ، نو پياوړی دوښمن به يې دړې وړې کړي ، يو شمېر خلک فکر کوي ، چې همدا اوس لويديځ له ( ترهګرۍ ) څخه همداسې يو افسانوي دوښمن جوړ کړی دی او دخپلو خلکو دټکس او ماليې راټولولو ته يې ديوې بهانې په توګه له دې دوښمن څخه لوی ښامار جوړ کړی دی . له دې څخه ښکاري ، چې يوه لوی دوښمن ته اړتيا شته او ښايي ديوه لوی دوښمن له ويرې سره يوځای شو ، سره يو شو او ددې دوښمن په وړاندې سره واحد سنګر ته پريوځو ، موږ ډير دوښمنان لرو ، خو ددوښمنۍ په سترګه نه ورته ګورو . موږ دخپلو دوښمنانو پر سر هم يوله بل سره شخړه کوو ، يو وايي پاکستان دوښمن دی ، بل وايي نه دوست دی. يو سړی ټکوي چې ايران دوښمن دی ، بل وايي نه زموږ

هم فرهنګه او همژبی ګاونډی دی ، د روس او امریکا هم همدا حال دی ، خو تر دې لوی دوښمن رانه هېر دی. موږ یو لوی دوښمن لرو ، چې دا ټولې نورې دوښمنۍ یې رازیږولي دي او موږ یې په ډېرو لویو دوښمنیو اړولي یو ، دا یو داسې دوښمن دی چې که دا افغانانو ورپام شي نو ټول به ووایي چې ؛ هو دا تر ټولو لوی او د ټولو افغانانو ګډ دوښمن دی. دا دوښمن که وپېژنو او له هغه سره جګړه پیل کړو ، نو ټول به پر ته له هېڅ توپیره ورسره وجنګیږي ، هېڅ څوک به یې دوست و نه ګڼي او هیڅ خواخوږي به ورسره و نه شي. که سرکار دا دوښمن دا صلي دوښمن په توګه په رسمیت وپېژانده او له هغه سره جګړه یې په خپل رسمي سیاست واړوله ، نو ټول ولس به په کلکه ورسره ودریږي ، خو په دې شرط چې سرکار په دې دوښمنۍ کې ژمن او ریښتینی وي او خلکو ته یې دغه ریښتینولي زبات شي.

زموږ ملي دوښمن څوک دی ؟ دا لوی دوښمن ( احتیاج ) دی ! موږ هغه لوی دوښمن ، چې د هغه په وړاندې سره راټولیدای شو او ملي یووالي ته رسیږو ، تیار لرو ، خو چې په رسمیت یې و پېژنو. همدې دوښمن زموږ هېواد د ګاونډیانو د مداخلې او سیالیو په ډګر اړولی دی ، همدې ( احتیاج ) موږ د دې او هغه زبرځواک ښکېلاک ته ورټېل وهلي یو ، همدې لوی دوښمن رانه خپلواکي لوټلې ده ،همدې لوی دوښمن مو سرکار له پښو غورځولی دی ، همدې احتیاج په خپلو کې په بدیو او تربورګلویو اړولي یو ، همدې احتیاج رانه ملي یووالی لوټلی دی ، په جهالت یې ککړ کړي یو ، عاطفه یې رانه لوټلې ده ، تاوتریخوالي ته یې اړ ایستلي یو ، بېرحمه کړي یې یو ، وژنو ته یې مجبور کړي یو ، د ګاونډیانو او زبرځواکانو د غلامۍ پړی یې غاړې ته رااچولی دی.

د ودانۍ ټیم باید تر هرڅه مخکې له همدې دوښمن سره یوه فعاله ( نه منفعله او شعاري ) مبارزه پیل کړي. د ودانۍ د ټیم تر ټولو لویه سیاسي ځانګړنه باید همدا وي چې خپل کار له همدې دوښمنۍ څخه راپیل کړي او ټول خلک له دې اووه سري ښامار سره جګړې ته په یوه کتار کې ودروي. له احتیاج سره جګړې ته هزاره ، تورکمن ، نورستانی ، تاجیک او پښتون یوځای ودریږي او له دې ملي دوښمن سره د شعیه او سني ستونزه ګډه ده. چپ او ښي یو ډول ورڅخه ځوریږي او کلیوال و ښاري دواړه ځپي، پوزیشن او اپوزیشن دواړه له

پښنو غورځوي ، ځکه نو هغه محور چې ټول افغانان پرې را ټولیدای شي یوازې او یوازې له لوی ملي دوښمن ( احتیاج ) سره دمبارزې اراده ، فکر او عمل دی. اوس په افغانستان کې د احتیاج سرتیري استازي همدا شل مېلیونران دی او ددوی د انحصار او حرص له امله د احتیاج دیو ورځ په ورځ غټېږي او پیاوړی کیږي ، تر هرڅه مخکې باید د احتیاج ددغو سپاهیانو انحصاري پانګه او ځواک اوبه شي ، زه نه وایم چې له شلو مېلیونرانو سره دې جګړه وشي ، خو دهغوی توره پانګه دې سپینه شي ، دهغوی توریدې او تور اقتصادي فعالیت دې په تولیدي او خدماتي اقتصاد واړول شي ، د احتیاج لومړۍ جبهه همدلته ماتیږي. دودانۍ دیوه بریالي ټیم رامنځته کول چې د احتیاج په وړاندې دجګړې رهبري پرغاړه واخلي ددغې لویې ملي دوښمنۍ دملاتیر دی.

په دې اړه دودانۍ دټیم دکار میکانیزم:

ترهرڅه مخکې دودانۍ ټیم باید پر همدې منطق او هوډ رامنځته شي ، چې هېواد او ولس به له دې لوی دوښمن څخه ژغوري.

په دوهم ګام کې د احتیاج لاملونه ( عوامل ) ، سرچینې او اسباب باید وپېژندل شي.

په دریم ګام کې ښایي له دې لوی دوښمن سره دمبارزې علمي-عملي لارې چارې ، اسباب او سرچینې په نښه شي او له هغو څخه دګټې اخیستنې دقیق او ګام پرګام پړاوونه خلکو ته وروپیژندل شي.

په څلورم ګام کې دوینښتیا او روښانتیا په پړاوونو کې ښایی خلک ددغه واحد دوښمن له ګوابښ او ځواک څخه خبر کړای شي ، چې بیا له هغه سره جګړې ته په ګډه سره یو شي.

او په پینځم ګام کې ښایي دودانۍ دټیم تر رهبرۍ لاندې ټول خلک یوځای دلوی دوښمن په وړاندې عملي جګړه پیل کړي ، دخپلواوبو ، زمکې ، غنمو ، هګیو ، تیلو او..... تولید ، عرضه ، او مصرف ددې عملي جګړې لومړني ګامونه دي ، چې ښایي خلک یې پورته کړي.

خلکو ته ښايي تفهيم شي ، چې که له احتياجه خلاص شو ، نو په هماغه ورځ به د ( الف ) او (بې ) قوم ترمنځ هم کومه ستونزه نه وي او د(ج ) او ( د ) دژبو شخړه به هم پای ته رسيدلې وي. هېڅ مېليونر به د خلکو له مادي فقر او احتياج څخه سياسي ګټه نه شي پورته کولای او د هېڅ ګاونډي له وسه به نه وي پوره چې بيا د افغانستان په چارو کې لاسوهنه وکړي. هېڅ څوک به په دې او هغه باور د خپل هېواد ګټې په پرديو نه پلوري او د څو خيرنو روپيو لپاره به هېواد ته ملي خيانت نه کوي. د ټولو دوښمنيو ابې ( احتياج ) به له منځه ولاړه شي.

مونږ د افغانستان خلک د کوم قوم ، ژبې يا مذهب په وړاندې دوښمنۍ ته نه شو راپاڅولای ، ان د هغو هېوادونو په وړاندې يې هم نه شو سره يو کولای ، چې زمونږ هېواد ته يې اور وراچولی دی ، خو تر دې لا دستر دوښمن ( احتياج ) جګړې ته يې سره راټولولای شو ، اته ويشت ميليونه افغانان دې جګړې ته تللای شي ، خو چې د ودانۍ ټيم يې سمه رهبري وکړای شي.

دودانۍ د ټيم لويه ځانګړنه همدا ده چې د مېليونرانو د انحصاري واک وځواک سرچپه بهير پيل کړي او ټول خلک له يوه لوی ، خو تراوسه ورک او پټ دوښمن ته مخامخ ودروي ، زه د دې جګړې د برياليتوب په اړه هيڅ شک نه لرم ، خلک يې خامخا ګټي ، خو که دودانۍ ټيم يې سمه رهبري کړای شي.

# ملي وجدان

دملي بحران پرمهال دولسي خوځښت درهبرۍ لپاره یوه داسې شخص ، فکرمحوره جوړښت یا دشخصیتونو یوې مجموعې ته اړتیا شته ، چې دټولیز وجدان ونډه ترسره کړای شي. په افغانستان کې همدا ونډه دودانۍ تیم ته ورپه غاړه ده. راځئ وګورو ،چې دملي وجدان ترکیب څه مفهوم لري ؟ هغه شخصیت ، جوړښت یا خوځښت ،چې دټولنې وګړي دخپل ګډ برخلیک ښه او بد دهغه ( هغوی ) له نظر سره سم وارزولای شي، په حقیقت کې يې دملي وجدان ممثلین ګڼلای شو . دهر ځله په کړکیچنو حالاتو کې ملي وجدان ته اړتیا پېښېږي ، هندوستان چې دخپلواکۍ په جګړه کې ښکېل و ، نو ګاندهي ، مولانا ازاداو دهغوی ملګري دهندوستانیانو دملي وجدان هنداري شوې ، پر امریکايي تورپوستو چې دتوکمپالنې متروکې راوریدې ، نو ډاکټر مارټین لوترکینګ دتورپوستو په ټولیز وجدان بدل شو ، نلسن ماندیلا دسهیلي افریقا دملي وجدان ممثل شواو په دې وروستیو کې دپوځي زورواکۍ ترموزو لاندې برما ( میانمار ) دانساني حقونو او دیموکراسۍ څېره دانګ سان سوچي په مدني مبارزه کې ولیده .

موږ له څواړخیزه کړکېچونو سره لاسو ګریوان یو ، دشلو مېلیونزانو ټینګېدونکی انحصار له یوې خوا ، دګاونډیو او نړیوالو قدرتونو لاسوهنې او دوکې ، دټولنیزو اخلاقو زیانمن کېدل له بلې خوا ، ولږه او بېوځلي له یوه اړخه او دپیسو ، زور وځواک لپاره دجنایت او جرایمو عمومي معافیت له بله لوري ټولو لاسونه سره ورکړي دي او موږ يې دکړکېچونو په یو ه توپان کې راګیر کړي یو ،ځکه نو موږ تر هرې بلې ټولنې ډېر دملي وجدان یوه معنوي ځواک ته اړتیا لرو . ښایي پوښتنه رامنځته شي چې ولې دکړکېچ پرمهال داسې یوه ځواک ته اړتیا ډېره وي؟ ځواب يې دا دی چې په یوه هوسا او ټیکاو منه ټولنه کې چې قانون په کې واکمن وي او دوګړیو حقونه دقوانینو په مرسته خوندي کیږي ، سرکار دخپلو وګړیو دګټېدې مړولو او شخصیت ساتلو مسئولیت پېژني هلته ټولنیز ښه و بد دقوانینو پر بنسټ ارزول کیږي ، په داسې ټولنو کې دقوانینو دپرلپسې او اوږدمهاله واکمنۍ تراغیزې

لاندې وګړنيز اخلاق لوړيږي او ټولیزه هوساینه ( اجتماعي رفاه ) د جرایمو او جنایتونو کچه راکموي ، په داسې ټولنو کې د ملي وجدان اړتیا دومره نه وي لکه په بې قانونه ،کم اخلاقه ، وړې او وزګاره ټولنه کې چې يې اړتیا لیدل کیږي.

دودانۍ ټيم باید د افغاني ټولنیز وجدان یوه مظبوطه ستنه رامنځته کړي ، داسې چې هرکله د افغانانو په وړاندې دګډ برخلیک پوښتنې رامنځته کیږي ، ښایي دوی ته مخه کړي او د خپلو ګډو پوښتنو ځوابونه ددوی په فکر او عمل کې ولټوي. ددې اړتیا له مخې دودانۍ د ټيم فردي او ټولیز اخلاق ، چلند ، پوهه ، ریښتینولي ، پاکلمني او اغیز بنسټيز ارزښتونه دي. دودانۍ ټيم باید د افغاني ارزښتونو ، حساسیتونو ، باورونو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د ټولیزې رهبرۍ ستيج ته پورته شي او هغه لویه تشه، چې د دودیزو اخلاقو ، عواطفو ، قانون او سرکاري نظم په نشت یا کمزورۍ کې رامنځته شوې ده ،دوی يې په خپله ډکه کړي. دودانۍ ټيم باید خلکو ته زبات کړي ، چې ددوی هڅې ټولې ددې لپاره دي چې په هېواد کې له لاسه تللي قوانین ، هوساینه ، سرکاري نظم او اخلاقي ارزښتونه بېرته واکمن شي.

ملي وجدان يو روښانه او ریښتیونی دریځ دی ،چې پر علمي او منطقي بنسټ ولاړ وي او د پاکو شخصیتونو له خوا رامخته کیږي ، ملي وجدان د هرې ستونزې د حللارې په ګوته کوي او په خپله د ستونزو د له منځه وړلو لپاره تر خپله وسه هڅه کوي.

ملي وجدان هغه غږدی ، چې په دیکتاتوریو کې سرکار، په فساد کې فاسدان او په جګړه کې جګړه ماران او وژونکي ورخخه ویره لري. په ټينګ باور يې ویلی شو ، چې په افغانستان کې ،که د ملي وجدان کوم ممثل ځواک رامنځته شي ، نو تر ټولو ډیر به د شلو مېلیونزانو له کرکې او ویرې سره مخامخ شي ، خو که د ټولنې د غوښتنو او پوښتنو د غه هنداره وکړای شي په خلکو کې ځانته ریښتینی نفوذ او ځای ومومي ، نو ښکاره ده چې هم به ځان وساتلای شي او هم به خپله لویه انساني دنده ترسره کړي.

دودانۍ ټیم څنګه کولای شي د ملي وجدان ممثل شي ؟

ترهرڅه وړاندې باید خپلې ټولنیزې ستونزې وپیژنو ، د ستونزو سرچینې او عوامل تشخیص کړو او دهغو دله منځه وړلو ترټولو غوره او عقلي لارې چارې هم په ګوته کړای شو. دهرې مهمې پېښې په وړاندې ښایي د لویو ګټو او دټولنې دغړیو دانساني ژوند دشرایطو دښه والي له غوښتنو سره سم غبرګون وښوولای شو او دعمل کولو ځواک رامنځته کړو. دخلکو دباور او اعتماد ترلاسه کول خورا مهمه چاره ده ، موږ د خپل ټولیز ملاتړ لپاره دخلکو راخوځولو ته اړتیا لرو ،نو هره هغه وینا ، کړنه او انګېرنه چې داسې اعتماد رامنځته کولای شي ښایي راخپل کړو او په خپله دټولنیزو اخلاقو او ریښتینولۍ پر موډلونو او بېلګو بدل شو. زه نه غواړم اخلاقي موعظه وکړم او خپلې خبرې یوازې په ( ښه کوئ ، بد مه کوئ ! ) کې راونغاړم ، بلکې غواړم دودانۍ دټیم دجوړېدو یو شمېر عملي او معنوي بنسټونه په ګوته کړم ، چې که هغو ته پام ونه شي دودانۍ یو بریالی ټیم نه شي رامنځته کیدای او ټولنه به همداسې دشلو مېلیونرانو رحم ته سر پر زنګون ناسته وي.

ددې لپاره چې دودانۍ ټیم دټولنیز وجدان ممثل شي ، باید زړورتیا او جرئت ولري او وکړای شي تر عادي خلکو یو ګام ترمخ مزل وکړي ، دلته په افغانستان کې کله کله فکر کیږي چې دستونزو تش یادول او شمارل ، دنیمګړتیاوو په ګوته کول او زورواکو ته ښکنځلې کول یا هم له یوې مخې نیوکې او شکایتونه لوی کمال دی ، حال دا چې دملي وجدان دممثلینو کار دانه دی ، ان دمظاهرو او شعارونو تر بریده مبارزه هم ځای نه شي نیولی ، دلته باید پر علمي او عملي حللارو فکر او کاروشي ، مدني اعتراضونه او اشرونه کولای شي مرسته وکړي ، خو داټول باید داوږدې او پرلپسې مبارزې وسایل وي نه موخې.

زړورتیا او جرئت ځکه اړین دی ، چې دودانۍ ټیم دروانو سیاستونو پر مخامخ سرچپه بهیر ورروانیږي ، په داسې یو عصر کې چې په سیاست کې ډیر ځواک او ډیره ګټه دټولو هڅو

اصلي موخه وي او دمارکيټ اخلاق دټولو اخلاقي ارزښتونو ځای نيولی وي. په داسې يوه دود سياست کې چې دډيرې ګټې او لاډير ځواک لپاره هر جنايت او جرم روا وي ، دا خلاقو ، معنوياتو ،ريښتينولۍ ، انساني ارزښتونو او دوګړيو دژوند دشرايطو دښه والي لپاره پرلپسې هڅې دسياسي تګلارې داصل په توګه ټاکل يو لوی جرئت او زړورتيا ده. موږ دا خلاقو دسقوط په عصر کې يو ، فساد مو دټولنيز ژوند برخه ګرځيدلې ده ، تيری او جنايت مو دژوند دسيوري په څېر مل دی ، په داسې وخت کې دملي ياټوليز وجدان تمثيل په ريښتيا چې يو لوی کار دی ، او دا کار بايد يو څوک پيل کړي او بالاخره يې پيل کړي ، نوښه به وي ، چې دودانۍ ډبرې يې همدا اوس پيل کړي او دراتلونکيو نسلونو لپاره د ملي وجدان د ځلوونکيو په توګه دخپل عصر دريښتينو اتلانو په توګه خپل نومونه دخلکو په زړونو او ذهنونو کې وځلوي.

# دوداني ټيم ، پروژې او پروسې

زما يو ښاغلی دوست دی ، چې دهېواد په اړه ښه نظريات لري ، يوځای مو په اروپاکې په يوه نړيواله غونډه کې ګډون کړی و ، هملته زماملګري وويل چې دافغانستان لپاره دا بهير ښايي ديوې پروژې په توګه نه، بلکې ديوې پروسې په توګه پرمخ ولاړ شي. هغه رېښتاويل او خبرې يې دې ته متوجه کړم ، چې ګڼې چارې دپروژوپه چوکاټ کې مخ په ورانۍ روانې دي. راځئ وګورو چې څنګه ؟

پروژه څه ده ؟

پروژه دانګريزۍ له ( Project ) څخه اخيستل شوې ده او لاتينه ريښه لري ،له دوو برخو رغېدلې کليمه ده يعنې پرو ( Pro) دوړاندې په مانه او (ject) په ځانګړې رنګ دنقشه شوې يا غورځول شوې په مانا ده. دپروژې اصطلاحي مانا : دهغولنډمهاله فعاليتونو مجموعه ده ، چې ديوټاکلي هدف لپاره دځانګړيو وسايلو په کارولو ترسره کيږي.

پروژې ( په دغې ځانګړې مانا ) دمادي اوفزيکي رغوونې اوبيا رغوونې په برخه کې دنادولتي موسسو له خوا افغانستان ته رانِنو تې ، چې زه يې په اغيزمنتيا يا نا اغيزمنتيا نه غږيږم ، خو وروسته بيا پروژوي فعاليتونه تر فزيکي او مادي جوړښتونو وراوښتې او ملي مسايلو ته يې ځان ورساوه ، په دې مانا چې د حکومت جوړونې ، ډيموکراسۍ ،دبيان آزادي ، بشري حقونو ، سياسي بنسټ جوړونې ا و ان تر سولې او پخلاينې پورې موسمي پروژې رامنځته شوې يوه موده به ښې په درز کې وچليدې او بيا به ورکې شوې ، زما ښه په ياد دي په تيرو لس دولسو کلونو کې اول دبيارغوونې پروژې پيل شوې يوشمېرموسسو په دې برخه کې کارپيل کړ او پروژې يې وچلولې ، بيا دبيان آزادۍ بازار ګرم شو ، هماغه خلک او هماغه موسسې ټولې نشراتي او تبليغاتي شوې ، انجنيران يې ژورناليستان شول او دبيان دآزادۍ پروژې يې ښې ګرمې وچلولې ، بيا چې دابازار سوړ شو دبشري حقونو وار راغی ټول ژورناليست شوي انجنيران داځل حقوقپوهان شول او دبشري حقونو پروژې يې

پیل کړلې ، تر دې وروسته د دیموکراسي ، انتخاباتو او ... پروسې پیل شوې بیا هم هماغه
څېرې او هماغه پروژې تر دې چې د مدني ټولنې مفهوم ارزښت وموند ، چې کتل دې هماغه
( حقوقپوه ، ژورنالیست ، انجنیر ... ) په دې کې هم راګرم شو او د مدني ټولنې لوحې یې پر
سر ونیولې تر دې عجیبه خویې لاداده چې اوس د سولې په پروژو کې هم دوی بوخت دي او
سرګرولو ته وخت نه لري. زموږ یې له دوی سره کار نشته ، خو درد دلته دی چې د پروژو
ماهرین په اول سر کې نوي حکومت ته هم ښه پریمانه ورننوتل او د بېسواده یا کمسواده
شلو مېلیونرانو د انحصاري سیستم باډي یې جوړه کړه ، دوی د لوستیو او ان د متخصصو
افغانانو اکټ پیل کړ او د شلو مېلیونرانو د انحصار ماشین یې چالان کړ ، له دوی څخه
د ځینو کمال یې داو ، چې په انګریزۍ او کمپیوټر پوهېدل ، نن سبا خو انګریزي او کمپیوټر
د علم لدن ځای لري ، بس چې په دې دواړو پوهېدې ، جامع الکمالات یې ، نور نو پرمخ
ځه ! دوی چې له پروژو سره رالوی شوي وو او ماهیت یې پر پروژوي کارونو ولاړ و ، ټولې
ملي پروسې ټوټه ټوټه کړې او د پروژو په چوکاټونو کې یې سره وویشلې ، په دې توګه یې
دولسواکۍ ، ودانۍ ، پرمختګ ، نظام جوړولو او لویو ملي پلان جوړولو پر تابوتونو
میخونه ټک وهل. شلو مېلیونرانو د پروژو له ماهرینو سره جوړجاړی وکړ او د فنډ ( fund )
په ویش کې ورسره شریکان شول حکومت جوړول ، سوله راوستل ، خدمات ، تولید او
هرڅه په پروژو وویشل شول او د ولس و هېواد برخلیک په وړو وړو پروژو کې مړې مړې د
شلو مېلیونرانو تر ستوني تیر شو او څه خاشاک یې د پروژو جامع الکمالات ماهرینو ته هم
ورورسېدل.

پروسه څه ده ؟

پروسه هم د انګریزۍ له ( Process ) څخه اخیستل شوې ده ، چې د پرله پسې او یو په بل
پورې تړلیو فعالیتونو هغې مجموعې ته ویل کیږي ، چې د اوږدمهاله او بنسټیزو پایلو
د ترلاسه کولو لپاره عملي کیږي.

موږ د خپلو سیاستونو او هېوادرغوونې لپاره پروسو ته اړتیا لرو ، چې په علمي او عملي بنیادونو پلان شوې وي ، ګڼ ځواکونه په کې ګډون ولري ، د پرله پسې او یو د بل د بشپړوونکیو بهیرونو په پایله کې یوې لوی او اغیزمن بدلون رامنځته کړای شي. په پروسو کې باید ټول بشري ځواک ، حکومتي او ناحکومتي بنسټونه ، نړیوالې مرستې او امکانات په بشپړه همغږۍ کې په ګډه سره کار وکړي ،چې یو د بل مرستیال او همکار وي ، نه د بېلابېلو ټاپوګانو په څېر چې یو له بله سره په بېخبرۍ کې لګیاوي او په دې هم نه پوهیږي ، چې پر ته له فنډ اخیستلو بل څه هم شته چې ویې کړي که نه ؟

پروژوي سیاست تصادفي نه دی راغلی ،بلکې د شلو مېلیونرانو د ګټو لپاره په لوی لاس دیوې پروژې په توګه جوړ شوی دی ، هغه ګډوډي او انارشي ،چې په هره برخه کې د پروژوي جوړښتونو له امله رامنځته شوې ده، د شلو مېلیونرانو لپاره یې د ټولو انحصارونو زمینه برابره کړې ده.

دودانۍ د ټیم لپاره ترټولو لوی کار دادی چې د هېواد د ژغورنې لپاره پر لویو او ملي علمي پروسو کار او فکر وکړي.

یوه بېلګه:

له ازبکستان یا بل ستان څخه د برېښنا اخیستل او تر کابله یې رالېږدول یوه پروژه ده ،چې هم یې د اخیستو په قراردادونو او هم یې د رالیږدولو په قراردادونو کې انحصار ګرو مېلیونرانو او د هغوی پروژوي خاشاک خورو ته ګټه رسیږي ، خو پر کوکچه ، کونړ ، آمو ، هېلمند یا بل سیند بند جوړول یوه پروسه ده. ولې؟ ځکه:

پر یوه ملي سیند باید د بند جوړولو بهیر له څوا ړخونو ګټور وي: لومړی برېښنا تولید کړي او بیا له بند څخه واړه او غټ نهرونه وایستل شي چې شاړې او بې اوبو زمکې خړوب کړي ، په ځینو ځایونو کې بنایې د کبانو دروزلو ډنډونه جوړ شي ، د نهرونو پر غاړو په لکونو ونې کېښودل شي او د سیند غاړې پخې شي ، کله چې د کرنې محصولات ډیر شول

دهغو دسم مصرف او یا پروسس لارې چارې باید له وخته سنجول شوي وي . په دې ټوله پروسه کې د اینرژۍ تولید ، دکرنې وده ، صنعتي تولید ته لاره هوارول ،دخلکو بوخت کېدل ( اشتغال ) ایکولوژۍ ته پام ، چاپېریال ساتنه او طبیعي ښکلایې دپایلو او لاسته راوړنو په توګه شمارلی شو ، په دې ملي پروسه کې ښایي داوبو او برېښنا ، کرنې ، فواید عامې ، اقتصاد ، چاپېریال ساتنې ، تجارت ، صنایعو وزارتونه ، پوهنتونونو ، جیودوزۍ ، لارو جوړولو او ان اطلاعات و فرهنګ بنسټونه ګډ او هماهنګه کار وکړي ، ایله به دافغانستان دخلکو په ژوند کې له یو ه اړخه بدلون راشي .

داسې پروسې هغه مهال رامنځته کېدای شي چې دپروژوي فعالیتونو او له هغو څخه دانحصارګرو مېلیونرانو دګټې اخیستنې اعتیاد ته دپای ټکی کېښودل شي او هېواد دلویو ملي پروسو دبشپړولو بهیر ته ورننوځي ، داکار دودانۍ ټیم کولای شي .

ددې چارې لپاره لوی ګامونه دادي:

دلویو ملي پرمختیایي پروسو علمي پلان جوړونه ، چې دافغانستان له شرایطو او امکاناتو سره سم عملي وي.

خلکو ته ددې پروسو وروپېژندنه ، چې دترسره کولو لپاره یې ولسي ملاتړ ترلاسه شي .

دودانۍ دټیم له خوا دپروسو دعملي کولو دځواک موندلو لپاره منظمه ملي مبارزه او هلې ځلې پیلول .

او بالاخره د مېلیونرانو قانع کول چې هم په خپله او هم یې خاشاک خواره ملاتړي ددې لویو پروسو دعملي کیدو په مرستندویانو بدل شي .

# سیاست ته د اخلاقو راستنول

د سیاست او اخلاقو تر منځ اړیکي یو ه پراخ تیوریک او علمي بحث ته اړتیا لري ، چې زه يې دلته نه را اخلم ، ددې لیکنې بحث یوازې او یوازې په همدې او سمهالي افغاني سیاست کې د اخلاقو تشه ده ، له افغاني سیاست څخه اخلاق او معنوي ارزښتونه شلو میلیونرانو شړلي دي ، دوی د هر ډول اخلاقو ځای د مارکیټ د منطق پر بنسټ د(ډیرې ګټې) سیالۍ ته ورکړی دی او په دې توګه يې خپل مافیایي انحصار ته لاره هواره کړې ده.

سیاست کول یوازې د قدرت ترلاسه کول نه دي ، بلکې له قدرت څخه د خلکو په ګټه کار اخیستل دي ، همدا اصل د شلو مېلیونرانو په انحصار کې له منځه تللی دی ، شل مېلیونران له ټولو امکاناتو او وسایلو څخه ددې لپاره ګټه اخلي چې واک ترلاسه کړي او بیا له واک څخه ددې لپاره کارو واخلي چې ځانونه په ګټه وپړسوي. دو دانۍ ټیم باید د سیاست له اوسني مفهوم څخه د غه کار اخیستنه وتوږي او اخلاق بېرته راولي.

دو دانۍ ټیم باید له خلکو سره کارو کړي ، چې لاهم دوجدان په نامه يو ځواک شته ، لاهم د خلکو د انساني ژوند د شرایطو د ښه والي لپاره د خدماتو او تولیداتو مکلفیت د سیاسي ځواک پرغاړه دی ، وزارتونه ددې لپاره نه دي ، چې يو مېلیونر اویا يې ګټیالی استازی پښه پرې واړوي او لکه لنګه غوا دې يې راولوشي ،بلکې ددې لپاره دي چې د خلکو په ژوند کې هره ورځ مثبت بدلون راولي. يو اخلاقي اصل دادی چې د ځان او خپل ژوند ترڅنګه د نورو دژوند او خیر ښېګڼې لپاره هم فکر او عمل وکړې. پر دې بنسټ په اوسمهالي سیاست کې د اخلاقو د بیرته راوستلو ساده پېژندنې ته رسیدلای شو او هغه داچې:

بد اخلاقه سیاست: دادی چې د خلکو باور ، وسایل او امکانات دواک اخیستلو او واک ساتلو لپاره وکارول شي او واک د فردي یا ډله ییزو ناولیو ګټو لپاره استخدام شي.

اخلاقي سیاست: دادی چې د خلکو په مرسته ، باور او ملګرتیا واک ترلاسه شي او واک د ټولنې د وګړیو د انساني ژوند د شرایطو د ښه والي لپاره وکارول شي.

د مارکیټ اخلاق چې غوښتنه یې (لاډیره ګټه) ده ، پر فردي اخلاقو اغیز کوي ، زړه سوی ، همدردي ، له بل سره مرسته ، خیرښېګڼه او عاطفه له منځه وړي او له بده مرغه موږ په چټکۍ سره د همداسې اخلاقي انحطاط کندې ته دورلویدو په خوا روان یو .

ټول له ستونزو شکایت کوو ، ټول پوهیږو ، چې ورځ په ورځ د سقوط خواته ځو ، خو کله چې دژغورنې ، عملي اقدام، مبارزې ، ګډ کار او د خلکو دراخوځولو خبره راشي ،نو پوښتنې راپیداشي چې ایا داهرڅه مانا لري ؟ ایا دژغورلو امکان لاهم شته ، ایا اخلاق او وجدان وجود درلودلای شي ؟ نورې پوښتنې چې راپیدا کیږي داسې وي ؛ که زه په دې برخه کې څه وکړم ،نو ګټه به مې څنګه شي ؟ د خلکو لپاره دفکر او عمل کولو لپاره به څوک څومره تنخوا راکړي ؟ ایا د خیر ښېګڼې لپاره څه کول ( هغه هم په اوسنیو شرایطو کې ) لیونتوب نه دی ؟ نو زه ورک یې کړه یو بل څوک به راپیدا شي چې داهرڅه وکړي ، زه یې څه کوم ؟

دې ټولو پوښتنو ته ځواب ورکول ، عمل ته دراداننګلو یو جرئت او ریښتینی غږ پورته کول دغه ټولنیزه تابو ماتولای شي او داکار باید دودانۍ ټیم وکړي ، داچې څنګه راځئ دلته ورته تم شو .

دودانۍ ټیم څنګه کولای شي سیاست ته بیرته اخلاق راستانه کړي ؟

لومړی باید دودانۍ ټیم پخپله دمبارزې لپاره یو داسې خپلمنځي نظام جوړکړي چې پر اخلاقو ولاړ وي نه په مارکیټي بد اخلاقۍ. په دې نظام کې باید ټولې هڅې خپلخوښې

( داوطلبانه ) وي. ټاکلي اهداف ولري او ترهرڅه مهمه داچې له خلکو سره چلند یې هم د معنوي ارزښتونو پر بنسټ وي ، د خلکو د باور او اعتماد ساتل هماغومره مهم دي لکه ګټل یې چې دي.

دوداني ډېيم فکري بنسټ بايد دنورو دژوند دشرايطو دښه کولو له لارې څخه دخپل ځان دژوند دشرايطو ښه کولو ته لاره هواروله وي. دوداني ډېيم بايد په بېوزلۍ کې دکارکولو له سخت ازموينه تېر شي او دا تابو ماته کړي ، چې پرته له بهرنيو او کورنيو مشروطو مرسته څخه سياست نه کيږي. دوداني ډېيم کولای شي خلک په دې قانع کړي ، چې په تش لاس هم معقول سياست ممکن دی ، داخلاقي سياست معيار جيب نه زړه او ماغزه دي ، که موفکر بډای و او عاطفه مو درلودله په تش جيب هم يوه انساني داعيه پرمخ بيولای شئ.

داخلاقو تمثيل داخلاقو دتدريس پرځای.

دوداني ډېيم نه ښايي په ( ښه کوه او بد مه کوه ! ) کې خپله مبارزه رالنډه کړي ، بلکې پخپله دعالي ډولنيزو اخلاقو عملي بېلګه شي او دارادې په دې کمزوري دوران کې پرخپله لويه اراده او پريکړه تکيه وکړي.

دوداني ډېيم کولای شي هرځای پردې بحث او خبرې وکړي ، چې په سياست کې اخلاقي انحطاط څنګه او ولې راپيښ شوی دی او خلک يې دله منځه وړلو لپاره څه وړانديزونه لري ؟

دوداني ډېيم ښايي داخلاقي سياست دتبليغ لپاره ډول وسايل وکاروي او دخلکو پام دې ته راواړوي چې دډولو دژوند ښه کېدل دهر( يوه ) دژوند دښه کېدو لامل ګرځي او هيڅکله له نامشروع لارې څخه ديوه دژوند ښه کېدل دډولو دژوند دښه کولو په مانا نه شي ګڼل کيدای. دوداني ډېيم کولای شي دهېواد په لنډ تاريخ کې دهغو بريااليو ملي نهضتونو بېلګې خلکو ته ورو پيژني ،چې له استبداد او انحصار څخه دخلاصون لپاره يې په خوراسختو شرايطو کې مبارزه کړې وه. همداراز دنړۍ په سطحه زموږ شرايطو ته ورته شرايط ، دخلکو اراده ، مبارزې او برياليتوبونه معرفي کړي.

په دې برخه کې اساسي پوښتنه داده چې له سياست څخه اخلاق چا او ولې شړلي دی ؟او که دا حالت دوام وکړي ، څه پېښېدای شي ؟

دودانۍ ټیم ښایي دریښتینو اتلانو دپېژندنې په مرسته راروان نسل په دې باوري کړي ، چې یوازې ځانته ګټه رسول، ځواک او دظلم کولو توان له سرې څخه اتل نه شي جوړولای ، بلکې داتل کیدو معیار نورو ته دخه کولو کمال دی او دنورو دانساني ژوند دښه کولو لپاره هلې ځلې داتلولۍ لویه نښه ده .

دودانۍ ټیم ښایي دشلو مېلیونرانو له مخ څخه ټول هغه دروغجن نقابونه لرې کړي ، چې دوی یې ترشا ځانونه پټ کړي دي. دادخلکو حق دی پوه شي ، چې مکار مېلیونران ددوی له باورونو ، اړتیاوو او کمزورتیاوو څخه څه ډول کار اخلي او داټول دخپلو ګټو دډیریدلو لپاره لګوي.

اخلاقي سیاست ددې هېواد دهر احتیاج انسان په ژوند کې دمثبت تغیر راوستل دي ، یوازې شعارونه او دچا په حال دروغجنې اوښکې تویول هیڅ هم نه شي بدلولای. اخلاق د سمو باورونو پر بنسټ دسمو اعمالو تر سره کول دي ، نو دهمدې منطق پر بنیاد سیاست ته داخلاقو دراستنولو ځواکونه دسمو افکارو ،باورونو او اعمالو له لارې خپل هدف ته رسیدلای شي.

# افغانستان اودسیاسي اکثریت تشه

سیاسي اکثریتونه یا قومی-ژبني-مذهبي وي یا فکري ( ګوندي ) او یاهم اقتصادي. کېدای شي نورډولونه هم ولري ، خو هغه ډولونه یې په دې لیکنه کې ډیر د پام وړنه دي ، بلکې دالیکنه غواړي دافغانستان له یوې داسې نیمګړتیا څخه پرده واړوي ، چې دراون کړکېچ یوه لویه برخه ریښې په کې خښې دي ، دانیمګړتیا په افغانستان کې د سیاسي ارادې دګډې کارونې لپاره دیوه اکثریت تشه ده.

په افغانستان کې ولې سیاسي اکثریت نه شته ؟

له قومي پلوه دافغانستان لوی اکثریت ( پښتانه ) له بده مرغه سیاسي اکثریت نه دي ، ځکه یوه برخه یې غرونو ته تمبول شوي او دداسې څه لپاره جنګول کیږي ، چې دافغانستان د سیاسي راتلونکي ، جوړولو او بیا پخپله ددوی دانساني ژوند دشرایطو دښه والي لپاره په درد نه لګیږي. نړیوالې سروې ګانې ښيي ، چې تر ټولو ډیر ټوپکونه د پښتنو په سیمو کې ډزیدلي او تر ټولو ډیر یې پښتانه وژلي دي.

یوه لویه برخه پښتانه په کلیو او لرې پرتو سیمو کې دبېوزلۍ ، بېخبرۍ او محرومیت ژوند تیروي له ښوونځیو او پوهنځیو څخه لرې پاتې دي ، له مدني حقونو بې برخې ساتل شوي او لویه برخه جغرافیه یې تر جګړې او وژنو لاندې ده. ځکه ،نو ویلای شو چې د سیاستونو پر ټاکلو او تګلوري یې اغیز په هېڅ شمار دی.

په ښارونو کې لږ شمېر سوداګر ، کسبه کار ، لوستي او په اداري چارو بوخت پښتانه لاندینۍ ستونزې لري:

یا د سیاسي پېښنو په اړه بېتفاوته دي او یاهم دپېښنو په وړاندې احساساتي فکر و عمل کوي ، دمعقول سیاست پر لاره روان پښتانه ډیر لږ او تیت وپرک دي.

تر ټولو ډېر همدا پښتانه دي ، چې د خپل بر خلیک د ټاکلو په اړه سره ویشل شوي دي ، د ایډیولوژیکې ، نظریاتي او پخوانۍ تړلتیا له کبله اوس هم په مجاهد ، کمونیست، پرچمي ، خلقي ، افغانملتي ،حزبی ، جمعیتي ، طالب او څه وخه سره ویشلي دي ، ددوی په وړاندې نورو لړه کیو په پوره هوښیارۍ تر خپلو منځونو د اپولې نړولې دي او په دې توګه یې له قومي پلوه د سیاسي اکثریت موازنه بدله کړې ده . پښتانه ګڼې نورې سیاسي ستونزې هم لري ، ملي مشري یې رامنځته نه شوه کړای ، داسې سیاسي ادرس لاهم نه لري ، چې په ملي او نړیوالو سیاسي معادلو او تعاملاتو کې ددوی استازیتوب وکړای شي ، د سرکار په باډۍ کې یې ونډه ډیره کمزورې او پاشلې ده ، پښتانه اداري چارواکي یوازې افراد دي او لاهم کومه هماهنګه ملي ټولګه نه لري ، ځکه خو په دې ډګر کې هم میدان ورڅخه نورو ګټلی دی .

افغانستان له فکري- ګوندي پلوه هم سیاسي اکثریت نه لري . د ګوندونو شمېر لسګونو ته رسیږي ، خو اغیز یې پر سیاسي بهیر هېڅ دی . هغه پخوانۍ پوځي ډلې چې اوس د حاکمو سیاسي ګوندونو اکټ کوي ، فکري محور نه لري او ټول سیاسي پروګرام یې دادی چې څنګه د سرکار په باډۍ کې خپله ونډه ډیره کړي ، ډیرې څوکۍ راخپلې کړي ، له څوکیو څخه پیسې ، وسلې او زمکې وګټي او بیا ددې ګټو یوه برخه ببرته دواک د ساتلو لپاره وکاروي، په دې او هغه نامه له ګاونډیو یا لویو قدرتونو څخه ونډه ولوټي او خپل پوځي وهم ورعب ډیر کړي . د سیاسي ادبیاتو له مخې دوی ته ګوندونه نه شو ویلای ، بلکې انحصاري ډلګۍ دي چې ځواک او واک یې یرغمل کړي دي . دغه ډلګۍ د خپل کاذب نفوذ د ساتلو لپاره یا پرخپلو پخوانیو ایډیولوژیکو جګړو تکیه کوي ، یا قومي ، سیمه ییز ، ژبني او مذهبي اختلافات ددې لپاره ژوندي ساتي ، چې دوی یې د ګټو د ساتونکیو په توګه خپل مشرتوب او کاذب استازیتوب ته دوام ورکړي .

داسې فکري ، نظریاتي او سیاسي- ملي محور نشته چې ګڼ خلک پرې راټول شي او دیوه ملي معقول نهضت په جوړولو سره یو فکري- ګوندي سیاسي اکثریت جوړ کړای شي ، چې

دافغانانو دانساني ژوند دشرايطو دښه والي لپاره علمي ـ عملي پروګرام ولري او دهغه پربنسټ په ديموکراتيکه بڼه واک راخپل کړي.

افغانستان له اقتصادي پلوه هم سياسي اکثريت نه لري. شل مېليونران له ځواک ، واک ، وسلو او پېسو څخه پرسبدلي دي او هرڅه يې انحصار کړي ، دټول هېواد دپانګې اتيا په سلو کې هرڅه دهمدې شلو نه تر پنځوسو مېليونرانو په واک کې دي ، دمنځني اقتصاد خاوندانو ، منځنيو چارواکيو ، زمکوالو او وړو سوداګرو شمېر چې په پوره سخاوت ډېر وګڼو ،نو دټول نفوس لس سلنه هم نه جوړوي ، په دې توګه وينو چې دبېوزلانو ، محرومو ، وږيو ، وزګارو يو لوی انساني اکثريت هاخوا پاتې کيږي ، چې له بده مرغه سياسي اکثريت نه دی ، ځکه خپله سياسي اراده نه شي کارولای او دوضعيت پر بدلون هېڅ اغيزه نه لري.

راځئ وګورو ، چې په ملي سطحه د سياسي اکثريت داسې تشه نادودې راپېښولای شي، بلکې راپېښې کړې يې دي ؟

تر هرڅه وړاندې د يوه سياسي اکثريت له ارادې پرته ،يو ملي او خدمتګاره حکومت نه شي رامنځته کيدای. هر هغه حاکميت چې ديوه لوی سياسي اکثريت ملاتړ له ځانه سره ونه لري، نو يا کمزوری ،مصلحت غوښتونکی ، لړزانده او بې ارادې وي او يا هم ډېر ژر په يوه استبدادي جوړښت بدليږي.

دوهمه ستونزه داده چې پر وړو وړوسياسي ټاپوګانو ويشلی ولس دبهرنيانو له لاسوهنو څخه نه شي خلاصيدای ، همدا اوس ګاونډيان او هرهغه هېواد چې دخپلو ګټولپاره په افغانستان کې لاسوهنې کوي ، دوړو وړو سياسي ډلګيو پر اخيستلو او پلورلو لګيادي ، وړې او ويشل شوې سياسي ډلې ددې لپاره چې ځان وساتلای شي ، دبهرنيانو دام ته په اسانه ورلويږي ، د سياسي اکثريت نشتوالي ګاونډيو ته جرئت ورکړی ، چې دلته لسګونه

تلويزيونونه ، راډيوګانې ، اخبارونه او دخپلو ګټو ساتندويه کاذب شخصيتونه او ډلې وګوماري او ترستوني پورې دافغانستان پر ګټو ورننوځي.

دريېمه ستونزه داده چې دهر ملي کړکېچ ( بحران ) پرمهال ځوان نسل نه پوهيږي ، چا ته ورشي او له چا څخه له کړکېچه دوتلو لار وپوښتي ، همدا اوس که موږ پينځه مېليونه ځوان کادرونه ولرو چې افغانستان له اوسني کړکېچه را ايستلای شي ، نو پوښتنه دلته ده چې دوی چا ته ورشي او په کوم سياسي اکثريت پسې ودريږي؟

څلورمه ستونزه دا ده چې کوچنۍ ډلې دخپلو هويتي ارزښتونو ، په ناطبيعي بڼه، دلويولو هڅه کوي او غواړي په دې توګه له ملي هويت څخه ووځي ، دملي هويت او ارزښتونو دبنسټونو له کمزورتيا سره ملت کمزوری کيږي او په دې توګه ددې زمينه له منځه ځي ، چې هيڅکله هم سياسي اکثريت رامنځته نه شي.

دسياسي اکثريت تشه دخدماتو ، طرحو او عمل په وړاندې د راييو دورکولو فرهنګ له منځه وړي او دپيسو ، وعدو او ډارولو په وړاندې دراييې دورکولو ټوليز عادت رامنځته کوي ، تر دې وروسته خلک فکر کوي ،چې ديموکراسي زورورو ، پيسووالا او ثبات ماتوونکيو ته دراييې ورکولو په مانا ده.

دې ټولو ته په کتلو سره د ټولنپوهنې او سياستپوهنې له نظره موږ همدا اوس دسياسي مشروع اکثريت د تشې په تياره کنده کې دسقوط په حال کې يو.

که ژر تر ژره دملي ګټو او دافغانانو دانساني ژوند دشرايطو دښه والي پر محور يو سياسي اکثريت رامنځته نه شي او داهېواد له دې سقوط څخه ونه ژغوري ، نو خدای دې مل شي دوطن او دملګرو ...